جاوید احمد غامدی

# الاسلام

ژباړن:
شهید عبدالغفور پیروز

المورد
د علم او څېړني اداره

# الاسلام

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

جاويد احمد غامدي

# الاسلام

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

ژباړن:

شهيد مولانا عبدالغفور پېروز

المورد

د علم او څېړنې اداره

"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

تول حقوق خوندي دي

خپرندوی: المورد

لومړی چاپ: ۲۰۱۸

بیه:

: ISBN 978-969-681-014-8

Address: Post Box ۱۵۸۵, Lahore Pakistan.

Website: www.al-mawrid.org

Email: info@al-mawrid.org, info@brain.net.pk

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# فهرست

حق دين 9

## ـــ الحكمة ـــ

ايمانيات 21 ـــــــ اخلاقيات 54

## ـــ الكتاب ـــ

د عباداتو قانون 83 ـــ د ټولنې قانون 114

د سياست قانون 138 ـــ مالي قانون 142 ـــ د دعوت قانون 150

د جهاد قانون 157 ـــ حدود او تعزيرات 163

خوراک او څښناک 171 ـــ رواجونه او اداب 174

قسم او د هغه کفاره 176

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# سریزه

د الله په نزد دین صرف اسلام دی، ما چي دا دین په څه ډول درک کړی په خپل کتاب میزان کي مي بیان کړی دی. دا کتاب د هماغه لنډیز دی او دلته د همدې کتاب مضامین له علمي بحثونو او دلایلو پرته په ساده طریقه بیان شوي دي.

د دین د بیان او تشریح په لړ کي چي تر دې مهاله څه بیان شوي یا لیکل شوي هغه د امام امین احسن اصلاحي د برکتناکې روزنې نتیجه ده، له همدې کبله د نورو ټولو کتابونو په څېر زما دا کتاب هم د ده په نوم دی:

طبع تو داد سر خط مشق سخن بما
گویي برات نور زخاور گرفته ایم

جاوید

المورد، لاهور

۲۵/ دسمبر / ۲۰۰۷

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org
"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بسم الله الرحمن الرحيم

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# حق دین

دین د الله هغه هدایت دی چي اول یې د انسان په فطرت کي ځای پر ځای کړی او تر هغه وروسته یې له ټولو ضروري تفصیلاتو سره انسانانو ته د خپلو رسولانو په واسطه رسولی دی. د دې سلسلې اخیري پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم دی، له همدې وجې نور د دین یوازینی ماخذ د رسول الله لوړ شخصیت دی او اوس هماغه شی دین دی چي رسول الله په خپل قول، فعل، تقریر او تصویب * دین بللی وي.

له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دا دین د ده د صحابه وو په اجماع ** او قولي و عملي تواتر *** را نقل شو چي تر موږ پوري په دې دوو شکلونو را رسېدلی دی:

١) قرآن کریم ٢) سنت

قرآن کریم هغه کتاب دی چي الله پر خپل اخیري پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم نازل کړی او له خپل نزول څخه وروسته تر ننه د

---

* د دې معنا دا ده چي یو شی د دین په ډول د ده مخته شوی وي او ده ور څخه منعه نه وي کړې.

** یعني له څه اختلاف پرته په مکمل اتفاق سره.

*** یعني له څه پرې کېدو پرته نسل پر نسل د زده کړې، لیکنې، بیان او عمل په وسیله.



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مسلمانانو په منځ کي د هغوی له خوا په دې صراحت سره موجود دی چي همدا کتاب پر محمد صلی الله علیه وسلم نازل شوی وو او د ده صحابه وو په خپله اجماع او قولي تواتر له پوره ساتنې سره بې له هر ډول بدلېدو دنیا ته رسولی دی.

سنت د ابراهیمي دین هغه سلسله ده چي رسول الله صلی الله علیه وسلم تر نوي والي او اصلاح وروسته * او په هغې کي له یو څه زیاتونو سره خپلو پیروانو ته د دین په ډول ور پرېښې دي.

د هغه او قرآن ثبوت یو رقم دی. څرنګه چي قرآن کریم د صحابه وو په اجماع او قولي تواتر را رسېدلی، سنت هم هغسي د دوی په اجماع او عملي تواتر را رسېدلي دي او د قرآن په شان هر وخت د مسلمانانو په اجماع ثابتېږي.

که د دې دین حقیقت په یوه لفظ کي بیان شي نو د قرآن په وینا د الله عبادت دی، چي معنا یې ده عاجزي او خاکساري. که له دې شي سره د الله سمه پېژندنه یو ځای شي نو له ډېري مینې او ویري سره د الله په مخ کي تر اخیري اندازې د سر ټیټولو شکل غوره کوي چي دا په حقیقت کي یو باطني حالت دی. پر الله توکل، هغه ته تسلیمېدل او رضا د دې حالت باطني شکلونه دي. د انسان په ظاهري وجود کي دا

---

* یعني څه چي ختم شوي وو د هغو تر تازه کولو او په څه کي چي غلطي وه د هغې تر سمولو وروسته.



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

شیان د عبادت په شکل یعني رکوع، سجده، حمد و تسبیح، دعا، زاریو او نذر په شکل ښکاره کېږي. څرنګه چي انسان په دې دنیا کي خپل یو وجود لري په همدې وجه دا له خپل ظهور څخه مختته ځي او د انسان له دې عملي وجود سره تعلق پیدا کوي چي له عبادت سره اطاعت هم یو ځای کېږي او په دې وخت کي له انسان څخه غواړي چي په ظاهر او باطن دواړو کي د خدای بندګي وکړي.

د الله او بنده تر منځ د عبد او معبود د دې تعلق لپاره چي کله دا عبادت خپل اساسات ټاکي، مراسم معلوموي او په دنیا کي د دې تعلق د غوښتنو پوره کولو لپاره حدود او قیود ټاکي نو د قرآن په ژبه ور څخه په دین تعبیر کېږي. الله چي د خپلو رسولانو په واسطه انسانانو ته د دې کوم شکل بیان کړی قرآن هغه دین الحق بولي او په دې باره کي ورته هدایت کوي چي هغه په سمه طریقه او خپل ټول ژوند کي عملي کړي او هیڅ اختلاف پکي ونه کړي. د خدای په دې دین کي چي د همدې عبادت لپاره د ایمان او اخلاقو کوم اساسات بیان شوي قرآن هغه الحکمت او مراسم و طریقې یې الکتاب بولي. د دې لپاره یو بل لفظ شریعت هم دی او هغه معنا لري چي موږ یې د قانون په لفظ بیانوو.

الحکمت همېشه یو دی مګر شریعت په انساني تمدن کي د بدلیدو او تغییر له وجې همیشه مختلف پاتي شوی. د اسماني کتابونو له مطالعې معلومېږي چي په تورات کي تر ډېره شریعت او په



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

انجيل کي حکمت بيان شوی دی. زبور د همدې حکمت لپاره د الله د لويــوالي راز دی او قــرآن د دې دواړو لپـــاره د يـــوه جــامع کتـــاب او وړوونکي او زيري ورکوونکې صحيفې په ډول نازل شوی دی.

د الحکمت لفظ چي د کومو مسايلو لپاره انتخاب شوی هغه پـه عمومي ډول دوه قسمه دي يو د ايمان مسايل او بل د اخلاقو.

په الکتاب کي چي کوم مسايل بيان شوي هغه دادي:

۱) د عباداتو قـانون ۲) د ټـولنې قـانون ۳) د سياسـت قـانون ۴) مـالي قـانون ۵) د دعـوت قـانون ۶) د جهـاد قـانون ۷) حـدود او تعزيـرات ۸) خـوراک او څښـاک ۹) مراسـم او اداب ۱۰) قسـم او د هغه کفاره

همـدا ټـول ديـن دی او د خـدای کـوم پيـغمبر چي لـه دې ديـن سره راغلی هغه ته نبي ويل کېږي، له قرآن څخه ښکاري چي پـه دوی کـي ځينو له نبوت سره د رسالت وظيفه هم درلوده.

نبـوت دادی چـي پـه انسـانانو کـي يـو چـا تـه د خـدای لـه خـوا وحـې وشي، دی يې خلکو ته بيان کړي، منونکو ته يې په قيامت کـي د ښـه انجام خبر ورکـړي او نـه منونکي يـې لـه بد انجام څخه ووېروي، قـرآن همدې ته انذار او بشارت وايي.

رسالت دادی چي يو نبي د خپل قـوم لپـاره د خدای د داسـي قضـا پـه ډول راشي چي که يې هغـوی دروغجن وبولي نو د دوی پـه اړه به پـه همـدې دنيـا کي د خدای فيصله پرې نافذېږي او حق به عملاً غلبه پيدا کوي.



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د دې شکل داسي وي چي الله تعالی خپل رسولان د جزا او سزا د ښودلو لپاره انتخابوي او بيا تر قيامت وړاندي د دوی په وسيله په همدې دنيا کي يو وړوکی قيامت راولي. دوی ته ويل کيږي چي که له خدای سره پر خپله کړې وعده ټينګ پاتي شي نو جزا به يې ورکړي او که مخالفت وکړي نو په همدې دنيا کي به يې سزا ووينې. نتيجه يې دا وي چي د هغوی وجود د خلکو لپاره د خدای يوه نښه ګرزي او ګواکي خدای له دوی سره پر ځمکه ګرزي را ګرزي او د عدالت په کولو يې ښاري. له دې سره يو ځای هغوی ته امر کيږي چي دوی کوم حق په خپلو سترګو ليدلی د هغه تبليغ وکړي او د الله هدايت له څه کمبوت او زيادت پرته په مکمل باور سره خلکو ته ورسوي. قرآن همدې ته شهادت وايي، دا شهادت چي کله پوره کيږي نو په دنيا او اخرت دواړو کي د الله تعالی د فيصلې بنياد ګرزي. الله دې رسولانو ته غلبه ورکوي او پر نه منونکو يې خپل عذاب نازلوي.

د شهادت دا مسئوليت پر رسولانو سربيره د ابراهيم عليه السلام اولادې ته هم ورکول شوی، قرآن له همدې وجې دوی د خدای د رسول او خپلو بندګانو تر منځ يو درميانه تنظيم بللی او ويلي يې دي چي دوی د دې مسئوليت لپاره داسي انتخاب شوي دي لکه څرنګه چي الله په انسانانو کي ځيني کسان د نبوت او رسالت لپاره انتخابوي.

الله عموما خپلو نبيانو او رسولانو ته کتابونه هم ورکړي دي، په قرآن کي د هغو د نازليدو مقصد دا بيان شوی چي د حق او باطل تر منځ



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

يو ميزان شي چي د هغو په واسطه خلک د خپلو اختلافاتو فيصله وکړي او د حق په معامله کي انصاف عملي کړي.

د نبوت او رسالت دا سلسله له ادم عليه السلام څخه شروع او پر محمد صلى الله عليه وسلم ختمه شوې ده، د ده تر وفات وروسته د وحې او الهام دروازه د تل لپاره بنده شوې او نبوت ختم شوى دى. نور به پر دين د خلکو د ټينګ ساتلو لپاره د تبليغ مسئوليت تر قيامته د دې امت علماء ترسره کوي.

د دې دين نوم اسلام دى او د هغه په هکله الله په خپل کتاب کي ويلي چي هيڅکله به له خلکو څخه له دې پرته بل دين ونه مني. د اسلام لفظ چي په څه ډول د ټول دين لپاره استعمالېږي همدارنګه ځيني وختونه د دين ظاهر هم په اسلام سره يادېږي، د خپل ظاهر له مخې د دې پنځو شيانو نوم دى:

۱) د دې شاهدي ورکول چي له الله پرته بل معبود نه شته او محمد صلى الله عليه وسلم د هغه رسول دى. ۲) د لمانځه کول ۳) د زکات ورکول ۴) د رمضان روژې نيول ۵) د بيت الله حج کول.

د دين باطن ايمان دى، په قرآن کي چي د هغه کوم بيان شوى د هغه له مخې دا هم د دې پنځو شيانو نوم دى: ۱) پر الله ايمان ۲) پر ملايکو ايمان ۳) پر نبيانو ايمان ۴) پر کتابو ايمان ۵) پر اخرت ايمان.



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ایمان چې کله په سم ډول زړه ته کښته شي او هلته ښه ځای ونیسي نو له خپل وجود څخه دوه شیان غواړي یو نېک عمل، دویم د حق او صبر وصیت.

له نېک عمل څخه مراد هر هغه کار دی چې د ښو اخلاقو په نتیجه کي را پیدا کېږي، د دې ټول اساسات په عقل او فطرت کي ثابت دي او د خدای شریعت انسانانو ته د همدې عمل لارښوونه کوي. د حق او صبر وصیت په خپل شاوخوا کي یو بل ته د حق او پر حق د ټینګېدو نصیحت کول دي، قرآن یې امر بالمعروف او نهی عن المنکر هم بولي یعني کوم شیان چې د عقل او فطرت له مخې ښه وي په خپل شاوخوا کي یې خلکو ته د کولو نصیحت وشي او څه چې بد وي له هغو راوګرزول شي. په عامو حالاتو کي د ایمان غوښتني همدا دي، مګر انسان چې په کومه دنیا کي اوسېږي او هلته پر ده کوم حالات راتلای شي نو پر دې سربېره درې نوري تقاضاوې هم پیدا کېږي: یو هجرت، بل نصرت، بل د انصاف کول.

که مومن بنده په کوم ځای کي د خپل رب عبادت نه شي کولای او د دین له وجې زورول کېږي ان خپل اسلام نه شي ښکاره کولای، نو د ده ایمان ور څخه غوښتنه کوي چې د هغه ځای په پرېښودو یو داسي ځای ته ولاړ شي چې هلته په ښکاره خپل دین وکړای شي. همدې ته قرآن هجرت وایي او کله چې رسول هجرت ته دعوت



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وکړي نو په داسي حالت کي هجرت نه کوونکو ته يې د دوزخ عذاب بيان کړی دی.

همدارنګه که ددين د خپريدو او ساتني لپاره کوم اقدام اخيستلو ته ضرورت وي نو د ايمان تقاضا داده چي په ځان او مال سره د دين مرسته وشي، قرآن همدې ته د خدای نصرت وايي او د هغه غوښتنه داده چي که کوم وخت د ايمان دا تقاضا موجوده شي نو بايد د مومن بنده لپاره په دنيا کي تر دې بل هيڅ شی محبوب نه وي.

که په دې دنيا کي د انسان احساسات، حسد، ګټې او خواهشات د دين او دنيا په معامله کي د انصاف له لارې د هغه اوښتل وغواړي نو همدا ايمان تقاضا کوي چي بايد مومن بنده نه يوازي پر حق او انصاف ټينګ شي بلکي که د شاهدۍ غوښتنه ترې وکړي نو د خپل سر په بيه يې دا غوښتنه پوره کړي، حق ووايي، حق ته تسليم شي، انصاف وکړي، د انصاف شاهدي ورکړي او په خپله عقيده و عمل کي هيڅکله له انصاف پرته بل شی ونه مني. د دې لپاره قرآن د قيام بالقسط تعبير غوره کړی دی.

په قرآن کي چي د دين کوم مقصد بيان شوی هغه تزکيه ده، معنا يې داده چي د انسان انفرادي او اجتماعي ژوند له بديو پاک شي او فکر و عمل يې اصلاح شي. په قرآن کي دا خبره ډېر ځايونه بيان شوې چي د انسان مقصد د جنت پاچاهي ده او د کاميابۍ دې مقام ته د رسېدو ضمانت د هغو کسانو لپاره دی چي په دې دنيا کي خپل ځان اصلاح



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کړي ځکه نو په دين کي اخيري مقصد د ځان اصلاح کول دي، د الله نبيان د همدې لپاره راغلل او ټول دين د همدې مقصد د تر لاسه کولو او دې هدف ته د رسېدو لپاره د انسان د هدايت په مقصد نازل شوی دی.

د دې دين منونکي چې بايد په هغه د عمل لپاره کومه طريقه اختيار کړي هغه احسان دی، د احسان معنا ده يو شی په ښه طريقه عملي کول. شکل يې دادی چې انسان د الله بندګي په داسي طريقه وکړي لکه دی چې يېويني ځکه که دی الله نه ويني نو الله خو دی ويني.



www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org


"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# اولہ حصہ

## — الحکمۃ —

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(۱)

# ایمانیات

ایمان یو دیني لفظ دی، که یو شی د زړه له پوره باور سره ومنل شي نو ایمان بلل کېږي چي اصل یې پر خدای ایمان دی. که انسان خپل پروردګار په داسي ډول ومني چي د منلو او رضا په اخیري درجه خپل زړه او دماغ هغه ته وسپاري نو د قرآن په وینا هغه مومن دی. د ایمان د همدې حقیقت له وجې قرآن غوښتنه کوي چي باید د انسان قول او عمل هم پر دې شاهد وي ځکه نو هره نېکي د ایمان خاصه او د مومنانو لازمي صفت بولي.

په دې کي شک نه شته چي د قانون له مخې هر هغه څوک مومن دی چي په ژبه د اسلام اقرار کوي، د هغه دا ایمان کم او زیات هم نه شي بلل کېدای مګر تر کومه ځایه چي په حقیقي ایمان پوري تعلق لري نو هغه هیڅکله یو وچ شی نه دی. د الله په ذکر، د هغه د ایاتونو په تلاوت او په خپل وجود و شاخوا کي د هغه د علامو په لیدو زیاتېږي، قرآن دغه ایمان د یوې داسي ونې په شان بللی چي ریښې یې د ځمکې بېخ ته رسېدلې وي او ښاخونه یې پورته په هوا کي غوړېدلي وي.

د ایمان کمبوت هم داسي دی، که انسان د خپل ښه علم او نېک عمل په واسطه د هغه د زیاتېدو پر ځای د ایمان د تقاضاوو مخالفت



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

شروع کړي نو بیا کمېږي، بلکي په ځینو حالاتو کي بېخي ختمېږي.

له دې معلومه شوه چي ایمان او عمل دواړه سره لازم دي، په همدې وجه چي په څه ډول له ایمان سره عمل ضروري دی همدغسي له عمل سره ایمان هم ضروري دی. قرآن هر ځای د نجات لپاره ایمان اول شرط بللی دی، ایمان د دې پنځو شیانو نوم دی: ۱) پر الله ایمان ۲) پر ملایکو ایمان ۳) پر نبیانو ایمان ۴) پر کتابو ایمان ۵) پر اخرت ایمان.

## پر الله تعالی ایمان

الله تعالی د هغه ذات نوم دی چي د ځمکې، اسمان او ټولو مخلوقاتو خالق دی. دا نوم له اوله سره د دنیا درب لپاره خاص شوی دی، تر رسول الله مخکي د جاهلیت عربو هم په همدې معنا کاراوی. په عربو کي چي د ابراهیمي دین کوم شیان دوی ته په میراث ور پاتي وو دا لفظ هم له هغو څخه دی.

د دې ذات د منلو اقرار یو داسي شی دی چي له ازله د انسان په فطرت کي اخښل شوی دی، د قرآن وینا ده چي دا معامله د یوې وعدې او معاهدې په شکل وشوه. قرآن کریم دا وعده د یوې تیري شوې پېښي په ډول بیانوي، انسان دنیا ته د امتحان لپاره را لېږل شوی دی ځکه نو هغه پېښه د ده له حافظې څخه ایستل شوې مګر حقیقت یې د ده پر زړه لیکل شوی او په دماغ کي یې موجود دی چي هیڅ شی یې



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ختمولاى نه شي. كه په شاوخوا كي كوم شى مانع نه وي او انسان ته هغه وعده وريـاده شي نو د هغې خـوا تـه داسي پـه منډه ورځـي لكـه ماشوم خپلې مور ته. سره له دې چي ده هيڅكله ځان د مور له نس څخه پر راوتلو نه دى ليدلى او په داسي يقين سره منډه ور وهي لكه له پخوا چي يې پېژني، دى پوهېږي چي د خداى د منلو دا اقرار د ده په فطرت كي د هغې غوښتني ځواب دى چي په ده كي دننه موجوده ده. كله چي ده هغه پيدا كړ نو د ده د باطن ټولو تقاضاوو هم د خپل ځان لپاره ځاى وموند، قرآن كريم وايي چي د انساني نفس دا شاهدي داسي يقيني ده چي تر كومه ځايه د الله په ربوبيت پوري تعلق لري هر سړى بـه صـرف د همـدې شـاهدۍ لـه وجـې د الله پـه حضـور كـي ځـواب وركوي.

د انسان باطن ته له دې هدايت سره دا استعداد هم وركول شوى چي دى په خپلو ظاهري حواسو څه ويني، اوري او احساسوي يې له هغو څخه ځيني داسي شيان زده كړي چي پـه حواسو نه معلومېږي چي يو ساده مثال يې د جاذبې قانون ( Law of gravitation ) دى. كله چي منه يا سيب له ونې راجلا شي نو پر ځمكه لوېږي، كه دېره له ځمكې پورتـه كوو نو طاقت تـه ضرورت لري. له زينو څخه تـر را كښته كېدو پر هغو ختل سخت وي او سپوږمۍ و ستوري پـه اسمان كي حركت كوي. انسان له پېړيو دا شيان ليدل، ان نيوټن يوه ورځ په دې پوه شو چي دا هر څه د جاذبې د قانون كارنامه ده، دا قانون پـه خپله


"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

نه لیدل کېږي مګر نن یې ټوله دنیا د یوه ساینسي په حقیقت په ډول منې ځکه چي دانظریه له ټولو معلومو حقایقو سره مناسبه ده. په دې سره د ټولو لیدل کېدونکو شیانو توجیه کېږي او تر اوسه بله کومه داسي نظریه نه شته چي له حقایقو سره دومره مناسبه وي.

ښکاره ده چي دا له احساس کېدونکو شیانو څخه د یوه نه احساس کېدونکي شي معلومول دي، کله چي انسان د خپل دې استعداد په کارولو شاوخوا غوړېدلي کاینات مطالعه کوي نو د هغه دا مطالعه هم د ده په باطن کي د دې پټ حقیقت شاهدي ورکوي. دی ویني چي د دې دنیا هر شی د ښایسته تخلیق یوه معجزه ده، هر څه یو ډېر لوی مقصد لري او بېخي ډېر پام ورته شوی، حکمت، تدبیر، ګټه او حیرانوونکی نظم و ترتیب لري، په هغو کي بې جوړې میخانیکي او ریاضیاتي قوانین شته او له دې پرته یې بله توجیه نه شي کېدای چي دا هر څه یو خالق لري او خالق یې کوم ړوند او ګونګ طاقت نه دی بلکي یو نامحدود ذهن دی، ځکه که طاقت د یوه علیم او حکیم ذات له خوا نه وي نو باید مطلق مجبوریت وي مګر حقیقت داسي نه دی بلکي په دې کي ډېر مناسبت شته، بې کچې توافق لري او بې جوړې ګټې و عجیب و غریب تغیرات پیدا کوي چي هیڅکله یې کوم ړوند او ګونګ طاقت نه شي پیدا کولای.

که څه هم دا شواهد کافي وو مګر پر خلکو د دلیل پوره کولو لپاره الله یو بل کار دا وکړ چي انسانیت یې په یو داسي چا را شروع کړ چي د



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

خدای خبرې یې اوریدلې وې، د هغه فرشتې یې لیدلې وې او د مستقیمې لیدنې په شاهدي ورکولو له دنیا څخه ولاړی چې د هغه دا علم نسل پر نسل د ده اولاد ته نقل شي او د خدای تصور د انساني ژوند په هیڅ دور، د ځمکې په هیڅ حصه، هیڅ کلي، هیڅ نسل او نژاد کې هیڅکله نا اشنا ونه ګرزي.

صرف همدومره کیسه نه ده، بلکې دنیا ته د ادم او حوا د اولنیو انسانانو له را لیږلو وروسته تریوې مودې داسې هم کېدل چې که انسان په همدې دنیا کې د خپل ایمان او عمل په قبلیدو او نه قبلیدو ځان خبرول غواړي نو کولای یې شي.

دا ګواکې په هغه زمانه کې د هر چا لپاره د تجربې او مشاهدې درجې ته د حقیقت رسول وو چې له خپل مور و پلار سره دی هم په دې شاهدي کې شامل شي. د دې شکل دا وو چې خلګو به د خدای حضور ته قرباني وړاندي کوله، بیا به له اسمانه یو اور راغی او د قبلیدو د علامې په ډول به یې هغه وسوځاوه.

له دې څخه معلومه شوه چې د خدای وجود یو ښکاره حقیقت دی چې تصور یې انسانانو ته له خپلو پلرونو ور پاتي دی او نفس و ماده دواړه یې په خپل وجود سره شاهدي ورکوي، مګر د خدای ذات څه ډول دی؟، صفات یې څه دي؟ او هغه طریقې څرنګه دي چې ده د خپل ځان لپاره ټاکلې دي؟ که انسان د خپل رب پېژندنه غواړي نو حتما یې په ذهن کې دا پوښتنې پیدا کېږي او د ایمان لپاره یې پېژندل ضروري



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دي. قرآن چي کله پر الله دایمان غوښتنه کړې نو د دې پوښتنو ځواب يې هم ورکړی دی، دا ځواب څه ډول دی؟ همدلته به يې بيان وکړو.

## ذات

د الله د ذات په باره کي قرآن په ښکاره ويلي چي هيڅ ډول د انساني فهم په دايره کي نه شي راتلای ځکه د فهم او درک کوم ذرايع چي دې ذات پيدا کړي هغه يقينا دا ذرايع پيدا کولای او احاطه کولای شي مګر دا ذرايع په هيڅ ډول د هغه چا احاطه نه شي کولای چي په خپله يې پر دوی احاطه کړې ده.

## صفات

البته د الله صفات تر يوې اندازې انسان درک کولای شي، ځکه له صفاتو سره تړلي ځيني شيان که څه هم ډېر لږ وي په خپله له انسان سره هم شته. الله موږ ته د خپل علم او فهم، قدرت، ربوبيت او رحمت و حکمت يو څه برخه راکړې ده او هغو ته په کتلو د خدای د صفاتو يو څه تصور تر لاسه کولای شو. له همدې وجې چي کله قرآن وايي: هغه خالق قدير، رحمان، رحيم، عليم، حکيم، حی، قيوم، اول، اخير، ظاهر او باطن دی نو په دې سره يقينا د خدای د صفاتو يو تصور تر لاسه کېږي.

د دې صفاتو په فهم کي چي بايد کومو شيانو ته پام وشي يو پکي د هغو د ښه والي اړخ دی، ځکه قدرت هغه وخت ښه وي چي رحمت، کرم او عدالت ورسره وي، د غوسې، انتقام او قهر و غضب



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

موجودیت هم د ظلم او تېري په مقابل کې د صفت وړ دی. رحمت، مغفرت او سخا و کرم هم په خپل ځای کې د ستاینې لایق دي، په قرآن کې له غني سره حمید، له علیم سره حکیم او له عزیز سره د غفور صفات همدا د ښه والي اړخ بیانوي.

له دې سره باید دې ته هم پام وشي چې د الله په هر تصور کې د جلال، جمال او کمال موجودیت ضروري دی ځکه نو د بېلګې په توګه یوازې، بې جوړې او د پناه ځای د کمال صفات دي. پاک، سلامتي درلودونکی او امن ورکول د جمال صفات دي او پاچا، غالب او ډېر زورور د جلال صفات دي، د انسان په زړه کې د جلال صفات د ویرې، تعظیم او صفت احساسات پیدا کوي، د جمال صفات حمد، امید او محبت پیدا کوي، د جلال صفات حواسو ته ډېر ښکاره وي او د جمال صفات عقل و زړه ته نژدې وي، که پروردګار ته پام و کړو نو د جمال د صفاتو غلبه احساسېږي او که انساني نفس ته پام وشي نو د جلال اړخ غالبېږي. انسان په همدې وجه د خدای له ویرې د هغه خوا ته منډه وهي او د ده د جمالي صفاتو په لمن کې د پناه اخیستلو کوشش کوي، کله چې قرآن وایي ټول ښایسته نومونه د ده دي نو د هغه په نزد یې معنا داده چې کوم نوم د خدای جلال، جمال او کمال بیانوي هغه ښه دی او خدای پرې یادېدلای شي.

د الله کامل صفتونه له دې وجې اهمیت لري چې په دې سره یې عظمت معلومېږي، کله چې انسان د هغه سم تصور خپلوي نو په


"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

نتيجه کي يې پر يوه داسي خدای ايمان راوړي چي يوازي بې جوړې او بې مثله دی، د ټولو لپاره پناه ده، د ځمکې او اسمان او هغو تر منځ د هر څه يوازينی مالک دی، په پاچاهي کي يې بل هيڅ شريک نه شته، په قدرت کي هيڅ سيال نه لري، د دنيا هيڅ شی يې له سترګو پټ نه دی، د دنيا هيڅ معامله يې له اختياره نه ده وتلې، هر شی ده ته محتاج دی خو دی هيڅ شي ته احتياج نه لري، جمادات، نباتات او حيوانات ټول د ده په حضور کي سر پرسجده دي او د ده په تسبيح او تهليل اخته وي. د ده قدرت پای نه لري، پراختيا يې نامحدوده ده او د کايناتو په هره ذره کي د ده اراده حاکمه ده. دی چي کله هر شی وغواړي له منځه يې وړي او چي کله وغواړي پيدا کوي يې، عزت او ذلت ټول د ده په لاس کي دي، هر څه له منځه ځي، دی به پاتي وي، دی له هر څه جلا دی مګر هر چا ته تر ستوني نږدې، د ده علم او قدرت پر هر څه احاطه کړې ده، دی د زړونو په راز پوهېږي، د ده اراده پر هرې ارادې نافذه ده او حکم يې تر هر حکم لوړ دی. دی له هره عيبه پاک، له هرې بدۍ خلاص او له هر ډول عيب څخه منزه دی.

د کمال په دې صفاتو کي تر ټولو مهم يې د الله توحيد دی، قرآن په ډېر تاکيد او وضاحت سره د هغه بيان کړی دی ان د دې اسماني کتاب اخيري باب چي د خپل مضمون له مخې پر کوم سورت ختم شوی په هغه کي الله خپل رسول ته ويلي چي د خلګو په مخ کي په



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ښکاره دا اعلان وکړي چي الله یو دی، د ټولو تکیه پر ده ده، دی نه د چا پلار دی نه زوی او هیڅ سیال هم نه لري.

د توحید د همدې اهمیت له وجې قرآن اعلان کړی چي له دې پرته د انسان هیڅ عمل نه منل کېږي او له دې پرته د هرې غلطۍ د بخښنل کېدو امکان شته، ځکه پر توحید تر ایمان وروسته بنده نه د ګناه پر کولو زړور کېږي او نه یې تر کولو وروسته د توبې و استغفار د توفیق له غوښتلو بې برخې کېدای شي، دی حتما خپل رب ته رجوع کوي او په دې ډول د قیامت تر راتلو مخته د ځان لپاره د بخښنې او مغفرت لیاقت پیدا کوي.

په قرآن کي چي د توحید کوم دلایل راغلي هغه ډېر په زړه پوري او د علم و عقل له اصولو سره برابر دي، دلته صرف همدومره خبره کافي ده چي د خدای په خدایي کي د شریک نیولو لپاره هیڅوک هیڅ دلیل نه لري، قرآن په څو ځایونو کي له خپلو اوریدونکو څخه غوښتنه کړې چي که په عقل او نقل کي د دې لپاره کوم دلیل درلودای شي نو ضرور دي راوړي چي خدای کوم شریک لري او که نه؟ د دې لپاره اصلي شاهدي په خپله د خدای ده او د خدای په شاهدي د خبریدو لپاره یوازینۍ ذریعه د هغه نازل کړي کتابونه او هغه روایات و اثار دي چي د ده له انبیاوو او رسولانو څخه نسل پر نسل انسانانو ته ور پاتي شوي دي. په هغو کي د شرک د تائید لپاره هیڅ شاهدي نه شته.



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# سنن

الله چې له خپلو بندګانو سره کومه معامله په څه ډول کوي همدې ته په قرآن کې الهي سنت ویل کېږي، الله ویلي چې دا سنن د تغیر وړ نه دي او هیڅکله پکې بدلون نه راځي. د خدای د پېژندنې لپاره چې په څه ډول د هغه د صفاتو علم ضروري دی همدارنګه د دې الهي سننو علم هم ضروري دی، هغه سنن دادي:

١) امتحان

الله دا دنیا د امتحان لپاره جوړه کړې، د خدای د یوه جهاني قانون له مخې دا امتحان د ټولو انسانانو لپاره دی. د انسان په طبیعت کې چې کوم څه اېښودل شوي هغه په همدې امتحان سره ښکاره کېږي، د نفس رازونه په دې سره خلاصېږي او د علم و عمل درجې له همدې لارې معلومېږي. د قرآن وینا ده چې مرګ او ژوند د همدې لپاره را منځ ته شوي چې د انسانانو رب ووینې څوک بغاوت کوي او څوک د ده له خوښې سره سم ژوند تېروي؟. په دې کې شک نه شته چې الله په هر څه خبر دی، مګر هغه دا قانون جوړ کړی دی چې له خلکو سره به د جزا او سزا معامله صرف د خپل علم پر بنیاد نه کوي، دا امتحان د همدې لپاره دی.

په دې دنیا کې چې پر انسان د رنځ او راحت، غربت او شتمنۍ، سختۍ او خوشالۍ کوم حالات راځي هغه د همدې قانون غوښتنه ده. په دې سره الله خپل بندګان ازمويي او د دوی ښه و بد معلوموي،



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دى يو چا ته مال، دولت، عزت او مقام ورکوي چي په دې سره يې د شکر امتحان اخلي او پر يو چا د فقر و مسکنت ازموينه راولي چي د ده صبر معلوم کړي.

۲ ) هدايت او ګمراهي

په دې امتحان کي له انسان څخه غوښتنه شوې ده چي له ګمراهي څخه ځان وساتي او د هدايت لار ونيسي، قرآن ويلي چي هدايت د ده په فطرت کي اخښل شوى. د شعور عمر ته تر رسېدو وروسته د ځمکې او اسمان نښې هغه دې اړخ ته متوجې کوي، که انسان د دې هدايت قدر وکړي، ګټه ترې واخلي او د خداى پر دې نعمت شکر وباسي نو د هغه سنت دادى چي رڼا به يې ور ډېروي، په ده کي به د نور هدايت طلب پيدا کوي او په نتيجه کي به يې د انبياء عليهم السلام له راوړي هدايت څخه د برخمنېدو توفيق ورکوي.

که انسان له دې فطري هدايت څخه د مخ اړولو فيصله وکړي، له خپله عقله کار وانخلي او په قصدي ډول حق پرېږدي نو دا د قرآن په اصطلاح ظلم او فسق دى او الله هيڅکله ظالم او فاسق ته هدايت نه کوي، بلکي د ګمراهۍ په تيارو کي يې سرګردانه پرېږدي.

۳ ) د وس په اندازه مکلفيت

د انبياء عليهم السلام په واسطه چي انسانانو ته کوم شريعت ورکول شوى په هغه کي الله هيڅکله داسي حکم نه کوي چي د انسان


"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

تر وس پورته وي، د شریعت په ټولو اعمالو کې تل دا قانون موجود دی چې پر خلګو به د دوی تر وس پورته بوج نه اچول کېږي او دوی ته چې هر امر کېږي باید د انسان له فطرت او استعداد سره مناسب وي ځکه نو په شریعت کې پر هېره، خطا او بې ارادې غلطۍ هیڅ سزا نه شته او له خلګو ځخه یې غوښتنه صرف داده چې په ظاهر او باطن کې له پوره صداقت او اخلاص سره د هغه احکام عملي کړي، مګر د دې معنا دا نه ده چې که بنده بغاوت وکړي نو هغه وخت هم الله دا ډول کوم تکلیف نه ورکوي. له قرآن ځخه ښکاري چې د پوهولو او روزنې، تعذیب، خلګو ته د خپلو بدو اعمالو د نتیجې ور ښودلو او یا د خدای په مقابل کې د هغوی د بې وسۍ ښکارولو لپاره حتما دا ډول مکلفیت ور سپارل کېږي.

۴) عزل و نصب

تر دې مخته چې د امتحان کوم قانون بیان شوی د هغه له مخې چې په څه ډول الله ځیني کسان د صبر او یا شکر د امتحان لپاره انتخابوي همدا ډول قومونه هم انتخابوي، د دې انتخاب په نتیجه کې چې کوم قوم یو وار لوړ مقام تر لاسه کوي نو الله له دوی سره تر هغه وخته خپله معامله نه بدلوي چې دوی د علم او اخلاقو له مخې خپل ځان له ذلت او خواري سره نه وي مخ کړی. دا د خدای نه بدلېدونکی سنت دی او د خپل دې سنت له مخې چې کله د یو قوم په باره کې تر بیا – بیا خبر ورکولو وروسته د هغوی د خوارۍ او ذلت فیصله کوي



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

نو دا فیصله یې هیڅوک نه شي ردولای او د دنیا هیڅ طاقت هم د خدای په مقابل کې له دې قوم سره مرسته نه شي کولای. د انسانانو ټول تاریخ د قومونو په عزل او نصب کې د دې سنت د موجودیت شاهدي ورکوي.

۵) الهي مرسته

الله چې کله کومې ډلې او یا یو شخص ته خپل یو مسئولیت سپاري او هغوی ته یې د پوره کولو حکم کوي نو له دوی سره کومک هم کوي، دا مسئولیت دعوت هم کېدای شي او جهاد و قتال هم. د دا ډول مسئولیت په پوره کولو کې د مومنانو مرسته الله پر ځان لازمه کړې ده، خو دا مرسته اټکلي نه وي بلکې یو قانون لري چې الله په قرآن کریم کې بیان کړی دی او د ده بندګانو ته دا کومک د همدې قانون مطابق ورکول کېږي.

۶) توبه او استغفار

کله چې انسان ګناه کوي نو د ده لپاره د توبې او استغفار چانس شته، په دې باره کې قانون دادی چې که تر ګناه وروسته سمدستي توبه وباسي نو الله یې حتما بخښي مګر د هغو خلکو توبه هیڅکله نه قبلوي چې ټول ژوند په ګناوو اخته وي او چې کله پوه شي مرګ یې را نژدې شوی نو د توبې توبې الفاظ وایي. همدارنګه په شعوري ډول له حق څخه د هغو منکرینو توبه هم نه قبلوي چې د مرګ تر وخته پر انکار ولاړ وي.


"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۷) جزا او سزا

تر مرګ وروسته جزا او سزا یو نه بدلېدونکې حقیقت دی، مګر له قرآن کریم څخه معلومېږي چې ځیني وختونه په دې دنیا کې هم وي. د خدای کوم عدالت چې د قیامت په ورځ په کامل ډول را منځ ته کېږي دا د هماغه عدالت یو لومړنی شکل دی، الله تعالی چې یې کوم صورتونه په معلوم ډول بیان کړي هغه دادي:

۱) څوک چې دنیا غواړي او مرګ و ژوند یې د همدې لپاره وي د اخرت هیڅ خیال نه ساتي، ټول ژوند یې په همدې کې تېر شي الله د هغوی بدله په همدې دنیا کې ورکوي او د ټولو کارونو نتیجه هم دلته ور سپارل کېږي.

۲) د رسولانو له خوا د حق تر پوره وضاحت وروسته د هغه پر منکرینو په همدې دنیا کې عذاب راځي او د هغوی د منونکو لپاره د ځمکې او اسمان د برکتونو دروازې خلاصېږي.

۳) الله د ابراهیم علیه السلام له اولادې سره وعده کړې چې که دوی پر حق ټینګ وو نو د قومونو امامت به د دوی وي او که یې سرغړونه وکړه نو له دې مسئولیت څخه په لرې کېدو به د ذلت او سپکاوي په عذاب اخته شي.

## پر ملایکو ایمان

الله چې د کومو اشخاصو په واسطه مخلوقاتو ته خپل حکم رسوي هغو ته ملایکې ویل کېږي، د دې لپاره په قرآن کې د الملائکة



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

لفظ راغلی دی چې د مَلک جمع ده او د پیغام وړونکي معنا ورکوي. له قرآن کریم څخه ښکارئ چې له اسمان سره د ځمکې رابطه د همدوی په واسطه وي او دا ډول کارونه الله ټول د دوی په وسیله ترسره کوي. کله چې الله دوی ته کوم حکم ور سپاري نو دوی یې د یوه مطلق مجبور په توګه د ده مخلوق ته رسوي، د دوی شخصي اختیار او اراده پکې هیڅ دخل نه لري، دوی په بشپړ ډول تابع دي، تل د خپل رب په حمد او ثنا اخته وي او د ده له حکم څخه یوه ذره نافرماني نه کوي.

## پر نبیانو ایمان

الله چې د کومو شخصیتونو په وسیله انسانانو ته هدایت رسولی هغه نبیان بلل کېږي. دوی هم انسانان وو خو الله د خپل علم او حکمت له وجې دوی د دې مسئولیت لپاره انتخاب کړل، دا یوه الهي پېرزوینه ده، له زده کړې، روزنې او تعلیم سره هیڅ تعلق نه لري، له قرآن څخه معلومېږي چې د دې کار لپاره هغه کسان انتخابېږي چې خپل ځانونه د نفس او شیطان له غوښتنو ساتي، ګناهونه نه کوي او په هر ډول د خپل قوم نیکان او غوره کسان وي.

الله هر قوم ته نبي ور لېږلی دی، الله تعالی له ادم علیه السلام سره وعده کړې وه چې د ده د اولادې د هدایت لپاره به خپل هدایت ور لېږي. انسانانو ته دا هدایت د همدې نبیانو په وسیله رسېدلی، دوی له اسمان څخه د وحې په تر لاسه کولو خلکو ته حق بیاناوه، د دوی منونکو ته یې د ښه انجام زېری ورکاوه او منکرین یې له بد انجام څخه



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وپېژني او د خير و شر تر منځ د فرق کولو شعور ورکړل شي، دا ټول ويرول. د نبيانو ضرورت د دې لپاره نه وو چې انسانان خپل رب شيان د دوی د پيدايښت برخه ده او د تخليق له لومړۍ ورځې څخه د دوی په فطرت کې ايښودل شوي دي ځکه نو دا ضرورت په دې شيانو د دوی د خبرولو لپاره نه بلکې له دوو وجو را منځ ته شو. يو د هدايت د وضاحت لپاره يعنې د انسان په فطرت کې چې په مختصر ډول کوم څه ايښودل شوي او دی تل ور باندې خبر دی هغه وريادکړل شي او له ضروري تفصيلاتو سره يې ښې ورته معلوم کړي.

دويم د حجت پوره کولو لپاره، يعنې انسان له غفلت څخه را ويښ شي او د علم و عقل تر شهادت وروسته د همدې نبيانو په وسيله يو بل شاهد هم شاهدي ورکړي چې حق په داسې درجه واضح او تشريح شي چې دوی هيڅ عذر ونه لري.

د رسول الله تر را لېږلو وروسته دا دواړه شيان په جهاني سطح اوبالکل په اخيري درجه ترسره شول، ځکه نو د نبوت سلسله د تل لپاره ختمه شوې ده، قرآن اعلان کړی چې دی اخيري نبي دی، تر ده وروسته به نور هيڅ نبي او رسول نه وي.

د سالم فطرت خاوند د دې نبيانو په پېژندلو کې هيڅ مشکل نه لري، که د انسان زړه او دماغ بيداره وي نو د رسول مخ او اواز په خپله معجزه ده، مګر الله له دې سره - سره هغوی ته داسې شواهد هم ورکړي چې که سرکښ خلک په ژبه اقرار نه کوي نو د نبيانو له



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

صداقت پر ته بله لار هم نه لري. له قرآن څخه ښکاري چې هر نبي ته له خپل وخت او حالاتو سره سم شواهد ورکول شوي چې ځينې به يې دلته ياد کړو.

۱) نبي عموما د خپل مخکيني نبي له پيشنګويي سره سم راځي چې په دې ډول يو پردی شخصيت نه وي، خلک يې هم پېژني او هم ورته منتظر وي. د عيسی عليه السلام په باره کي ويل شوي چې د ده تر راتلو مخته يحی عليه السلام په بيت المقدس کي د هغه اعلان کړی وو، د رسول الله صلی الله عليه وسلم د راتګ زېری په تورات او انجيل دواړو کي ورکول شوی بلکي د عيسی عليه السلام د راتلو يو لوی مقصد دا بيان شوی چې د نبي امي د زېري لپاره راغلی وو. قرآن د خپل صداقت لپاره د يوه قاطع دليل په توګه ويلي چې د بني اسرائيلو علماء دی داسي پېژني لکه يو پلار چې خپل ورک شوی زوی پېژني. د دې معنا دا وه چې دوی رسول الله په مکمل ډول پېژندی.

۲) نبي چې د خدای له خوا د هغه د کلام په نوم کوم څه راوړي په هغه کي هيڅ تضاد او ټکر نه وي، د دنيا هيڅ نابغه کس که څه هم سقراط او يا افلاطون وي، يا کانټ، اين ستاين، غالب، اقبال، رازي او يا زمخشري هغوی د خپلو اثارو په باره کي دا ډول دعوه نه شي کولای مګر قرآن د خپل ځان په باره کي دا خبره په پوره زور سره کړې چې په ده کي د فکر او خيال ډېر کم تناقض هم نه شي پيدا کېدای. ايا په دنيا


"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کي داسي يو انسان هم موجودېداى شي چي کلونه – کلونه په بېلابېلو حالاتو او مختلفو فرصتونو کي پر ګڼو موضوعاتو ويناوې وکړي او کله چي له پيله تر پايه د هغه ټولي ويناوې را يو ځاى شي نو د يوې داسي همرنګه او مناسبې مجموعې شکل خپل کړي چي نه پکي کوم ټکر وي او نه د وينا کوونکي د زړه و دماغ دحالاتو کوم اثر او نه پکي د فکر او نظر د بدليدو کومې علامې وليدل شي، دا صرف د قرآن خصوصيت دی.

۳) الله تعالی نبي ته معجزې او د عادت خلاف قوت ورکوي، موسی او عيسی عليهما السلام ته چي کومې غير معمولي معجزې ورکول شوې وې د هغو په باره کي په خپله قرآن په ښکاره ويلي چي يو مقصد يې د دې نبيانو رسالت هم وو. دا معجزې هيڅوک د سحر او جادو، يا علم و فن د کمال په بللو نه شي ردولاى ځکه د دا ډول علومو او فنونو په حقيقت د هغو له ماهرينو پرته بل څوک ښه نه شي پوهېداى خو دوی يې هم په وړاندي د بې وسی، اقرار ته مجبورېږي. رسول الله ته چي دا ډول کومه معجزه ورکول شوې هغه قرآن دی، د عربي ژبې د بلاغت له اسلوبو او د ادب و علم له طريقو سره اشنا دادبي ذوق کوم خاوندان چي يې لولي نو په ښکاره احساسوي چي دا د کوم انسان کلام نه شي کېداى، قرآن په ګڼو ځايونو کي خپلو اوريدونکو ته بلنه ورکړې چي که دوی دا د خداى کلام نه بولي بلکي د محمد له خوا جوړ شوی يې بولي نو دا کلام چي کوم مقام لري نو د هغه په ډول



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

يو سورت دي راوړي. كه د دوى د قوم كوم فرد د هغه په ويناله څه علمي او ادبي تاريخ پر ته دا كار كولاى شي نو هغه هم بايد په دې كار كي زړه نازړه نه شي.

د الله دا كتاب اوس هم له مونږ سره موجود دى، پر دې زيات و كم څورلس پېړۍ تېري شوې دي او دنيا له كومه ځايه كوم ځاى ته رسېدلې؟. انسانانو د افكارو او خيالونو څومره بوتان وتراشل او بيا يې په خپله مات كړل؟، د انساني شخصيت او كايناتو په اړه د انسانانو په فكرونو كي څومره بدلونونه راغلل او د منلو او نه منلو څومره مزلونه يې و كړل؟، هغوى پر كومه لار تېر شول او بالاخره تر كومه ځايه ورسېدل؟ مګر په كوم كتاب كي چي د دې پېړيو د علمي او تحقيقي موضوعاتو كوم مواد بيان شوي نو د نړۍ په ټولو ليكل شويو اثارو كي يوازينى كتاب دى چي نن هم هغه ډول ټينګ او محكم دى په څه ډول چي له نن څخه ۱۴۰۰ كاله وړاندي وو. علم او عقل چي د هغه په مخ كي څه ډول هماغه وخت د بې وسۍ اعتراف ته مجبور وو هماغسي نن هم مجبور دي، د ده هره وينا نن هم په پوره عظمت پر خپل ځاى ثابته ده، نړۍ له خپلو حيرانوونكو علمي موندنو سره – سره په ده كي د ترميم او تغير لپاره هيڅ امكان نه شي پيدا كولاى.

۴ ) الله نبي په ځينو داسي شيانو خبروي چي د انسان په وس كي نه وي، يو مثال يې د الهي وحې هغه وړاندويني دي چي په حيرانوونكي ډول رښتيا كېږي. د دې ځيني مثالونه په قرآن او ځيني



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

په روایاتو کې دي، په عربي خاوره کې د رسول الله د غلبې، مکې د فتحې او د الله په دین کې د ډلې – ډلې خلکو د داخلېدو په باره کې د قرآن په پیشنګویي یا وړاندوینه د قرآن هر زده کوونکی خبر دی. د ایرانیانو په لاس تر ماتې وروسته د رومیانو د بیا فتحې وړاندوینه هم دغه ډول بې سارې وه.

کله چې دا پیشنګویي وشوه نو د زوال روما د لیکوال ایډورډ ګبن په الفاظو هیڅ پیشنګویي دومره له حقیقته لرې نه وه، ځکه هرقل دوولس کاله وړاندې د رومي سلطنت پای اعلان کړی وو مګر دا پیشنګویي پر خپل وخت پوره شوه او د ۶۲۸ په مارچ کې رومي واکمن په داسې ډول قسطنطنیې ته راغی چې د ده کجاوه څلورو فیلانو کشوله او بې شمیره کسانو له پایتخت څخه دباندې څراغونه او د زیتون ښاخونه په لاس د خپل اتل د هرکلي لپاره ولاړ وو.

۵) په نبیانو کې چې کوم کسان د رسالت دنده لري هغوی د خدای د یوې فیصلې په شکل راځي او د خپل قوم له فیصلې سره دا دنیا پرېږدي، داسې چې که د الله رسول د خپل رب پر وعده ټینګ پاتې شي نو جزا ورکوي او که سرغړونه وکړي نو په همدې دنیا کې سزا ورکوي. له همدې وجې د هغه وجود د خلکو لپاره یوه الهي نښه وي ګواکې خدای له دوی سره پر ځمکه ګرزي را ګرزي او د عدالت پر کولو یې څاري، همدا شی د دوی د قومونو لپاره په دنیا او اخرت دواړو کې د فیصلې بنیاد ګرزي، الله همدې رسولانو ته غلبه ورکوي او د



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

هغوی د دعوت پر منکرینو خپل عذاب نازلوي. د دې نبیانو په اړه د الله امر دادی چې د هغوی اطاعت وشي، الله په خپل کتاب کې دا خبره بیان کړې چې نبي یوازې د ښو احساساتو مرکز نه دی بلکې د اطاعت مرجع هم ده. هغوی د دې لپاره نه راځي چې خلک یې نبوت او رسالت ومني نور خلاص شي دوی یوازې د یوه واعظ او نصیحت کوونکي حیثیت نه لري بلکې د یوه هدایت کوونکي په توګه یې اطاعت لازمي وي، د دوی د رالیږلو مقصد دا وي چې د ژوند په ټولو چارو کې دوی کوم هدایات بیان کړي هغه له څه جنجال پرته ومنل شي او دا اطاعت هم کوم رسمي شی نه دی، د قرآن غوښتنه داده چې باید له پوره احساس، اخلاص، مینې، ډېر درناوي او احترام سره وي.

## پر کتابونو ایمان

لکه څرنګه چې الله د انسانانو د هدایت لپاره نبیان رالیږلي همدارنګه یې پر دوی کتابونه هم نازل کړي دي، کتابونه د دې لپاره نازل شوي چې د الله هدایت په لیکلي شکل او په خپله د ده په الفاظو له خلکو سره موجود وي چې د حق او باطل تر منځ یو ترازو وګرزي. د هغه په وسیله خلک د خپلو اختلافاتو فیصله وکړای شي او په دې توګه د دین په معامله کې انصاف عملي کړي.

دا وخت چې د بایبل په نوم د صحیفو کومه مجموعه موجوده ده له هغو څخه په ظاهره داسې ښکاري چې دا کتابونه په یوه نه یوه شکل ټولو پیغمبرانو ته ورکول شوي، قرآن چې په څه ډول د تورات او


www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org
"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

انجیل یادونه کوي هماغه ډول د ابراهیم صحیفې هم یادوي. دا ټول الهي کتابونه دي، ځکه نو له څه فرق پرته په اجمالي ډول پر هغو د ایمان راوړلو غوښتنه کوي، په هغو کې څلور کتابونه تورات، زبور، انجیل او قرآن ډېر اهمیت لري. تورات پر موسی علیه السلام، زبور پر داوود علیه السلام او انجیل پر عیسی علیه السلام نازل شو او قرآن د الله پر اخیري پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم نازل شوی دی. د دنیا په اسماني کتابونو کې همدا یوازینی کتاب دی چې په اړه یې دا خبره له پوره یقین سره کېدای شي چې په څه ډول نازل شوی له هر ډول تغیر پرته عیني په هماغه ډول، هماغه ژبه او هماغه ترتیب سره دا مهال زموږ په لاس کې دی.

## پر اخرت ایمان

دین چې د کومو حقایقو د منلو غوښتنه کوي په هغو کې د جزا ورځ یا اخرت ډېر ارزښت لري، دې هر وخت د انبیاء علیهم السلام په دعوت کې بنیادي حیثیت درلودلی دی. د ټول شریعت نېکۍ او خیر اساس همدا عقیده ده، د نبوت او رسالت ودانۍ پر همدې ولاړه ده، نبي له دې وجې نبي دی چې دا لوی خبر بیانوي، رسول له دې وجې رسول دی چې د دې پیغام یې راوړی دی، قرآن د جزا د همدې ورځې لپاره د انذار او بشارت یوه صحیفه ده، هغه خلکو ته وایي چې تاسو په څه ډول تر خوب وروسته را پاڅېږئ، په څه ډول پر مړه ځمکه باران اوري او زموږ په مخ کې را ژوندۍ کېږي، څه ډول چې تاسو هیڅ



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وجود نه درلود مګر داوبو له یوه څاڅکي در څخه ژوندی انسان جوړیږي، همدا ډول به یوه ورځ له قبرونو څخه ژوندي را پورته شئ، ستاسو رب به په دې کي له هیڅ مشکل سره مخ نه شي، د قرآن اوریدونکو دا کار ناممکن باله او ویل یې چي دا خاوري شوي هډوکي به څوک را ژوندي کوي؟ نو قرآن ځواب ورکوي چي کوم ذات په اول ځل جوړ کړي وو. د یوه لفظ ویل چي څومره اسانه دي د هغه لپاره دا کار همدومره اسانه دی. د اخرت شواهد، علامې، حالات او پړاوونه په پوره وضاحت سره بیان شوي دي.

## شواهد

لومړی شی په انسان کي د خیر او شر شعور دی، د همدې شعور نتیجه داده چي د ده په داخل کي یو څارونکی تل ده ته د بدیو په باره کي خبرداری ورکوي دا په انسان کي دننه یوه وړوکې محکمه ده او هر وخت خپلې بې طرفه فیصلې بیانوي. انسان یې فیصلې مني او که نه خود فکر، خیال او علم و عمل تر هرې تیروتنې وروسته یې حتما اعلانوي ان تر دې چي کله د هغه بد اعمال دومره ډېر شي چي د هغه د اعمالو توروالی ټول زړه و پوښي او بالکل یې ړوند او کوڼ کړي. دا د انسان په باره کي د هغه د خپل باطن شاهدي ده چي د نفس لوامه ګواهي بلل کیږي، قرآن همدا بیانوي او انسان ته ور ښیي چي ته یو خپل سری موجود نه یې چي څه وغواړې هغه وکړې او پوښتنه در څخه ونه شي، تا ته باید څرګنده وي په څه ډول چي په تا کي دننه دا



www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org
"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کوچنی قیامت شته همدارنګه به حتما د ټولو کایناتو لپاره هم یو قیامت وي چي هلته به ته د خپل رب په حضور کي ځواب ورکوې او تا چي څه کړي وي د هغو له وجې به د جزا اوسزا پریکړه کیږي، که ته یې نه منې نو خپل ځان دروغجن بولې او د خپل ضمیر پر خلاف بغاوت کوې.

دویم شی د انسان دا فطرت دی چي عدل غواړي او له ظلم څخه یې بد کیږي، په دې کي شک نه شته چي دی له دې سره –سره ظلم کوي مګر د دې وجه دا نه ده چي انسان د ظلم او عدل تر منځ فرق نه شي کولای او یا ظلم خوند ورکوي، بلکي وجه یې داده چي له احساساتو او خواهشاتو څخه په مغلوبیدو د خپل ځان توازن له لاسه ورکوي. زموږ هر سړی پوهیږي چي یو څوک د نورو کورونه وهي مګر هیڅکله نه غواړي چي بل د ده کور ووهي، نور وژني خو هیڅکله نه غواړي چي بل څوک دی یا د ده خپلوان او قریبان ووژني، بل ته شی کم ورکوي خو له بل څخه د کم شي اخیستل یې نه وي خوښ. که له غلو، قاتلانو او ډاکه اچوونکو پوښتنه وشي نو د دوی هر یو به ومني چي دا هر کار جرم دی او باید ختم شي، ځکه نو هیڅ انسان د حواسو او عقل له سلامتیا سره دا نه شي منلای چي نېک او بد یو ډول وبولي او له دواړو سره یو ډول معامله وشي، قرآن همدا حقایق وړاندي کوي او د قیامت له منکرینو پوښتنه کوي چي ایا موږ به امر منونکي او مجرمین سره برابر کړو؟ په تاسو څه شوي او څه ډول فیصله کوئ؟.



www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org
"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

درېيم شى د انسان او كايناتو نيمګړتيا ده، كه هغو ته له يوه اړخه وګورو نو په واضح ډول معلومېږي چي له يوې خوا يې په هره ذره كي د جوړوونكي لوى قدرت اوستر حكمت ښكاره دى، هر څه بې كچې معنويت، بې جوړې نظم او ترتيب، بې مثاله ميخانيكي او رياضياتي ترتيب، غير معمولي جوړښت لري او په بې كچې تخليقي حسن سره علم او عقل حيرانوي بل لور ته كه په مجموعي توګه د دې دواړو شيانو د درک كولو هڅه وشي نو په مكمل ډول ناهيلي كوونكې نيمګړتيا او بې مقصده حالت تر ستر ګو كېږي چي دا دوه صورته درلوداى شي يو دا چي د كايناتو ټوله كارخانه عبث وبلل شي او دا فيصله وشي چي دا ديوه لوبغاړي لوبه ده او له دې پرته هيڅ حيثيت نه لري. دويم دا چي دا د جزا له يوې ورځې او د خداى له هغې ابدي پاچاهي سره يو ځاى درک شي چي انبياء كرامو يې اعلان كړى، د عقل او علم فيصله څه ده؟ هر سړى پرې پوهېداى شي.

څلورم شى الهي صفات دي چي نښې يې د كايناتو په هره ذره كي ښكاري، په هغو كي د ربوبيت او رحمت صفات د خصوصي توجو وړ دي، د كايناتو د رب له خوا چي د انسان روزنې ته كومه بې كچې پاملرنه شوې د هغې تر ليدو وروسته كوم عاقل دا باور كولاى شي چي خالق به يې بې مسئوليته پرېږدي او څرنګه له رحمان او رحيم خداى څخه دا اميد كېداى شي چي كومو كسانو په دنيا كي ظلم او تېرى كړى هغوى ته به سزا نه وركوي. قرآن له همدې وجې ځاى پر


"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ځای دا خبره بیان کړي چي قیامت د الله د رحمت، ربوبیت او قدرت و حکمت تقاضا ده، د خدای تر منلو وروسته هیڅوک ور ثخخه هیڅکله انکار نه شي کولای.

پنځم شی په دنیا کي د خدای د فیصلې موجودیت دی، دا د هغو شخصیتونو په وسیله را منځ ته شوې دي چي له نبوت سره رسالت هم ورکول شوی الله دوی ته غیر معمولي معجزې ورکړې، په روح القدس سره یې د دوی تائید وکړ او په همدې دنیا کي یې د دوی په وسیله یو کوچنی قیامت راووست، د دې مقصد دا وو چي د اخرت تصور په هماغه معیار ثابت شي په کوم معیار چي ساینسي حقایق د لابراتوار (Laboratory) په تجربو ثابتیږي. څرګنده ده چي تر دې وروسته هیڅوک د الله په حضور کي بانه نه شي درلودای.

د دې طریقه داسي ده چي دې رسولانو د حق دعوت وړاندي کړ او بیا یې د اعلان په کولو وویل چي دوی د خپل قوم لپاره له خدایي پریکړي سره راغلي دي، د ایمان او عمل پر بنیاد چي د جزا او سزا د کومې معاملې بیان شوی د دوی له قوم سره په همدې دنیا کي کیدونکې ده. په څه ډول چي طبعي قوانین محکم دي او په هر حال کي نتیجه ورکوي د دوی له لوري د حجت تر پوره کېدو وروسته به د خدای اخلاقي قانون هم هماغسي نتیجه ورکړي نو د دوی په قوم کي چي کوم کسان د هغوی دعوت ومني په دنیا او اخرت دواړو کي به



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کامیاب شي او پر خپلو مخالفینو به غلبه تر لاسه کړي او څوک چې دا دعوت ونه مني هغوی به خوار او په الهي عذاب اخته شي.

دا خبره چې هر وخت او هر قوم ته شوې نو تر دې نا ممکن او د یقین وړ بل هیڅ شی نه وو خو دا خبره هر وخت پوره شوه او په داسې ډول سر ته ورسېده چې خلکو د خدای عدالت ولید او پر ځمکه و اسمان د هغه جلال څرګند شو.

قرآن ویلي چې دا فیصله په اخیري وار په اوومه عیسوي پېړۍ کې د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم په وسیله را منځ ته شوه، د انساني تاریخ دا حیرانوونکې پېښه له دې وجې ډېر ارزښت لري چې د تاریخ په روښانه پړاو کې را منځ ته شوې ده حتی ټول جزیات یې خوندي دي او ګواکي ټول مراحل یې زموږ د سترګو په وړاندې موجود دي چې هر څوک یې کله وغواړي نو د تاریخ د پاڼو په اړولو یې لیدلای شي.

## علامې

دا ورځ به څه وخت راځي؟ قرآن کریم ویلي چې له الله پرته هیڅوک پرې خبر نه دی، وخت یې ده ته معلوم دی او هیڅ نبي و ملایکه هم نه پرې خبروي، البته په قرآن، احادیثو او مختکینیو کتابونو کې یې نښې او علامې بیان شوې دي. په دې کې ځینې عمومي دي او ځینې یې معلومې پېښې دي. په قرآن کې لومړی ډول علامې نه دي بیان شوې، د هغو یادونه په روایاتو کې راغلې ده. په



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دویم ډول علامو کي هم صرف یو شی قرآن بیان کړی او هغه د یاجوج او ماجوج راتګ دی ځکه نو همدا یقیني علامه ده. له دې پرته چي عموما کومې علامې بیانېږي په هغو کي ځیني یې ښکاره شوې دي او که د نورو نسبت رسول الله ته ناسم نه وي نو حتما به پوره شي.

## حالات

قیامت به څرنګه راځي؟ د قرآن په څو ځایونو کي د دې تفصیلات بیان شوي، پر ځمکه او اسمان به څه تېرېږي؟، له میاشتې، لمر، سپوږمۍ او ستورو سره به څه کېږي؟، د ځمکې او سیدونکي مخلوقات به له څه حالت سره مخ کېږي او خلګ به څه ډول له خپلو قبرونو په راوتلو د خپل رب په حضور کي را غونډېږي؟ په قرآن کي ځای پر ځای د همدې تصویر موجود دی. د جاهلي ادب له مطالعې معلومېږي چي عربو تر تشبیه له تصویر یا صحنې انځورولو سره ډېره مینه درلوده قرآن همدې ته پام کړی او د قیامت وېروونکي حالات یې په داسي ډول بیان کړي لکه د هغه لوستونکي چي یې خپل مخ ته پر راتلو ویني. هلته چي د دې پېښو کوم ترتیب موندل کېږي هغه دادی:

۱) خلګ به په پوره اطمنان سره په خپل کاروبار بوخت وي له دوی څخه به ځیني په لار، ځیني په بازار، ځیني په مجلس او ځیني په کور کي وي، له چا سره به دا فکر هم نه وي چي د دنیا نظم او جوړښت به له منځه ولاړ شي. په همدې وخت کي به ناڅاپه صور پو


"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

او د قیامت زلزله به راشي، پر دې مهال چې به د ځمکې پر ابادۍ کوم حالت راځي د قرآن په مختلفو ځایونو کې یې نقشه انځور شوې ده. له هغې ښکارې چې کله تر یوې وروسته د زلزلې دویم ټکان راشي او ځمکه د هغې کښتۍ په څېر شي چې د څپو ګانو له امله ځانګې نو زړونه به رپېږدي، سترګې به ویریدلې وي، خلک به داسې بې هوښه او وار خطا وي چې ګواکې د الهي عذاب ډار ټول خلک لېوني کړي دي.

۲ ) دا هماغه وخت دی چې د دنیا نظم او جوړښت به پر خرابېدو شي، پر ټولو کایناتو به یوه داسې ستره زلزله راشي چې غرونه به ټوټه – ټوټه کړي، سمندرونه به وچوي، ټول کهکشانونه او فلکي اجرام به د خپلو ځایونو په پرېښودو بل لوري ته ولاړ شي. هرې خوا ته به داسې ګډوډي وي چې تر تصور لوړ او د الفاظو تربیان به پورته وي، دا سلسله به تر هغه وخته روانه وي چې خدای یې غواړي.

۳ ) تر دې وروسته به هغه مرحله پیل شي چې قرآن یې د مخلوقاتو بیا را ګرزول بولي، له همدې ګډوډۍ څخه به ورو – ورو د طبیعت یو نوی نظام را منځ ته شي، ټول فلکي اجرام، ځمکه، سپوږمۍ، ستوري او له میلیاردونو ستورو و سیارو څخه جوړ شوي کهکشانونه به له نویو قوانینو او اصولو سره په نوې ځمکه او نوي اسمان بدل شي. د قرآن وینا ده چې پر دې مهال به یو ځل بیا صور پو شي چې ټول خلک به راژوندي کړي او له خپلو قبرونو څخه په راوتلو به د نړۍ والو د رب محکمې ته وړاندي شي.



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

## پړاوونه (مراحل)

د دې ورځې د حاضري لپاره چې انسان تر کومو مراحلو تېرېږي او تر دې وروسته به په کومو پړاوونو کې يو څه وخت دمه کوي په قرآن کې د دې تفصيلات هم بيان شوي دي. دوی به ورو – ورو هغه لور ته ور وستل شي، د دې سفر اوله مرحله مرګ دی. د دنيا تر څو ورځني ژوند وروسته دا مرحله حتما پر هر انسان راځي، له دې څخه هيڅ خلاصون نه شته. سهار او مابنام يې هر وخت امکانات شته. انسان تر خپل پيدايښت وړاندي او له خپل پيدايښت سره سمدستي د هغه غيږ ته ور تلای شي، په ماشومتوب، ځواني او بوډاتوب کې چې کله وغواړي راځي او هر سړی به مجبورا د هغه په مخ کې سر ټيټوي. په قرآن کريم کې يې حقيقت دا بيان شوی چې د قرآن په وينا د انسان اصل شخصيت نفس د هغه له حيواني ژوند څخه بېل وجود لري همدا به د ده له بدنه جلا کېږي، د دې لپاره يوه خاصه ملايکه ټاکل شوې او د هغې تر قومانده لاندي د نورو ملايکو يو لښکر کار کوي هغه په رسمي راتلو نفس داسي تر لاسه کوي لکه يو حکومتي نماينده چې يو شی په خپله ولکه کې اخلي.

په دې وخت کې چې له انسان سره کومه معامله کېږي په قرآن کريم کې د هغې يادونه هم شوې ده، د انبياء عليهم السلام له خوا د حجت تر پوره کولو وروسته له هغوی څخه د منکرينو کسانو روحونه فرشتې د هغوی په ډبولو اخلي او د مرګ پر مهال ورته وايي چې د دوی



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د اعمالو له کبله نور په رسوا کوونکي عذاب اخته دي، له بلې خوا چې کوم کسان پر رسولانو ایمان راوړي او د کفر، شرک، ظلم او تېري له هر ډول بديو پاک وي هغوی ته فرشتې سلامي کوي او د جنت زېرى ورکوي. تر دې وروسته هغه مراحل يا پړاوونه دي چې برزخ، محشر، دوزخ او جنت بلل کېږي.

له برزخ څخه مراد هغه بېلوونکې زمانه ده چې هلته به مړ کېدونکی شخصيت تر اخرته پاتېږي، په رواياتو کې د قبر لفظ په مجازي ډول د همدې دنيا لپاره استعمال شوی دی. دلته به انسان ژوندی وي خو دا ژوند له بدنه پرته دی، هلته به د روح د شعور، احساس، ليدنو او تجربو حالت کم و زيات هغه ډول وي لکه د خوب په حالت کې چې دي. له قرآن څخه معلومېږي چې کوم کسان په بشپړ ډول حق پالونکي او يا سخت متکبرين، باغيان او ښکاره نافرماني کوونکي وي د دوی لپاره په همدې دنيا کې د عذاب او ثواب يو ډول شروع کېږي ځکه له دوی څخه پوښتنې او د خير و شر پريکړې ته به اړتيا نه وي.

له دې وروسته د محشر مقام دی، د صور تر دويم ځل پو کلو وروسته به ټول انسانان په همدې وخت کې ژوندي او را پورته شي، دا به د روح او بدن دواړو ژوند وي قرآن له همدې څخه په دويم ژوند تعبير کوي. هلته به د انسان دنيوي بدن په يوه داسې جسم بدل شي چې د خدای په ابدي پاچاهي کې به په هر حال د نعمت او عذاب زغملو وس ولري خو عيني له هغه شخصيت سره چې ورسره دی. په



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

هغه ورځ به ټول انسانان پر درو ډلو تقسیم شي یوه د حق پر لور وړاندي کېدونکې ډله ده، دویمه د عامو نیکانو ډله ده چي عملنامې به یې په راسته لاسونو ورکړل شي او درېیمه د مجرمینو هغه ډله ده چي لاسونه به یې تړلي وي او عملنامې به یې د شا له خوا په چپه لاس ورکړل شي.

همدلته به حساب وشي او د حجت پوره کولو لپاره به شاهدان را حاضر کړي، انبیاء علیهم السلام به هم د شاهدۍ لپاره را وبلل شي د خلکو ژبې، لاسونه، پښې، غوږونه، سترګې او د بدن ویښتان به هم شاهدي ورکړي، تر دې وروسته به فیصله وشي او خلک به جنت و دوزخ ته ولېږل شي. د دوزخ په اړه قرآن ویلي چي دا د اوسېدو ډېر بد ځای دی، هلته به داور عذاب وي، دا اور به ځیرې وسوځي، شکلونه به خراب کړي، پوست به له منځه یوسي او زړونو ته به ورسېږي، د مجرمینو په غاړه کي به طوقونه او په پښو کي به یې ځنځیرونه وي، هر شی به د افسوس وړ شي، تر ټولو غمونکې لا دا چي خلک به د الله د جلوې او د هغه د رحم له نظره بې برخې وي او په دوی کي به د ځینو مجرمینو پر لور کتل هم نه خوښوي.

د دې بر خلاف جنت د نیکانو د اوسیدو ځای دی چي پراختیا یې د ټولو کایناتو په اندازه ده، دا د مزو او دوام ځای دی. هلته له ژوند سره د مرګ، له خوند سره د درد، له خوښۍ سره د غم، له اطمنان سره د نا ارامۍ، له راحت سره د تکلیف او له نعمت سره د عذاب هیڅ تصور



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

نه شته، د هغه ارام ابدي دی، مزې يې نامحدودې دي، شپه او ورځ يې همېشه دوام لري، سلامتيا يې تل پاتې ده، خوشالي يې پای نه لري، جمال يې بې زواله او کمال يې بې حسابه دی. الله په دې کې د خپلو بندګانو لپاره هغه څه برابر کړي چې نه سترګو ليدلي، نه غوږو اوريدلي او نه د انسان په زړه کې د هغو خيال ور تېر شوی دی.

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(۲)

# اخلاقيات

تر ايمان وروسته د دين تر ټولو مهمه غوښتنه د اخلاقو پاکوالی دی، معنا دا چې انسان له مخلوق او خالق دواړو سره خپل تړلی عمل اصلاح کړي. همدې ته نېک عمل ويل کېږي، په ټول شريعت کې د همدې بيان دی د حالاتو له بدلېدو سره يقينا شريعت هم بدل شوی مګر ايمان او نېک عمل اصل دين دی. په هغو کې هيڅ تغير او بدلون نه دی راغلی، قرآن په دې باره کې ښېخي ښکاره دی چې که کوم څوک الله ته راشي او هغه دا دواړه ولري د ده لپاره جنت دی او تل به پکې اوسي.

له دې سره – سره الله دا خبره هم بيان کړې ده چې په څه ډول الله تعالی انسان ته د ليدلو لپاره سترګې او د اوريدو لپاره غوږونه ورکړي عينې په همدې ډول يې د نېکۍ او بدۍ د فرق پېژندلو لپاره يو اخلاقي حس هم ورکړی دی. دی يوازې يو حيواني او عقلي موجود نه دی، له دې سره – سره يو اخلاقي موجود هم دی معنا دا چې د خير او شر امتياز او د خير د ښه والي او شر د بدوالي احساس د انسان له پيدايښت سره د ده په زړه او دماغ کې ځای پر ځای شوی دی . دا امتياز يو جهاني حقيقت دی، له همدې وجې چې کله يو ډېر بد انسان هم ګناه کوي نو په اولنۍ مرحله کې يې د پټولو په کوشش اخته وي او د نېکۍ حالت هم دغسي دی. انسان له نېکۍ سره محبت کوي، له



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

هغې سره په ځان کي د عزت او احترام احساسات ويني او کله چي د ځان لپاره کومه ټولنه جوړوي نو حتما د حق او انصاف لپاره يو نظام را منځ ته کوي. همدا د خير او شر د فطري کېدو ثبوت دی، په دې کي شک نه شته چي انسان ځيني وختونه د بدی په حق کي پلمې هم جوړوي مګر کوم وخت چي په دې پلمو اخته وي هماغه وخت پوهېږي چي دا باني يې د خپل فطرت پر خلاف دي ځکه که همدغه بدي بل څوک له ده سره وکړي نو له څه شک پرته يې بدي بولي او پر خلاف يې ټينګ درېږي. البته د فطرت په دې جوړښت کي د اشخاصو، وختونو او حالاتو له مخي ډېر اختلاف ممکن وو، دا د الله مهرباني ده چي دا امکان يې ختم کړ او په کوم ځای کي چي د ډېر اختلاف ويره وه هلته يې د خپلو پيغمبرانو په واسطه خير او شر بېخي معلوم کړل. د پيغمبرانو دا هدايت نور تر قيامته په قرآن کريم کي خوندي دی، انسان چي په خپل ځان کي څه ويني دا هدايت يې تائيد کوي. د انسان وجداني علم بلکي تجرباتي پوهه، دژوند قوانين، د وجود له حالاتو استنباط شوی علم او عقلي فنون ټول د دې شاهدي ورکوي چي په نتيجه کي يې د اخلاقو فضايل او خبايث په پوره قاطعيت سره ټاکل کېږي.

## بنيادي اصول

په دې باب کي چي کوم شی د بنيادي اصولو حيثيت لري هغه دادی چي الله تعالی انسان ته د عدل و احسان او له خپلوانو سره د



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مرستې حکم کوي، له بدکاریو، ناوړه چارو او بغاوت څخه یې را ګرزوي. دا ټول شیان بالکل طبعي دي ځکه نو د خدای په دین کي تل منل شوي دي. د تورات لس احکام پر همدې بنا دي او قرآن کریم هم په خپلو ټولو اخلاقي احکامو کي د هغو تفصیل بیان کړی دی چي دلته به یې وضاحت وکړو.

لومړی شی عدل دی، د دې معنا داده چي د چا پر بل کوم حق واجب وي هغه له څه کمبوت او زیادت پرته په انصاف سره ورکړل شي، د حق خاوند کمزوری وي او که غښتلی او زموږ خوښېږي که نه.

دویم شی احسان دی، دا تر عدل پورته یو بل شی او د ټولو اخلاقیاتو جمال او کمال دی، د دې مطلب دا نه دی چي صرف حق ورکړل شي بلکي مطلب یې دادی چي موږ له نورو سره د خپل منځي مراعات او سخاوت چلند وکړو، هغوی ته تر خپل حق زیات شی ورکړو او د خپل حق په کمبوت راضي شو دا هماغه شی دی چي په ټولنه کي د مینې، محبت، قربانۍ، اخلاص، منني، لوړو اخلاقو او خیر غوښتنې ارزښتونو ته وده ورکوي او د ژوند خوږوالی و خوند زیاتوي.

درېیم شی له قریبانو سره کومک دی، دا د احسان یو مهم ښاخ دی او د هغه یو خاص شکل بیانوي. د دې مطلب دادی چي قریب صرف د دې حقدار نه دی چي له هغوی سره د عدل او احسان چلند وشي بلکي



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د دې حقدار هم دی چې خلک په خپل مال کې د هغوی حق ومني، په هيڅ حال کې يې ورېې او بې جامې خوشې نه کړي، له خپلې کورنۍ سره چې تر کومه ځايه ممکنه وي د هغوی ضرورتونه پوره کړي او په سخاوت سره يې د بشپړولو کوشش وکړي.

د دې په مقابل کې يې له دې درو شيانو منعه کړې ده:

لومړی فواحش دي چې مراد يې زنا، لواطت او له هغو سره تړلي شيان دي.

دويم منکرات دي يعنې هغه کارونه چې انسان يې عموما بد بولي، تل يې ناسم بللي او بدوالی يې داسې ښکاره دی چې هيڅ دليل ته ضرورت نه لري. د دين او ملت او تهذيب و تمدن په هر ښه کولتور کې هغه بد بلل کېږي، قرآن د دې لپاره يو ځای د منکر او بل ځای د اثم د لفظ په کارولو واضحه کړې چې له دې څخه مراد د نورو پر حقوقو اثر کوونکي کارونه دي.

درېيم شی بغاوت دی، يعنې دا چې انسان له خپل قوت، طاقت او زور و اثر څخه ناروا ګټه واخلي، تر حدودو تېر شي او د خالق يا مخلوق حقوقو ته لاس وغزوي.

## فضايل او خبايث

قرآن کريم دا لنډ بيان داسې تشريح کړی چې د اخلاقو فضايل او خبايث يې په معلوم شکل بيان کړي دي، هر ځای چې د دې شيانو بيان راغلی هلته د بيان سلسله هم د شرک له منعې پيل شوې او په



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پای کي هم پرېږ ټينګار شوی دی. په قرآن کي دا طريقه د يوه شي د اهميت ښودو لپاره غوره کېږي، د دې معنا داده چي په مابين کي کوم شيان ياد شوي د هغو لپاره ګواکي دا عقيده د کلا د دېوال په څېر ده چي په موجوديت کي يې ښار خوندي وي او که کومه کمزوري پکي پيدا شي نو ټول ښار له خطر سره مخ کېږي. په دې کي شک نه شته چي په اخلاقي فضايلو کي توحيد همدا ځای لري، دا د هغه عدالت تر ټولو لويه او بنيادي غوښتنه ده چي قرآن کريم يې امر کړی دی له همدې وجې شرک لوی ظلم بلل شوی او قرآن يې په پوره صراحت سره دا نتيجه هم بيان کړې چي دا د الله په نزد يو نه بخښل کېدونکی جرم دی او خلک به يې د سزا په ډول شړل شوي او ملامت جهنم ته واچول شي.

شرک څه شی دی؟ که له الله تعالی سره کوم شی معبود وبلل شي نو قرآن يې په خپله اصطلاح شرک بولي، ددې معنا داده چي يو شی د خدای له ذات او يا خدای د هغه له ذات څخه وبلل شي، يا د تخليق او مخلوقاتو د چارو په تدبير کي يو چا ته حصه ورکړل شي او په دې ډول په يوه نه يوه درجه هغه له الله سره سيال وبولي.

د لومړي صورت مثال د عيسی عليه السلام، مريم رضی الله عنها او ملايکو په باره کي د عيسايانو او عربو د مشرکينو عقايد دي، د صوفيانو د وحدت الوجود عقيده هم دغه ډول ده.



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د دویم صورت مثال په هندوانو کې د برهما، وشنو، شیو او په مسلمانانو کې د غوث، قطب، ابدال، داتا او غریب نواز په څېر شخصیتونو عقیده ده، د خبیثو روحونو او شیطانانو تصرفات هم باید دغه ډول وبلل شي.

پر دې سربېره چې په دې باب کې کوم احکام راغلي تفصیلات یې دادي:

## د الله تعالی عبادت

لومړی حکم دادی چې کله له الله تعالی پرته بل معبود وجود نه لري نو باید عبادت هم د ده وشي، د دې عبادت په باره کې مو مخته وویل چې حقیقت یې خاکساري او تواضع ده چې په لومړي سر کې د پرستش یا لمانځنې په شکل ښکاره کېږي او بیا د انسان عملي وجود ته په پام همدا پرستش له اطاعت سره یو ځای کېږي. د لومړني شکل علامې تسبیحات، حمد، دعا، مناجات، رکوع، سجده، نذر، قرباني او اعتکاف دي. په دویم صورت کې انسان د یو چا لپاره خدایي اختیارات مني او د یو خپلواک، شریعت جوړوونکي او شارع په ډول د هغه حکم ته سر ټیټوي. د الله فیصله داده چې په دې کې هیڅ شی هم له ده پرته د بل چا لپاره جواز نه شي درلودای، له همدې وجې که څوک د بل چا تسبیح و حمد وایي، له هغه دعا او مناجات غواړي، هغه ته رکوع او سجده کوي او یا یې حضور ته نذر او قرباني وړاندي



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کوي، اعتکاف يې کوي او يا د خدايي اختياراتو په درلودو د هغه تابع وي نو معنا يې داده چې ده د الله د دې فيصلې له منلو انکار کړی دی.

## له مور و پلار سره ښه چلند

دويم حکم دادی چې له مور و پلار سره ښه چلند وشي، په ټولو اسماني کتابونو کې د همدې امر شوی دی. په دې کې شک نه شته چې د انسانانو تر منځ د مور و پلار حق تر بل هر چا اول دی ځکه نو د الله تر عبادت وروسته اول د همدې د ادا کولو امر شوی دی. وجه يې داده چې د انسان مور و پلار د هغه د پيدا کېدو او پالنې واسطه وي. د مور او پلار دواړو په باره کې د الله وصيت دادی چې بايد انسان د خپل رب تر شکر وروسته له دوی څخه ډېره مننه وکړي او دا مننه صرف په ژبه نه ادا کېږي، دا يو څو لازمي غوښتنې لري چې په قرآن کې بيان شوې دي. لومړۍ خبره يې دا کړې چې انسان بايد له مور و پلار سره داسې ژوند وکړي چې په ښکاره او پټه هغوی پرې ګران وي، د دوی پر خلاف په زړه کې هيڅ بې زاري پيدا نه کړي، د دوی په مخ کې د بې ادبۍ يوه خبره ونه کړي بلکې د مينې، شرافت او عزت طريقه خپله کړي، د هغوی خبره ومني او د بوډاتوب په کمزورۍ کې د هغوی زړه خوشاله وساتي او تسلي ورکړي.

دويمه خبره يې دا کړې چې تل د مور و پلار اطاعت وکړي چې دا اطاعت او فرمانداري بايد د پوره مينې، رحمت او شفقت له جذبې سره وي. مور و پلار چې په څه ډول خپل ماشومان د مرغانو په څېر په



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

خپلو مېړو کې پټوي اولادونو ته هم په کار ده چې په بوډاتوب کې همدغسې دوی د خپلې مينې او اطاعت په مېړو کې پټ کړي ځکه د مور و پلار د شفقت حق که تر يوه حده ادا کېدای شي نو له همدې احساس سره ادا کېدای شي. له دې پرته هيڅوک نه شي کولای د هغوی حق ادا کړي.

درېيمه خبره يې دا کړې چې له دې سره –سره هغوی ته پر له پسې دعا وشي چې اې ربه! دوی په څه ډول له مينې او شفقت سره په ماشومتوب کې مونږ پاللي يو همامغسې اوس په بوډاتوب کې ته پر دوی رحمت وکړه. دا دعا د مور و پلار حق ده او د هغه مسئوليت يادونه ده چې د مور و پلار په اړه اولاد ته راجع کېږي. په دې سره د محبت هغه جذبه هم پر حرکت راځي چې الله تعالی له مور و پلار سره د ښه چلند په معامله کې د هغې غوښتنه کړې ده.

له مور و پلار پرته چې په دې دنيا کې کوم تعلقات پيدا کېږي په هغو کې هم بايد د انسان چلند درجه پر درجه همداسې وي، الله تعالی د خپلوانو، قريبانو، يتيمانو، مسکينانو، ګاونډيانو، مسافرو او تر لاس لاندې کسانو په اړه هم خلکو ته د دې شيانو لارښوونه کړې ده.

## د الله تعالی په لار کې نفقه کول

درېيم حکم دادی چې د الله تعالی په لار کې دې خيرات وشي، د دې معنا داده چې الله تعالی انسان ته کوم نعمتونه ورکړي نو دی چې يې څرنګه پر خپل ځان مصرفوي همدا ډول دې د خپلو شخصي او



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کاروباري ضرورتونو تر پوره کولو وروسته پر نورو انسانانو هم ولګوي. له قرآن څخه ښکاري چې په دنيا کې د الله تعالی د يو بنده په توګه د اوسيدو لپاره د دوو شيانو ضرورت دی يو دا چې له خالق سره د انسان تعلق سم وي، دويم دا چې له مخلوق سره په سمه طريقه رابطه پيدا کړي. لومړی شی په لمانځه تر لاسه کېږي ځکه هغه له الله تعالی سره د مينې اوله نښه ده او دويم شی په خيرات سره چې د ده له مخلوق سره د محبت اوله علامه ده. بدله يې د خدای مينه ده ځکه انسان چې څه لګوي هغه يې د حقيقت له مخې په اسمان کې را يو ځای کوي او د عيسی عليه السلام په الفاظو د دې په نتيجه کې د ده زړه هم له هغه ځای سره تړلی وي.

خيرات د خپلوانو، قريبانو، يتيمانو او مسکينانو حق دی چې ادا کول يې ضروري دي. په دې کې کوتاهي انسان د الله په نزد د حقوقو د غصب مجرم ګرزولای شي، قرآن يو ځای دا خبره په ښکاره کړې چې که کوم څوک دې حقوقو ته له پام پرته مال او دولت را غونډوي نو دا کنز دی او سزا يې د جهنم اور دی چې له دې څخه بايد هر مومن بنده په خپل رب پناه وغواړي.

د دې خيرات توفيق هغو خلکو ته ورکول کېږي چې په خپلو مصارفو کې احتياط کوي او الله چې دوی ته کوم رزق ورکړی هغه خپل کوم تدبير او حکمت نه بلکې د الله مهرباني بولي، همدلته يې دوې نورې خبرې کړې د: يوه دا چې د مال بې ځايه اسراف ناروا دی



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ځکه دا د الله نعمت دی او په دې باره کې سمه طريقه داده چې انسان يې له احتياط او سپما سره پر خپلو روا ضرورتونو ولګوي او څه چې پاتې شي هغه د حقدارو امانت وبولي او په پوره احتياط سره يې ادا کړي ځکه کوم څوک چې په خپلو ضرورتونو کې د احتياط او اعتدال لار نه خپلوي هغه د خپل شوق له پوره کولو د دې فرصت نه تر لاسه کوي چې د نورو حقوق ور کړي. الله ويلي : څوک چې خپل مال دا ډول شينډي هغه د شيطان ورور دی او شيطان د خپل رب ډېر ناشکره دی. شيطان دی غلطوي، د خپل ځان پر لار يې روانوي او مال يې پر هغو کارو لګوي چې د خدای د رضا پر ځای د هغه قهر تر لاسه کوي. په دې معامله کې يې د احتياط طريقه داسې بيان کړې چې انسان دې خپل لاس نه يو مخ بندوي او نه دې بېخي خلاص پرېږدي چې د ضرورت پر وخت محتاج او ملامت وي بلکې په احتياط سره دې مصرف کوي او هر وخت دې يو څه ساتي چې د ځان او نورو حقوق پر وخت ادا کړای شي. دويم دا چې د روزۍ پراختيا او تنګي د الله په حکمت او اراده پورې اړه لري، د انسان مسئوليت صرف دادی چې په پوره خوارۍ سره يې وسايل پيدا کړي څوک چې په دې حقيقت نه پوهېږي هغوی پر نورو لګښت څه چې ډېر وختونه يې زړه دومره سختېږي چې د غربت له وېرې خپل اولادونه وژني. په دې کې په خصوصي ډول د عربو د جاهليت پر مهال دژوندېو نجونو هغه ظالم رواج ته اشاره ده چې لويه وجه يې د دوی دا مفکوره وه چې ښځه



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ګټه نه شي کولای نو ولي يې د پالنې بوج پورته کړو؟ الله ويلي چې هغوی مه وژنئ، موږ تاسو ته هم رزق درکوو او دوی ته هم. بې غمه اوسئ! الله په هر حالت کې خپل بندګان ساتي او د دوی له حالت څخه ناخبره نه دی.

## عفت او پاک لمني

څلورم حکم دادی چې هيڅوک دي زنا ته نه نږدې کېږي ځکه دا ښکاره بې شرمي او ډېره بده طريقه ده، معنا دا چې بدوالی او بې شرمي يې هيڅ دليل او منطق ته ضرورت نه لري، د انسان فطرت يې هميشه يوه لويه ګناه او سخت جرم بولي او تر څو چې بېخي مسخ شوی نه وي همداسې به يې بده بولي. د انسان په هکله دا حقيقت بېخي د رد وړ نه دی چې دی د کورنۍ ادارې ته د هوا او اوبو په څېر ضرورت لري، دا اداره له سمو فطري احساساتو سره صرف په هغه صورت کې دوام کولای او پاتېدای شي چې مېړه او مايينه تر خپل منځ د ابدي اوسيدو تعلق ولري که دا شی نه وي نو په دې سره له فطري او روحاني احساساتو پرته د حيواناتو يوه رمه را منځ ته کېدای شي خو يوه ښکه ټولنه او صالح تمدن نه شي را منځ ته کېدلای.

د دې کار د همدې بدۍ له وجې الله تعالی نه يوازې ويلي چې زنا مه کوئ بلکې ويلي يې دي چې ور نږدې کېږئ هم مه، معنا دا چې زنا ته له هڅوونکو، ترغيبوونکو او ور نږدې کوونکو ټولو شيانو لرې اوسئ، په قرآن کې چې د نارينه او ښځې د ګډ اوسيدو کوم اداب بيان



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

شوي هغه له همداسي شيانو څخه د انسان د ساتنې لپاره دي. د هغو مطلب دادی چې نارينه او ښځې دواړه دي د خپلو بدني او رواني تقاضاوو له مخې خپل نظرونه تر ډېره وساتي او په خپل بدن کې دې د خطر ځايونه تر ډېره پټ کړي، داسې څه نه دي وايي چې د يو بل جنسي خواهشات وپاروي ځکه شيطان چې کله په کومه ټولنه کې د زنا عام والی غواړي نو خپل کار ډېر وخت له همدې شيانو پيلوي. له قرآن څخه معلومېږي چې پر ادم او حوا يې هم له دې لارې حمله کړې وه، الله تعالی د زنا د عاملو او هغې ته د تشويقولو کارونه پر همدې بنا ډېر لوی جرمونه بللي دي.

## د انساني نفس حرمت

پنځم حکم دادی چې هيڅوک دې نه وژل کېږي، د دين او اخلاقو له مخې چې انساني نفس تل کوم عزت درلودلی دا د هماغه بيان دی. قرآن ويلي چې په دې هکله لومړی پر بني اسرائيلو ټينګار شوی وو او الله پر دوی دا خبره لازمي کړې وه چې په حقيقت کې د يوه انسان قتل د ټول انسانيت قتل دی، له دې سره قرآن دا خبره هم بيان کړې چې د دې جرم د کوونکو معامله صرف له الله تعالی سره نه ده د وژل شوي له خپلوانو سره هم ده او الله هغوی ته پوره اختيار ورکړی دی ځکه نو د دنيا هيڅ محکمه د دوی له خوښې پرته له قاتل سره هيڅ رعايت نه شي کولای. دا د محکمې مسئوليت دی چې که هغوی پر



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

قصاص ټينګار کوي نو له دوی سره دي مرسته وکړي او دوی چي څه غواړي له پوره طاقت سره دي په سم ډول نافذ کړي.

## د يتيم په مال کي خيانت

شپږم حکم دادی چي د يتيم په مال کي دي هيڅ ناروا تصرف نه کيږي، د دې حکم الفاظ هماغه ډول دي لکه پورته چي له زنا څخه د منعې لپاره ويل شوي وو يعني د يتيم د ګټې او ښه والي له ارادې پرته د هغه مال ته نژدې هم مه ورځئ معنا دا چي د يتيم په مال کي صرف هغه تصرف روا دی چي د هغه د ساتنې او ګټې لپاره وشي او تر هغه وخته دي دوام وکړي چي يتيم په لويدو د خپل مال د ساتلو لياقت نه وي پيدا کړی.

## د وعدې پوره کول

اووم حکم دادی چي هر ډول وعده دي په هر حالت کي پوره شي. ده ويلي چي په دې باره کي به پوښتنه وشي، د قرآن په ځينو نورو ځايونو کي هم دا حکم په همدومره ټينګار سره بيان شوی دی. په قرآن کي چي د جهاد او قتال پر مهال تر ټولو کوم مهم هدايت راغلی هغه د وعدې پوره کول دي. رسول الله او د هغه ملګرو ته يو ځای د عربو له مشرکينو سره د ټولو تړونونو په ختمولو د اخيري ګام اخيستلو امر شوی دی مګر دومره خبره يې هلته هم بيان کړې چي که کوم تړون تر ټاکلي وخته وي نو موده دي يې حتما پوره شي. په يوه بل ځای کي يې زيات وضاحت کړی چي که له کوم قوم سره تړون



www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

شوى وي او هغوى پر مسلمانانو ظلم هم کوي نو د تړون په مخالفت سره له هغوى سره مرسته نه شي کېدای.

## د ناپ او تول پوره کول

اتم حکم دادی چې په ناپ او تول کې دې زيادت او کمبوت نه کېږي، الله تعالى ويلي چې ځمکه او اسمان يې پر يوه ميزان درولي دي. له همدې وجې ضروري ده چې انسان د خپل اختيار په دايره کې انصاف وکړي، تل په سمه پيمانه يو شی ناپ کړي او په سم ترازو يې وتلي. له دې څخه معلومه شوه چې دا يو ډېر لوی حکم دی او په حقيقت کې دانصاف د هغه ميزان يو ښاخ دی چې په دې دنيا کې وجود لري. له دې څخه که کوم څوک سرغړونه کوي نو معنا يې داده چې د عدالت او انصاف په تصور کې ګډوډي راغلې او پر عدالت د خدای د دريدو عقيده نه ده پاتې. ښکاره ده چې تر دې وروسته به د اقتصاد او ټولنې ټول نظام دړې –وړې شي او د ژوند کولو هيڅ ارزښت به پاتې نه شي. په اجناسو کې د نورو شيانو د ګډولو معامله هم داسې ده، که څوک له شيدو سره اوبه، له بورې سره ريګ او له غنمو سره اوربشې يو ځای کوي نو په همدې جرم اخته دی ځکه دی په پوره تول سره هم اخيستونکي ته د هغه را نيول شوی شی پوره نه ورکوي، دا په حقيقت کې د نورو د حق خوړل دي چې نتيجه به يې په دنيا او اخرت دواړو کې يقينا ډېره بده وي. له همدې وجې يې ويلي



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دي چي کله پيمانه ورکوئ نو پوره ورکوئ او چي کله يې تلئ نو په سم ترازو يې تلئ ځکه دا ښه کار دی او ښه انجام لري.

## پر خرافاتو عقيده

نهم حکم دادی چي کوم شی معلوم نه وي هيڅوک دي په هغه نه پسې کيږي، قرآن خبرداری ورکړی چي دا بايد کومه عادي خبره ونه بلل شي ځکه د انسان غوږونه، سترګې، زړه او دماغ به يوه ورځ د الله په حضور کي ځواب وايي د دې معنا داده چي هيڅ مسلمان د دې حق نه لري چي بد ګوماني وکړي، پر بل چا تور ولګوي، له تحقيق پرته د يو چا پر خلاف ګام واخلي، صرف د شک له وجې اوازې خپرې کړي او يا د خپل رب د ذات، صفاتو، احکامو او هداياتو په باره کي له ګومانونو، خرافاتو او بې بنسټه قياسونو له مخې کومه عقيده خپله کړي.

## غرور او تکبر

لسم حکم دادی چي هيڅوک دي د الله پر ځمکه په غرور سره نه ځي، ځکه دا د متکبرينو او مغرورو کسانو چلند دی. له همدې وجې يې ويلي چي که تاسو هر څومره پر ځمکه د پښو په وهلو تګ وکړئ خو څيرلای يې نه شئ او که هر څومره په لوړ سر مزل کوئ خو د غرونو لوړوالي ته نه شئ رسېدلای.

ښکاره ده چي دا ډول تګ د انسان د باطن بيان دی، دنيا، قدرت، ښکلا، علم، طاقت او داسي نور ډېر شيان دي چي په انسان کي غرور



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پيدا کوي، له دوی شخخه د هر يوه غرور د ده د حرکت په يوه خاص ډول ښکاره کېږي او د دې خبرې دليل وي چې زړه يې د بندګۍ له شعور شخخه خالي دی او د خدايي عظمت هيڅ تصور ورسره نه شته. په کوم زړه کې چې د بندګۍ شعور او د خدايي عظمت تصور وي نو دا د هغو خلګو په سينه کې ويره پيدا کوي چې له تواضع او خاکسارۍ سره ژوند کوي. دوی د غرور او لويي پر ځای سر ټيټي ګرزي، دلته بايد دا خبره هم ياده شي چې د انسان غرور او تکبر صرف د ده له حرکته نه معلومېږي د هغه له خبرو، ډول، جامو، ناستې او ولاړې هر شه شخخه ښکارېږي ځکه نو بايد د داسې ټولو شيانو استعمال منعه وبلل شي چې د يو چا لويي ښيي، د هغه غرور بيانوي، تکبر يې ښيي، پر نورو رعب اچوي او يا د بدماشانو له ډول او طريقې سره تعلق لري ان په ږيره او بريتونو او جامو اغوستلو کې هم بايد د تکبر شکل غوره نه شي. خبره يوازې تر دې ځايه نه ده بلکې د انسان دا باطني کيفيت د ځينو لويو – لويو ګناهونو سبب هم ګرزي، دا يو حقيقت دی چې په حق له پوهېدو سره د هغه نه منل د رنګ، نسل، مقام او نسب په اعتبار خپل ځان لوړ بلل، په نورو د سپکاوي له وجې ملنډې وهل، پر هغوی تور لګول، په بدو نومونو يادول او په غياب کې د هغوی د عيبونو بيانولو په څېر د لويو ګناهونو سبب د انسان همدا ځان پالنه او غرور و تکبر وي. الله تعالی له دې ټولو شيانو شخخه هم په ډېره سختې منعه کړې ده.



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د تـورات د احکـامو پـه څېـر دا د قـرآن لـس احکـام دي، ټـول اخلاقيات د همدې لسو احکامو ښاخونه دي الله چې کوم کارونه لوی ګناهونه بللي او له هغو يې په بې حيايي تعبير کړی دی هغه د همدې احکـامو لـه مخالفت څخـه پيـدا کېږي. قـرآن پـه دې بـاره کـي ښکـي واضح دی چې خلکو ته په قيامت کي د هغو د مخالفت سزا ورکـول کېدای شي، لـه همـدې وجې ضروري ده چې هر مسـلمان پـه دې باره کي احتياط وکړي.

د دې لپاره بايد دې درو شيانو ته پام وشي:

يو دا چې که انسان پـه ناپوهۍ د کوم حکـم مخالفت وکـړي نـو الله يـې نـه نيسـي، د هغـه قـانون دادی چـې کـه بـې اختيـاره يـو ممنوع کـار ترسره شي په حقيقت کي يې ده اراده نه وي کړې نو پر هغه به هيڅ سزا ورنه کړي.

دويـم دا چـې کـه کـوم څـوک ځـان د دې احکـامو لـه مخالفت څخه وسـاتي نـو بدلـه يـې داده چـې الله بـه يـې واړه ګناهونـه پـه خپـل پـراخ رحمت سره ور وبخښي، که نه واړه او لوی ټول ګناهونه به يې په عمل نامه کي ليکلي وي او له ده سره به يې حساب وشي.

درېيم دا چـې کـه پـر چـا احساسـات غالـب شـي او د دې احکـامو مخالفت وکړي نو بايد د توبې پـه ايسـتلو خپـل عمل اصلاح کـړي، د دې لپـاره ضـروري ده چـې څـومره ژر امکـان ولـري توبـه وباسـي، الله پـه قرآن کـي بيـان کـړی چـې پر ده يـوازي د هغـو خلکـو د تـوبې منلـو حق



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

شته چي د احساساتو په غلبه کي کومه ګناه وکړي بيا سمدستي توبه وباسي، د الله په نزد د هغو خلګو توبه هيڅ معنا نه لري چي ټول ژوند په ګناهونو اخته وي او چي کله پوه شي مرګ يې پر سر ولاړ دی نو د توبې – توبې الفاظ وايي. همدا راز په قصد له حقه د انکار کوونکي توبه هم هغه وخت معنا نه لري چي تر مرګه منکر وي.

د توبې د منلو او نه منلو دا دوه شکلونه قرآن بيان کړي دي، تر دې وروسته صرف يو صورت پاتېږي چي يو څوک تر ګناه وروسته سمدستي توبه ونه باسي خو دومره ځنډ يې هم نه وي کړی چي مرګ پرې راشي، د دې صورت په اړه قرآن کريم خاموش دی. دا خاموشي که له يوې خوا اميد پيدا کوي نو خطر هم لري او د قرآن مقصد دادی چي دا حالت د ويرې او اميد تر منځ پاتي شي، د همداسي خلګو په باره کي د شفاعت هيله کېدای شي.

## جمال او کمال

د انسان د اخلاقي وجود بنايست چي کله د خالق او مخلوق دواړو په معامله کي اخيري درجې ته رسېږي نو دا چي کوم اوصاف پيدا کوي او يا د قرآن له مخې بايد پيدا شي هغه هم الله يو ځای بيان کړي دي. دا لس شيان دي او په ټول قرآن کي پرې زياتونه نه ده شوې. د قرآن په نزد د دين جمال او کمال همدا دی، هغه خپل منونکي دې ته رسوي او د هغو د تر لاسه کولو دعوت ورکوي. لاندي د همدې اوصافو يادونه کوو:



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

## اسلام

لومړی شی اسلام دی، دا چي کله په داسي طريقه له ايمان سره ذکر کېږي لکه دلته چي ذکر شوی نو مراد يې د دين ظاهر وي يعني هغه هدايت چي د انسان له قول، فعل، اندامونو او جوارحو سره تعلق لري. که د انسان ژبه د الله او رسول په حکم خلاصېدو او بنديدو ته تياره وي، سترګې يې د هغوی په اشاره ديد کولو او نه کولو ته چمتو وي، غوږونه يې د هغوی په هدايت اوريدل کوي او له اوريدو ځان ساتي، لاسونه يې د دوی په امر حرکت کولو او نه کولو ته په انتظار وي او پښې يې د هغوی په فرمان له تلو او دريدو ځان نه سپموي نو همدا اسلام دی. له قرآن څخه معلومېږي چي د دې ښه نمونه هم انبياء عليهم السلام دي، له همدې وجې لاربنوونه شوې ده چي د تسليم او رضا دې مرتبې ته د رسيدو لپاره دي خلک د هغو شخصيتونو اتباع وکړي چي الله د خپلو رسولانو په توګه را لېږلي دي.

## ايمان

دويم شی ايمان دی، دا د دين باطن دی او دلته يې مطلب هغه يقين دی چي د الله تعالی او د هغه د احکامو په باره کي له حقيقي معرفت سره يو ځای شي. که څوک الله داسي ومني چي د تسليم او رضا په بېخي اخيري درجه کي خپل زړه او دماغ هغه ته وسپاري نو دا سړی د قرآن په اصطلاح مومن دی. د زړه پاکوالی، د عقل رڼا او د ارادو سپېڅلتيا له همدې څخه تر لاسه کېږي، همدا ايمان دی چي پر علم



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

او عمل دواړو اغيز کوي او د انسان پر ټول وجود غوړېږي. د الله په ذکر، د هغه د اياتونو په تلاوت او انساني نفس و شاخوا کې د ده د نښو په ښکاريدو زيادت کوي، په قرآن کې يې غوښتنه دا بيان شوې چې بايد پر درلودونکو يې له الله او رسول پرته بل هيڅ شی دومره ګران نه وي.

## فرمانبرداري

درېيم شی فرمانبرداري ده، دا هغه باطني کيفيت دی چې انسان له پوره اخلاص او ګوښه والي سره تل د خپل رب پر اطاعت ټينګوي. د انسان په وجود کې همدا د عبد او معبود د تعلق تر ټولو ښکاره نښه ده، قانتين هغه خلک دي چې تل د الله بندګي کوي، د غم، خوښۍ، احساساتو، خوند او درد په هيڅ حالت کې له خپل خالق څخه بغاوت نه کوي، د شهوت زور، د احساساتو ډېربښت او د خواهشاتو يرغل يې هم د خدای په مخ کې بې ادبۍ ته نه هڅوي. زړه يې د خدای عرش وي او د شريعت حکم يې د ده په حضور کې ور کول شوی داسي حکم ګڼي چې په دربار کې ولاړ شخص يې د سرغړونې تصور هم نه شي کولای، که غور وکړو نو دا هغه کيفيت دی چې دا دنيا او د هغې ټول مخلوقات يې د حال په ژبه بيانوي.

## صدق

څلورم شی صدق دی، دا د قول، فعل او ارادې درو سره د موافقت او برابرۍ لپاره استعمالېږي معنا دا چې د انسان له ژبې د صداقت خلاف هيڅ



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

خبره ونه وزي، په قول و فعل کي يې تضاد نه وي، له خولې چې هره خبره باسي نو د ژبې او عمل رښتنولي وي، خو له دې سره بايد د نيت او ارادې صداقت هم حتما ملګرى وي. قرآن د دې ضد کردار نفاق او په خپله صداقت اخلاص بللى دى او بيا يې ځاى پر ځاى ويلي چې د خداى په نزد اصل عمل هغه دى چې په زړه کي تيار شوى وي، ځکه نو د صدق لوړه درجه د قول، فعل او ارادې له همدې موافقت څخه را پيدا کېږي.

## صبر

پنځم شى صبر دى، دا په خپل ابتدايي مفهوم له ګډوډۍ او نا ارامۍ څخه د نفس د را ګرزولو لپاره کارېږي وروسته پکي د مشکلاتو او خنډونو پر خلاف په ميړانه، استقلال او ټينګښت سره پر خپل دريځ د دريدو معنا پکي پيدا شوې ده. دا د بې وسۍ او سپکاوي په څېر کوم شى نه دى چې د عجز او وس نه درلودو په حالت کي د مجبوريت له وجې غوره کېږي بلکي د عزت او همت سرچينه او د ټولو اخلاقي کړنو جمال او کمال دى. دا په انسان کي د دې حوصله پيدا کوي چې د ژوند له ترخو تجربو څخه د شکايت او فرياد پر ځاى هغه ومني او د خداى له لوري يې په بللو هر کلى وکړي. د عمل د نتيجې په ځنډيدو خپه نه شي، له ګډوډۍ او نا ارامۍ ځان وساتي، په خپل زړه کي له بدي کوونکو څخه د انتقام جذبه ونه ساتي، د حق د دفاع پر مهال تر مرګه ټينګ ودرېږي، د سختۍ او راحت په حالاتو



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کي نفس کنټرول کړي او څه چي فرض و واجب ګڼي ټول عمر يې ترسره کړي.

د انساني سيرت همدا اړخ دی چي په وسيله يې د خدای او انسان تر منځ هغه تعلق را منځ ته کېږي چي توکل يې بولي، يعني په هر حالت کي پر خدای تکيه وشي، انا لله و انا اليه راجعون د همدې توکل او ځان سپارلو کلمه ده. قرآن ويلي: پر هغو خلګو الله خاصه مهرباني کوي چي دا کلمه مني او په همدې حالت کي له دنيا څخه رخصتېږي.

## تواضع

شپږم شی تواضع ده، د الله تعالی د هيبت، عظمت او جلال له سم تصور څخه چي په انسان کي کومه تواضع، عجز او خاکساري پيدا کېږي قرآن له همدې څخه په خشوع تعبير کوي دا يو باطني کيفيت دی چي انسان د خدای په مخ کي هم سر ټيټی وي او له نورو انسانانو سره يې هم په زړه کي د رحمت او شفقت احساسات پيدا کوي. په لومړي صورت کي يې د اظهار ښه عمل لمونځ په تېره د شپې لمنځونه دي، هغه مهال چي بنده د دنيا له ټولو شيانو څخه په بېلېدو له خپل رب سره پټې خبرې کوي او خپل يوازيتوب د هغه په ذکر او شکر ابادوي. په دويم صورت کي دا حالت د مومن بنده پر ټول شخصيت اغېز کوي او هغه د خپلې کورنۍ لپاره په پوره شفقت د خپلو دوستانو، ګاونډيانو او ملګرو لپاره په بشپړ رحمت او خپلې ټولنې



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

لپاره د هدايت په سرچينه بدلوي، داسي مهربان او صابر انسانان هغه تمدن را منځ ته کوي چي پر ځمکه د خداى جنت، د هر سالم فطرته انسان هدف او د هغه د ارمانونو مرکز وي.

## خيرات

اووم شى خيرات دى، د الله په لار کي د مصرف کولو يوه درجه داده چي انسان له خپل مال څخه فرض زکات ورکړي، دويمه درجه يې داده چي تر خپلو شخصي او کاروباري ضرورتونو کوم څه زيات ولري هغه د ټولنې حق وبولي او کله چي کوم ضرورت پېښ شي نو په پراخ زړه يې پوره کړي. دريمه درجه داده چي خپلو خواهشاتو ته له پام پرته او د خپلو ضرورتونو په قربانولو هم د نورو ضرورتونه پوره کړي، د صدقه يا خيرات کوونکو تعبير دې ټولو صورتونو ته شامليداى شي مګر د صفتونو د بيانولو پر ځاى چي کله دا تعبير غوره کېږي نو په دې سره يې اصلا د هغه د کمال لور ته اشاره وي يعني هغه څوک چي سخي او فياض وي او د الله په لار کي د مصرف کولو هيڅ فرصت له لاسه نه ورکوي. له بندګانو سره په تړاو دا د هغې تواضع اظهار دى چي وړاندي يې يادونه وشوه، په قرآن کي له همدې وجې لمونځ او انفاق يو ځاى ذکر کېږي.

## روژه

اتم شى روژه ده، دا د نفس د کنټرول او صبر د روزنې يو خاص عبادت دى. په قرآن کي يې مقصد دا بيان شوى چي په دې سره تقوا



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پيدا کېږي، د اوصافو د بيانولو پر مهال چي کله د روژه نيوونکو خبره راځي نو مراد يې هغه خلک وي چي دوی له تقوا سره د ډېري ميني په وجه ډېر وخت روژې نيسي. له دې ځخه دا خبره په خپله معلومه شوه چي هغوی له منکراتو ځان ساتي، بد کارونه نه کوي او په خپل ژوند کي د ټولو لوړو اخلاقو ښه نمونه وي.

## د فرجو ساتنه

نهم شی د فرجو ساتنه ده، يعني هغه کسان چي خپل جنسي غړي ساتي دا د نفس د کنټرول او تقوا نتيجه ده. په قرآن کي څو ځايه له لوڅوالي، برېنډتوب او ناوړه اخلاقي کارونو ځخه د ځان ساتونکو لپاره دا تعبير راغلی دی. مطلب دادی چي دوی په بشپړ ډول خپل عفت او پاک لمني ساتي الله چي په کوم ځای کي اجازه کړې له هغه پرته هيڅ وخت نه د هيچا په مخ کي خپل ستر خلاصوي او نه هيڅکله داسي جامې اغوندي چي د دوی د بدن غړي ترې ښکاري او يو ډول جنسي کشش لري. له بې حيا کارونو ځخه د ځان ساتنې له همدې درجې ځخه هغه تهذيب پيدا کېږي چي حيا پکي واکمنه وي او نارينه و ښځه د خپل بدن د ډېر لوڅوالي پر ځای تر ممکنه حده د هغه پوره پټولو ته ناکراره وي.

## ډېر ذکر

لسم شی ډېر ذکر دی، يعني د الله تعالی ډېر يادول کله چي د مومن بنده په زړه کي د خپل رب تصور ښه ځای ونيسي نو بيا هغه صرف



www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org
"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

په معلومو وختونو كي عبادت كافي نه گڼي بلكي تل يې ژبه د خداى په ذكر لنده وي. كله چي كومه الهي نښهويني نو سبحان الله وايي، كار په بسم الله پيلوي، پر نعمت الحمدلله وايي او د خداى شكر ادا كوي. خپله هيڅ اراده او نيت له ان شاء الله او ماشاء الله پرته نه بيانوي، په خپل هر كار كي له الله مرسته غواړي، د هر افت پر راتلو د ده د رحمت غوښتونكى وي، په هر مشكل كي ده ته رجوع كوي، خوب يې د ده له ياد سره ملگرى وي او د را ويښېدو پر مهال د ده نوم يادوي. لنډه دا چي هر وخت او په هره معامله كي يې پر ژبه د الله ذكر وي. صرف دومره نه وي بلكي د الله د ياد لپاره لمونځ كوي، روژه نيسي، قرآن لولي، نفقه كوي، له بديو ځان ساتي، د بدۍ تر كولو وروسته الله يادوي او سمدستي د هغه لور ته رجوع كوي. د ده د ذكر يو شكل فكر هم دى، كه د خداى دې دنيا ته وگورو نو په زرگونو مخلوقات لري، بېلابېل رنگونه او ډولونه لري، د انسان عقل او د هغه كارنامې دي، د سمندر څاپوگانې دي، د سيندونو بهيدل دي، شنه كښتونه او له اسمان څخه را توييدونكې اوبه دي، د شپې او ورځې تگ را تگ دى، د هوا او وريځو تصرفات دي، د ځمكې او اسمان پيدايښت او د هغو حيرانوونكى جوړښت دى، د هغوى گټه او بركتونه دي، د دوى معنويت او حكمت دى، په انساني نفسونو او شاوخوا كي د خداى هغه نښې دي چي هره لحظه ښكاره كيږي. كله چي مومن بنده د الله پر دې نښو غور كوي نو زړه او دماغ يې د خداى په ياد تازه كيږي او له ځان



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

سره وايي چې اې ربه! دا مخلوقات دې عبث نه دي پيدا کړي، دا ستا له علم او حکمت سره ټکر خبره ده چې ته کوم بې معنا کار وکړې، زه پوهېږم چې د دې دنيا د رنګ او بوی پای به حتما د جزا پر يوه داسې ورځ وي چې په هغې کې به هغه خلک له عذاب او رسوايي سره مخ شي چې ستا دا دنيا يوه لوبه بولي او ژوند کوي، زه د هغوی له انجام څخه تا ته پناه در وړم.



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# دویمہ حصہ

# –الکتاب–

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(۱)

# د عباداتو قانون

د دین هدف پاکوالی دی، اخیري درجې ته یې د رسیدو واسطه د الله او بنده تر منځ په سمه طریقه د عبد او معبود تعلق را منځ ته کول دي، دا تعلق چې څومره ټینګ وي انسان د خپل علم او عمل په پاکوالي کې همدومره ترقي کوي. مینه، ویره، اخلاص، وفا، د الله د بې شمیره نعمتونو او احساناتو د شکر او منني احساس ټول د همدې باطني تعلق علامې دي. په عمومي ډول د انسان د شپې او ورځې په ژوند کې په درو شکلونو ظاهرېږي: عبادت، اطاعت او ملاتړ. د انبیاء علیهم السلام په دین کې عبادات د همدې تعلق د یادولو لپاره ټاکل شوي دي، لمونځ او زکات عبادت دی، د قرباني او عمرې حقیقت هم له دې جلا نه دی، روژه او اعتکاف اطاعت دی او حج د الله تعالی لپاره د ملاتړ او نصرت د علامې ښکارول دي.

## لمونځ

لمونځ یو ډېر مهم عبادت دی، که غور وکړو نو د دین حقیقت د معبود پېژندنه او د هغه په حضور کې د ویرې او مینې له احساساتو سره عجز او خاکساري ښودل دي. د دې حقیقت تر ټولو ښکاره اظهار پرستش دی، تسبیح، حمد، دعا، مناجات او رکوع و سجده د دې پرستش عملي شکلونه دي، د لمانځه حقیقت همدا دی او دا هر څه په ډېر ښه توازن سره په خپل ځان کې را نغاړي.



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دا عبادت په دين کي ډېر اهميت لري، په ايمانياتو کي چي توحيد کوم مقام لري هغه په اعمالو کي د لمانځه دی. دا د الله د يادولو لپاره فرض شوی دی، له قرآن څخه معلومېږي چي د الله د اياتونو له ياد څخه چي کوم معرفت حاصلېږي او په دې سره په انسان کي د الله لپاره د مينې او شکر کوم احساسات پيدا کېږي او يا بايد پيدا شي د هغو اوله نتيجه همدا لمونځ دی. دا د اسلام ستن ده، په دنيا او اخرت کي د انسان د مسلمان ګڼلو له شرايطو څخه دی، پر دين د ټينګښت وسيله ده، مشکلات ختموي، ګناهونه له منځه وړي، د حق دعوت پېژندنه ده، د حق پر لار د ټينګښت بنياد دی، د کايناتو فطرت او حقيقي ژوند دی. کله چي د الله پېژندنه، د هغه ذکر و فکر او د نژدېکت احساس کمال ته رسېږي نو په لمانځه اوړي. د دنيا د ټولو خدای پېژندونکو فيصله ده چي اصل ژوند د زړه ژوند دی، د زړه ژوند همدا د خدای پېژندنه، ذکر، فکر او الهي نژدېکت دی. انسان دا ژوند صرف په لمانځه تر لاسه کوي او په لمانځه سره دوام کوي.

## د لمانځه تاريخ

د لمانځه تاريخ د دين د تاريخ په ډول ډېر قديم دی، په ټولو دينونو کي وجود لري او طريقې و وختونه يې هم لږ و ډېر معلوم دي. د هندوانو بجن، د فارسيانو زمزمې، د عيسايانو دعاوې او يهودانو مزامير ټول د همدې شکلونه دي، قرآن وايي: د الله ټولو پيغمبرانو د دې تعليم ورکړی. رسول الله چي د کوم ابراهيمي دين د نوي کولو لپاره را ولېږل



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

شــو پـه هغـه کي يې هم مقام ډېر لوړ دی، کلـه چي قرآن خلکو تـه د لمانځه امر وکړ نو دا د دوی لپاره پردی شــی نه وو، دوی يې په ادابو، شـرايطو، اعمالو او اذکارو ښـه خبر وو ځکه نو دې ته هيڅ ضـرورت نه وو چي قرآن يې تفصــيلات بيان کړي وای. د ابراهيمي دين د رواج له مخې چي هغه په څه ډول ادا کېدی رســول الله د قرآن په امر له ځينو اصــلاحاتو ســره خپلو منونکو ته پريښــود او هغوی يې نســل پرنســل همداسي کوي.

## د لمانځه شرايط

د لمانځه لپاره ضــروري شــيان دادي: لمونځ کوونکی بايد نشــه نه وي او که ښځه وي نو له حيض و نفاس څخه پاکه وي، اودس ولري او تر حيض، نفاس، يا جنابت وروســته يې غسل کړی وي. که په سفر، ناروغۍ او د اوبو په نه موجوديت کي دا دواړه ســخت وي نو تيمم دي ووهي، د لمانځه پر مهال دي قبلې ته مخ کړي، د اوداســه طريقه داده چي لومړی مخ ومينځي، بيا تر څنګلو لا سونه ومينځي، بيا پوره سر مســح کړی او وروســته پښــې ومينځي. کله چي څوک يو وار اودس وکړي نو تر هغه وخته دوام لري چي د اوداسه ماتوونکی کار يې نه وي کړی، د اوداســه احکام د هغه حالت لپاره دي چي اودس نه وي مګر که څوک د خپل زړه خوشالولو لپاره بيا اودس کوي نو هغه ته اجازه ده. د اوداسه ماتوونکي دادي:



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۱) بولې کول ۲) مرداري کول ۳) له اواز سره او یا بې اوازه د باد وتل ۴) د مذي او یا ودیو وتل

که په سفر، ناروغۍ او یا د اوبو په نه شتون کي اودس او غسل دواړه سخت شي نو الله تعالی اجازه کړې چي انسان تیمم وهلای شي، طریقه یې داده چي پر یو پاک ځای دي خپل لاسونه ووهي پر مخ او لاسونو دي را تېر کړی. دا په هر ډول نجاست کي کفایت کوي، که د اودس ماتوونکی کوم شی را منځ ته شي نو تر هغه وروسته بیا وهل کېدای شي او له خپلې مېرمنې سره تر جماع وروسته د جنابت د غسل ځای هم نیسي. پر دې سربېره که د مرض او سفر په حالت کي اوبه موجودې وي نو هم انسان تیمم وهلای شي.

په دې سره ظاهرا کومه پاکي نه تر لاسه کېږي خو که غور وکړو نو په ذهن کي د پاکۍ د اصل طریقې د ساتنې له وجې ډېر اهمیت لري، په شریعت کي عموما دې ته پام شوی چي کله کوم حکم په اصلي ډول نه شي عمل کېدای او یا ډېر سخت وي نو د یوه ور ته شي په صورت یې یاد باقي ساتل کېږي. د دې فایده دا وي چي د حالاتو په عادي کېدو طبیعت د اصلي شکل پر لور ور ګرزېدو ته تیار وي.

## د لمانځه اعمال

د لمانځه لپاره ټاکل شوي اعمال دادي: لمونځ دي د دواړو لاسونو په پورته کولو پیل شي، بیا دي ودرېږي ور پسې دي رکوع وکړي، بیا دي د درېدو لپاره را پورته شي، وروسته دي یو په بل پسي دوې



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

سجدې وکړي او د هر لمانځه په دويم او اخيري رکعت کي دي لمونځ کوونکی پر دواړو زنګنو کښېني. که لمونځ پای ته رسوي نو د ناستې په حالت کي دي د مخ په اړولو ختم کړي.

## د لمانځه اذکار

د لمانځه اذکار دادي: په شروع کي دي الله اکبر ووايي، په ولاړه کي دي الحمدلله تلاوت کړي او بيا دي له خپل وس سره سم د قرآن يوه برخه ووايي، رکوع ته د تلو پر وخت دي الله اکبر ووايي، له رکوع څخه د را پورته کېدو پر وخت دي سمع الله لمن حمده ووايي، سجدو ته د تلو او را پورته کېدو پر وخت دي الله اکبر ووايي، له ناستې څخه د ولاړېدو پر مهال دي هم الله اکبروواييي او د لمانځه د ختميدو پر وخت دي السلام عليکم ورحمة الله ووايي.

الله اکبر (الله تر ټولو لوی دی)، سمع الله لمن حمده (الله د هغه چا خبره واوريده چي د ده ستاينه يې وکړه) او السلام عليکم ورحمة الله (پر تاسو دي سلامتي او د الله رحمت وي). امام دي دا اذکار تل په لوړ اواز وايي، د ماښام او ماخوستن په اولنيو دوو رکعتونو او د سهار، جمعې او اخترانو په لمانځه کي دي هم قرأت په لوړ اواز وويل شي. د ماښام په درېيم او د ماخوستن په درېيم و څلورم کي به هميشه په ټيټ اواز وي، د ماپښين او مازيګر ټول لمونځ به همداسي په پټه خوله کوي او په څلورو رکعتونو کي به يې قرأت په خاموشۍ سره ويل کېږي. همدا په شريعت کي د لمانځه لپاره ټاکل شوي اذکار دي


"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

چي ژبه یې عربي ده، له دې پرته چي لمونځ کوونکی په کومه ژبه وغواړي د تسبیحاتو، حمد، دعا او مناجات په ډول په خپل لمانځه کي هر ډول ذکر ویلای شي.

## د لمانځه وختونه

په شپه او ورځ کي پر مسلمانانو پنځه لمنځونه فرض شوي دي چي وختونه یې دادي: سهار، ماپښین، مازیګر، ماښام او ماخوستن. کله چي د سپیدو سپینه لیکه له توري جلا شي نو سهار دی، د لمر له زوال څخه د ماپښین وخت دی، کله چي تر سر راتیت شي مازیګر دی، د لمر په لویدو د ماښام وخت دی او کله چي د شفق سرخي ختمه شي نو ماخوستن دی. د سهار وخت د لمر تر ختلو، د ماپښین دا تر مازیګره، د مازیګر وخت تر ماښامه، د ماښام وخت تر ماخوستنه او د ماخوستن وخت تر نیمې شپې پوري دی، څرنګه چي د لمر را ختلو او لویدلو پر وخت د هغه عبادت کېدی له همدې وجې په دې دوو وختونو کي لمونځ منع شوی دی. د انبیاء علیهم السلام په دین کي تل د لمانځه وختونه همدا وو.

## د لمانځه رکعتونه

د لمانځه لپاره ټاکل شوي رکعتونه دادي:

سهار: ۲ رکعته

ماپښین: ۴ رکعته

مازیګر: ۴ رکعته



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ماښام: ۳ رکعته

ماخوستن: ۴ رکعته

د لمانځه فرض رکعتونه همدا دي چې پرېښودل به يې په قيامت کې سزا ولري، له هغو صورتونو پرته چې پکې د قصر اجازه ده د هغو کول حتمي دي، له دې پرته نور ټول لمنځونه نفل دي چې کول يې ثواب لري خو پر نه کولو يې د الله له خوا د هيڅ سزا ويره نه شته.

## په لمانځه کې رعايت

که د وېرې، خطر او اړو-دوړ په حالت کې د لمانځه وخت را ورسېږي نو الله اجازه کړې چې د سپرلۍ، حرکت او هر حالت کې چې امکان ولري لمونځ وکړئ. ښکاره ده چې په دې کې جماعت نه شي کېدای او قبلې ته د مخ کولو شرط هم لازمي نه دی. په ځينو وختونو کې به لمونځ پر ټاکلي شکل هم نه شي کېدای، که په کوم سفر کې داسې حالت پېښ شي نو قرآن وايي چې خلک لمونځ کمولای هم شي چې دې ته په اصطلاح کې قصر ويل کېږي. په دې باره کې د رسول الله سنت دادی چې يوازې څلور رکعتيز لمونځ به دوو رکعتونو ته راکمېږي، د دوو او درو رکعتونو په لمانځه کې به هيڅ کمبوت نه وي. د سهار او ماښام لمنځونه به په داسې ځايونو کې هم پوره کوي، ځکه سهار له پيله دوه رکعته دی او ماښام د ورځې وتر دي او دا حيثيت يې نه شي بدلېدای. په لمانځه کې د رعايت له دې اجازې څخه په وختونو کې د تخفيف استنباط هم شوی دی ځکه نو په



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

داسي سفرونو کي د ماپښين او مازيگر او ماښام و ماخوستن لمنځونه يو ځای هم کېدلای شي.

## د جماعت لمونځ

سره له دې چي لمونځ يوازي هم کېدای شي خو غوره داده چي په جماعت او که ممکنه وي په يوه عبادت ځای کي ادا شي. رسول الله د همدې لپاره مدينې ته په رسيدو تر ټولو لومړی مسجد جوړ کړ او د مسلمانانو په هر کلي او سيمه کي د مسجدونو جوړولو رواج له همدې ځايه را منځ ته شو. هغو ته ور تګ او په جماعت لمونځ ډېر ثواب لري، بې له شکه ښځې ترې مستثنا دي خو مسلمان نارينه بايد له عذر پرته ور څخه بې برخې نه شي. د جماعت د کولو طريقه داده:

۱ ) تر لمانځه وړاندي به اذان کېږي چي په اوريدو يې خلک پکي ګډون وکړای شي. رسول الله چي د دې لپاره کوم الفاظ ټاکلي هغه دادي: الله اکبر، اشهد ان لا اله الا الله، اشهد ان محمدا رسول الله، حی علی الصلاة، حی علی الفلاح، الله اکبر، لا اله الا الله.

ترجمه: الله تر ټولو لوی دی، شاهدي ورکوم چي له الله پرته هيڅ معبود نه شته، شاهدي ورکوم چي محمد د الله رسول دی، لمانځه او کاميابي ته راشئ، الله تر ټولو لوی دی، له الله پرته بل هيڅ معبود نه شته.

۲ ) که مقتدي يو وي نو له امام سره دي د هغه راسته اړخ ته يو ځای ودرېږي او که ډېر وي نو امام دي په مابين کي وي او دوی دي تر شا په يوه ليکه کي ودرېږي.



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۳ ) د لمانځه درولو لپاره به اقامت وايي چي د اذان الفاظ پکي تکرارېږي البته دومره فرق لري چي اقامت ويونکی به تر حی علی الفلاح وروسته قد قامة الصلاة ( لمونځ ودرېد ) هم وايي.

۴ ) د لمانځه الفاظ به د خپل مقصد لپاره تر يوه وار زيات تکراروي.

۵ ) که ضرورت وي نو د اقامت الفاظ هم تکرارولای شي.

## په لمانځه کي غلطي

د لمانځه لپاره چي کوم اعمال او اذکار ټاکل شوي که په هغو کي کومه غلطي وشي او يا د غلطۍ شک وي نو سنت دادی چي که د غلطۍ جبران ممکن وي نو تر جبران وروسته او که ممکن نه وي نو له جبران پرته دي د لمانځه په اخير کي دوې زياتي سجدې وکړي.

## د جمعې لمونځ

د جمعې په ورځ پر مسلمانانو لازمه ده چي د ماپښين د لمانځه پر ځای به په دې ورځ يو اجتماعي لمونځ کوي، د دې لمانځه طريقه داده: رکعتونه يې دوه دي، د ماپښين د لمانځه بر خلاف به يې په دواړو رکعتونو کي په لوړ اواز قرأت ويل کېږي، د لمانځه لپاره به اقامت وايي، تر لمانځه وړاندي به امام د حاضرينو د پند او نصيحت لپاره په ولاړه دوې خطبې وايي. تر دويمې خطبې وروسته او د لومړنۍ تر پيلولو وړاندي به امام څو ثانيې کښېني، د لمانځه اذان به هغه وخت کېږي چي امام د خطبې ځای ته راشي. د اذان په کيدو ضروري ده چي



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ټول نارینه مسلمانان که عذر ونه لري خپل مصروفیات پرېږدي او لمانځه ته حاضر شي. د لمانځه خطبه او امامت به د مسلمانانو چارواکي کوي او یوازي په هغو ځایونو کي به ادا کېږي چي د دوی له خوا د دې لمانځه لپاره ټاکلی وي او هلته په خپله دوی او یا د دوی کوم نماینده د امامت لپاره موجود وي.

## د اخترانو لمونځ

د لوی او کوچني اختر په ورځو کي هم پر مسلمانانو لازمه ده چي د لمر تر راختلو وروسته او له زوال وړاندي د جمعې په څېر یو اجتماعي لمونځ وکړي، طریقه یې داده: دوی به دوه رکعته لمونځ کوي، په دواړو رکعتونو کي به قرأت په لوړ اواز ویل کېږي، لمونځ کوونکي به د ولاړې په حالت کي شو زاید تکبیرونه وایي، د لمانځه لپاره به نه اذان وي او نه اقامت. تر لمانځه وروسته به امام د حاضرینو د پند او نصیحت لپاره په ولاړه دوې خطبې وایي، امام به تر لومړۍ خطبې وروسته او د دویمې تر پیل وړاندي شو ثانیې کښېني، د دې لمانځه وینا او امامت به هم د جمعې د لمانځه په شان د مسلمانانو چارواکي کوي او هلته به ادا کېږي چي د دوی له خوا د دې لمانځه لپاره ټاکل شوی وي او هلته دوی په خپله او یا د دوی کوم نماینده د امامت لپاره موجود وي.

## د جنازې لمونځ

د انبیاء علیهم السلام په دین کي د مړیو لپاره د جنازې لمونځ هم ضروري بلل شوی دی، د مړي تر غسل او کفن وروسته چي دا لمونځ په کومه طریقه ادا کېږي هغه داده: مړی به د خپل ځان او قبلې تر منځ



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کښېږدي، مقتديان به تر امام شاته په صف کي ودرېږي، د لاسونو له پورته کولو سره به د الله اکبر په ويلو لمونځ شروع کړي، د اخترانو په ځېر به په دې لمانځه کي هم څو زايد تکبيرونه وايي، د ولاړې په حالت کي به تر تکبيرونو او دعاوو وروسته د سلام په گرزولو لمونځ ختم کړي.

د لمانځه په شکل لږ تر لږه همدا عبادت دی چي مسلمانان پرې مکلف شوي دي، مگر د قران وينا ده چي که څوک په خپل شوق کومه نيکي وکړي الله يې قبلوونکی دی، همدا راز يې ويلي چي د غم او تکليف پر مهال له صبر او لمانځه کار واخلئ. د همدې احکامو په رڼا کي مسلمانان له ضروري لمنځونو پرته عموما نفلونه هم کوي، رسول الله چي دا ډول کوم نفل کړي او يا يې خلک ورته هڅولي تفصيلات يې په رواياتو کي ليدلای شئ.

## زکات

دا تر لمانځه وروسته دويم مهم عبادت دی، انسانانو چي عموما د خپلو معبودانو د تعظيم لپاره کوم اداب خپل کړي په هغو کي يو يې دا هم دی چي د خپل مال، څارويو او حاصلاتو يوه برخه د هغوی حضور ته د نذر په ډول وړاندي کړای شي. له دې څخه په صدقه، نياز، نذر او قربانۍ تعبير کېږي. زکات د انبياء عليهم السلام په دين کي اصلا همدا حيثيت لري او له همدې وجې عبادت بلل کېږي، قرآن څو ځايه د همدې لپاره د صدقې لفظ استعمال کړی او ويلي يې دي



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

چي د زړه له تواضع او عجزسره دي ادا کړای شي. په دې باره کي عام رواج داوو چي هغه به يې له معبد څخه را اخيست او د هغه خادمانو ته به يې ورکاوه چي دوی په دې سره عبادت ته د راتلونکو کسانو خدمت وکړي. اوس دا طريقه نه ده پاتي، د دې پر ځای مسلمانانو ته لارښوونه شوې چي د ټولنيزو اړتياوو لپاره دا مال چارواکو ته وسپاري خو په دې سره يې حقيقت نه دی بدل شوی. دا د الله لپاره خاص دی او بنده چي يې کله ادا کوي نو د قبليدو فيصله به يې هم د هغه په دربار کي کيږي.

## د زکات تاريخ

د دې تاريخ هماغه د لمانځه تاريخ دی، له قرآن څخه ښکاري چي د انبياء عليهم السلام په دين کي د لمانځه په څېر د دې حکم هم هميشه موجود وو. کله چي الله تعالی مسلمانانو ته د هغه د ورکولو امر وکړ نو دا د دوی لپاره نا اشنا شی نه وو، د ابراهيمي دين ټول پيروان يې په احکامو ښه خبر وو، دا له پخوا را پاتي يو سنت وو چي نبي عليه السلام د الله په امر او تر ضروري اصلاحاتو وروسته په مسلمانانو کي جاري کړ.

## د زکات مقصد

که غور وکړو نو مقصد يې له نامه څخه معلوميږي، د دې لفظ اصل وده او پاکي ده. له دې څخه هغه مال مراد دی چي د پاکۍ او طهارت حاصلولو لپاره ورکړل شي، له دې معلومه شوه چي د زکات مقصد



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

هماغه د ټول دين مقصــد دی. زکات نفس له هغو ناولتياوو پاکوي چې د مال د مينې له وجې پکی پيدا کېدای شي، مال ته برکت ورکوي او د انساني نفس د لا پاکېدو سبب ګرزي. دا د الله په لار کي د لګښت کولو تر ټولو کمه غوښتنه ده چې يو مسلمان به يې په هر حال کي پوره کوي، ځکه نو په دې سره هر هغه څه نه تر لاسه کېږي چې تر دې ور ها خوا د خيرات د عامو غوښتنو په پوره کولو حاصلېږي خو په دې سره هم د انسان زړه له خپل رب سره يو ځای کېږي او د الله لور ته هغه بې پروايي تر ډېره حده ختمېږي چې پر انسان د دنيا او د هغې د اسبابو د تعلق له وجې راځي.

## د زکات قانون

د زکات قانون دادی:

۱) د حاصلاتو، تجارت او کاروبار، د وسايلو د شخصي استعمال له شيانو او د نصاب تر حد له کمې سرمايې پرته بل هيڅ شی له زکات څخه مستثنا نه دی. دا به له هر ډول مال، هر ډول حيواناتو او هر قسم حاصلاتو څخه ورکول کېږي، هر کال به د دولت له هر مسلمان وګړي څخه حتما اخيستل کېږي.

۲) فيصدي يې داده: په کال کي ۲ / ۲ ۱ فيصده

که حاصلات صرف د خوارۍ او يا يوازي د سرمايې له وجې را منځ ته شي نو د هر وار حاصلاتو پر مهال به لس فيصده او که د خوارۍ و سرمايې دواړو له عمل څخه را منځ ته شي نو پنځه فيصده به ورکول



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

کېږي. که له دوارو پرته صرف د الهي پيرزوينې په ډول تر لاسه شي نو شل فيصده به ورکول کېږي.

په حيواناتو کي:

۱ ) اوښان:

له پنځو څخه تر څلورويشتو پوري پر هرو پنځو اوښانو يو پسه، له ۲۵ څخه تر ۳۵ پوري يوه يو کلنه اوښه او که هغه نه وي نو دوه کلن اوښ، له ۳۶ څخه تر ۳۵ پوري يوه دوه کلنه اوښه، له ۴۶ څخه تر ۶۰ پوري يوه درې کلنه اوښه، له ۶۱ څخه تر ۷۵ پوري يوه څلور کلنه اوښه، له ۷۶ څخه تر ۹۰ پوري دوې –دوې کلنې اوښې، له ۹۱ – ۱۲۰ پوري دوې درې کلنې اوښې، له ۱۲۰ څخه د زايدو لپاره پر هرو څلويښتو يوه دوه کلنه او پر هرو پنځوسو يوه درې کلنه اوښه ده.

۲ ) غوايي:

په هرو ديرشو کي يو کلن او په هرو څلويښتو کي يو دوه کلن سخوندر کی.

۳ ) پسونه:

لـه ۴۰ څخه تر ۱۲۰ پوري يو پسه، له ۱۲۱ څخه تر ۲۰۰ پوري دوه پسونه، له ۲۰۱ څخه تر ۳۰۰ پوري درې پسونه، له ۳۰۰ څخه په زايدو کي پر هرو سلو يو پسه.

۳ ) په قرآن کي چي د زکات د لګولو کوم ځايونه بيان شوي د هغو تفصيل دادی: فقيران او مسکينان، د دولت د ټولو مامورينو معاشونه،



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

داسلام او مسلمانانو د ګټو لپاره ټول سیاسي لګښتونه، له هر ډول مرييتوب څخه د خلاصون لپاره د تاوان او قرض تر بوج لاندي خلکو د مرستې لپاره، د دين د خدمت او خلکو د خير ښيګڼې لپاره، د مسافرو د مرستې، د هغوی لپاره د لارو، پلونو، سرايونو او نورو د جوړولو لپاره.

۴) د زکات يو ډول د کوچني اختر سرسايه هم ده، دا د يوه فرد لپاره د سهار او ماښام خوراک دی چي پر هر لوی او کوچني يې ورکول لازمي دي او د روژې په ختميدو د اختر تر لمانځه وړاندي ورکول کيږي.

## روژه

تر لمانځه او زکات وروسته دريم مهم عبادت روژه ده، د دې لپاره په عربي کي د صوم لفظ استعماليږي چي له يو شي څخه د منعې او د هغه د پريښودو په معنا دی. دا لفظ د شريعت په اصطلاح کي له خاصو حدودو او قيدونو سره د خوراک، څښاک او جنسي اړيکو د پريښودو لپاره استعماليږي، په (پښتو) کي يې روژه بولي څرنګه چي انسان په دې دنيا کي خپل يو عملي وجود هم لري له همدې وجي چي کله د هغه د عبادت احساس د ده له عملي وجود سره تړاو پيدا کوي نو له پرستش سره اطاعت هم يو ځای کيږي، روژه د همدې اطاعت نښه ده. په دې کي بنده د خپل رب په امر او د هغه د رضا و خوښۍ لپاره ځيني حلال شيان پر ځان حراموي، خپل اطاعت



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پيشوي او په دې توګه ګواکي د حال په ژبه اعلان کوي چي تر الله او د هغه تر حکم بل هيڅ لوی شـی نه شـته. که هغه د فطرت د قانون له مخې کوم روا شی هم د ده لپاره ممنوع وبولي نو د بنده په توګه مناسبه داده چي له څه جنجال پرته د هغه د حکم په مخ کي سر ټيټ کړي.

که غور وکړو نو د الله د عظمت، جلال، لويي او لوړتيا دا احسـاس او اقرار د شـکر ايسـتلو حقيقي بنسـودل هم دي ځکه نو قرآن له همدې وجې روژه د خدای لويي او د شـکر ايسـتل بللي اوويلي يې دي چي د دې مقصـد لپاره د روژې مياشـت ځکه غوره شـوې چي الله په دې مياشت کي تاسو ته د قران په شکل کوم هدايت درکړی په هغه کي د عقل د لارښوونې او حق و باطل تر منځ د فرق او امتياز ښکاره او يقيني دلايل دي. پر همدې د الله لويي بيان کړئ او د هغه شکر وباسئ.

د دې کامله درجه داده چي انسـان د روژې په حالت کي پر ځان يو څو زايد بنديزونه ولګوي او له نورو څخه په ګوښـه کېدو د څو ورځو لپاره په مسـجد کي کښـېني، د الله زيات عبادت وکړي. دې ته په اصـطلاح کي اعتکاف ويل کېږي، که څه هم دا د رمضـان د روژو په څېر لازم شوی نه دی مګر د نفس د اصلاح له وجې ډېر ارزښت لري، د روژې، لمانځه او قرآن کريم د تلاوت د يو ځای کولو له امله چي په دې سـره کوم خاص کيفيت پيدا کېږي او پر نفس د ګوښـه توب، يوازي والي او د الله لور ته د رجوع کولو کوم حالت راځي په دې سـره د روژې اصل مقصد د کمال درجې ته رسېږي.


"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

## د روژې تاریخ

د لمانځه په شان د روژې تاریخ هم ډېر پخوانی دی، قرآن وېلي چي روژه پر مسلمانانو داسي فرض شوې ده لکه پر مخکینیو قومونو چي فرض شوې وه. دا یو حقیقت دی چي د نفس د روزنې لپاره د یوه مهم عبادت په توګه د هغې تصور په ټولو دینونو کي موجود پاتي شوی دی.

## د روژې مقصد

قرآن يې مقصد دا بیان کړی چي خلک الهي تقوا خپله کړي، د قرآن په اصطلاح د تقوا معنا داده چي انسانان په خپله شپه او ورځ کي د الله ټاکلو حدودو ته په پام کولو ژوند وکړي او د خپلو زړونو په تل کي له دې ویره ولري چي که يې کوم وخت دا حدود مات کړل نو له الله پرته يې هیڅوک د هغو له سزا نه شي خلاصولای.

## د روژې قانون

د روژې قانون دادی: د روژې په نیت او صرف د الله د رضا لپاره له خوراک، څښاک او میرمنې سره د جنسي اړیکو پرېښودل روژه ده. دا بندیز له سهار څخه د شپې تر پیلېدو دوام کوي، ځکه نو د روژې په شپو کي خوراک، څښاک او له میرمنو سره جنسي اړیکې بالکل روا دي. د روژو لپاره د رمضان میاشت ټاکل شوې له همدې وجې که څوک په دې میاشت کي موجود وي پر هغه فرض ده چي د دې ټولي میاشتې روژه ونیسي. که څوک د ناروغۍ، سفر او بل مجبوریت له



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وجې د رمضان روژې پوره نه کړای شي نو لازمه ده چې په نورو ورځو کې يې ونيسي او دا شمير پوره کړي. د حيض او نفاس په حالت کې د روژو نيول منعه دي خو دا ډول پاتې شوې روژې به وروسته حتما را ګرزوي.

د روژې کامله درجه اعتکاف دی، که الله چا ته د دې تکليف ورکړي نو هغه ته په کار ده چې د روژې په مياشت کې څو مره ممکنه وي له دنيا څخه په بيلېدو د الله د عبادت لپاره د مسجد په ګوښه کې کښيني او له سختې انساني اړتيا پرته مسجد پرې نه ږدي. که انسان په اعتکاف کې وي نو د روژې د شپو پر مهال پر خوراک او څښاک هيڅ بنديز نه شته، خو له ميرمنې سره جنسي اړيکې ورته روا دي، الله د اعتکاف په حالت کې منع کړې دي.

## حج او عمره

دا دواړه عبادات په ابراهيمي دين کې د عبادت اخيري درجه ده، د دې تاريخ له هغه اعلانه پيلېږي چې ابراهيم عليه السلام د مسجد حرام تر جوړولو وروسته کړی وو چې خلک دې د الهي نذر پوره کولو لپاره را شي او دوی چې پر توحيد د ايمان راوړلو کومه وعده کړې دلته په راتلو دې تازه کړي. د خپل معبود لپاره د تعظيم د جذبې اخيري درجه داده چې د هغه په غوښتنه بنده له خپل ځان او مال سره د هغه په حضور کې د نذر لپاره حاضر شي، حج او عمره د همدې نذر تمثيل دی. دا دواړه يو حقيقت تمثيلوي، فرق يوازې دومره دی چې عمره



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

لنډه ده او حج يې پـه داســي ډول تمثيل كوي چې پـه دې ســره هغه مقصد هم په ښـه ډول ښـكاره كيږي چې د هغه لپاره د ځان او مال د نذر كولو غوښـتنه شوې ده. الله ويلي: د ادم په پيدايښـت سره چې په دې دنيا كې د هغه كومه نقشــه جوړه شــوې ابليس له لومړۍ ورځې د هغه پر خلاف د جنګ اعلان كړی ځكـه نو د الله بنـدګان نور تر قيـامتـه د خپل دې ازلي دښمن او د هغه د اولادې پر خلاف په جګړه بوخت دي. همدا د هغې دنيا ازموينه ده چې په هغې كې له بريا او ناكامۍ ســره د انســان ابدي راتلونكی تړلی دی، موږ د همدې جګړې لپاره خپل ځان او مال الله ته نذر كوو.

د ابليس پر خلاف دا جنـګ پـه حج كې تمثيـل شــوی او هغـه تمثيـل دادی: د الله بنـدګـان د خپـل رب پـه غوښــتنـه د دنيـا لـه مـال، وســايلو، خوندونو او بوختياوو لاس اخلي، د لبيک لبيک پـه ويلو د جګړې ميدان ته ورځي او عيني د مجاهدينو په طريقه په يوه ناوه كې اړوي. په دې بله ورځ پراخ ميدان ته په ورتلو د خپلو ګناهونو بخښـنـه غواړي، پـه دې جنګ كې د كاميابۍ لپاره دعا او زارۍ كوي او د خپل امام خطبه اوري، د تمثيل د غوښــتنې له مخې لمنځونه لنډ او يو ځای كوي، پـه لار كې د لنډ پړاو پـه كولو دويم ځل خپلو تم ځايونو تـه رسـيږي، بيا پر شـيطان ډبرې اوروي، د خپلو حيواناتو قرباني وړاندې كوي، خپل ځان الله ته سـپاري، سـر خرييي او د نذر د ګردشـونو لپاره


"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اصــل معبد او د قربانۍ ځای ته ورځي، بيا له هغه ځايه را ګرځي او په راتلونکو دوو يا درو ورځو کي هماغسي پر شيطان ډبري اوروي.

که فکر وکړو نو په حج او عمره کي احرام د دې خبرې نښــه ده چي مومن بنده د دنيا له خوندونو، بوختياوو او مزو څخه لاس اخيســتی، په دوو ناګنډل شويو څادرونو يې خپل بدن پټ کړی، په لوڅ سر او تر يو څه حده په لوڅو پښو عيني د راهبانو په شکل د خپل رب حضور تــه د ورتلو لپـاره لـه کوره وتلی دی. تلبيـه د هغـه اواز ځواب دی چي ابراهيم عليه السلام د بيت الحرام تر بيا جوړولو وروسته د الله په امر پر يوه ډبره پــه دريــدو لوړ کړی وو اوس دا اواز د نړۍ ګوټ – ګوټ تــه رسېدلی او د الله بندګان د هغه د نعمتونو د اقرار او توحيد په منلو د دې اواز په ځواب کي لبيک اللهم لبيک زړه خوشــالوونکې ترانې وايي، طواف د نذر ګردشونه دي، په ابراهيمي دين کي دا دود له پخوا را پاتي دی چي څوک قرباني کېږي او يا د معبد خدمت ته نذر شي هغه د معبد د قربانۍ ځای مخ ته را تاوېږي. حجر اســود ته لاس ور وړل د وعدې نوې کولو علامه ده، په دې کي بنده هغه ډبره د يو تمثيل په توګه د الله لاس بولي، پر هغې خپل لاس ږدي او د ژمنې او وعدې له پخواني رواج ســره ســم هغه مچوي او خپله هغه وعده نوې کوي چي د اســلام په منلو يې د جنت په عوض کي خپل ځان او مال ټول الله ته سپارلي دي.

سعيې د اسماعيل عليه السلام د قربانۍ د ځای طواف دی، ابراهيم عليه الســلام د صــفا غونډۍ ته په ختلو د قربانۍ دا ځای ليدلی وو او



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بيا يې د حکم د عملي کولو لپاره په لږ بيړني تګ سره د مروا لور ته ولاړ. د صفا او مروا دا طواف هم د نذر هغه ګردشونه دي چې لومړی د معبد مخته او تر هغه وروسته د قربانۍ په ځای کي ترسره کيږي. عرفات د معبد قايم مقام دی چې هلته د شيطان پر خلاف د دې جګړې مجاهدين را غونډيږي، د خپلو ګناهونو بخښنه غواړي او په دې جنګ د کاميابي لپاره دعا او زاري کوي. مزدلفه د لارې پړاو دی چې هلته دوی شپه تېروي او سهار په را پورته کيدو ميدان ته تر ورتلو وړاندي يو ځل بيا دعا او زاري کوي، رمی پر ابليس لعنت او د هغه پر خلاف دجنګ علامه ده. دا عمل له دې ارادې سره ترسره کيږي چې مومن بنده به د شيطان له شاتګ پرته په بل هيڅ شي راضي نه شي. ښکاره ده چې هغه د انسان ازلي دښمن دی، کله چې وسوسې پيل کړي نو بيا چوپ نه کښيني بلکي دا سلسله جاري وي، خو که مقاومت ورسره وشي حملې يې ورو – ورو کمزورې کيږي، د درو ورځو په رمی او د دې لپاره لومړی د لويو او بيا د وړو شيطانانو په ويشتلو همدا خبره بيان شوې ده.

قرباني د نفس فديه ده او د سر د ويښتانو خرييل يا لنډول د دې نښه ده چې د نذر کار خلاص شو او نور بنده د خپل رب د اطاعت او د دايمي غلامۍ له دې نښې سره خپل کور ته ستنيدای شي. له دې څخه اټکل کيدای شي چې دا څومره ارزښت درلودونکی عبادت دی او پر هر وس درلودونکي مسلمان په ژوند کي لږ تر لږه يو ځل فرض شوی دی.



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

## د حج او عمرې مقصد

د حج او عمرې مقصد هماغه دی چې د دې دوو حقيقت دی يعني د الله د نعمتونو اعتراف، د هغه د توحيد اقرار او د دې خبرې يادول چې د اسلام په منلو موږ خپل ځانونه رب العالمين ته سپارلي دي. دا هماغه شيان دي چې قرآن يې له پېژندنې او په زړه و دماغ کې له رسوخ څخه د حج د مقاماتو په ګڼو تعبير کړی دی. دا مقصد په هغو الفاظو سره ډېر ښه واضح کېږي چې د دې عبادت لپاره ټاکل شوي دي، په بشپړ ډول معلومېږي چې د همدې مقصد د ښه بيان او په ذهنونو کې يې د ټينګښت لپاره همدا الفاظ غوره شوي دي، د احرام تر تړلو وروسته د هر چا پر ژبه پر له پسې دا الفاظ وي:

**لبيک اللهم لبيک، لبيک لا شريک لک، لبيک ان الحمد والنعمة لک، والملک لا شريک لک.**

ترجمه: زه حاضر يم اې الله! حاضريم، ته هيڅ شريک نه لرې، زه حاضريم، ستاينه تا لره ده، ټول نعمتونه ستا دي او پاچاهي هم تا لره ده، ته هيڅ شريک نه لرې.

## د حج او عمرې ورځې

د عمرې لپاره کوم ټاکلی وخت نه شته، په بشپړ کال کې چې خلک هر وخت وغواړي کولای يې شي البته د حج لپاره د ذو الحجې له اتمې څخه تر ديارلسمې ورځې ټاکلې دي او په همدې ورځو کې کېدای شي.



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# د حج او عمرې طريقه

د حج او عمرې لپاره ټاکل شوې طريقه داده:

عمره: د دې عبادت په نيت دې احرام وتړي، له دباندې راتلونکي دې دا احرام په خپل ميقات کې وتړي، په مکه کې دننه کسان که هلته هميشـه اوسيږي او يا د لنډ وخت لپاره راغلي وي هغوی دې د حرم له حدودو دباندې يو ځای څخه احرام وتړي او کوم کســان چې له دې حدودو دباندې خو په ميقات کې دننه وي د دوی لپاره هماغه ځای ميقات دی چې دوی پکې اوسيږي له هماغه ځايه دې احرام وتړي او د تلبيې ويل دې شـروع کړي. بيت الله ته تر رسـېدو دې د تلبيې الفاظ وايي، هلته په رسـيدو دې د بيت الله طواف وکړي، بيا دې د صــفا او مروا سـعيې ترسـره کړي، که د قربانۍ حيوان ورسـره وي نو هغه دې حلال کړي، تر قربانۍ وروسته دې نارينه سر لنډ يا وخرييي او ښځې دې د خپلې کوڅۍ له اخيري برخې لږ ويښتان غوڅ کړي او احرام دې پرانيزي.

احرام يوه اصطلاح ده، معنا يې داده چې نور به د شهوت کومه خبره نه کوي، د ښـکلا او ښـايسـت کوم شـی مثلا خوشـبويي او نور به نه کاروي، نوکان به نه پرې کوي، د بدن د کومې برخې ويښتان به نه اخلي او خيري به نه لرې کوي، ان د خپل بدن سـپږې به هم نه مړې کوي، ښـکار به نه وژني، ګنډل شـوې جامې به نه اغوندي، خپل سـر، مخ او د پښو پورتنۍ برخه به لوڅه ساتي، يو څادر به دلنګ په توګه اغوندي



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

او بل به پر ځان را پیچي. البته ښځې به ګنډل شوې جامې اغوندي او سر و پښې به هم پټوي، د دوی لپاره یوازې د څیرې او مخ لوڅول ضروري دي. میقات هغو ځایونو ته ویل کیږي چې د حج او عمرې راتلونکو لپاره د حرم له حدودو دباندې پر یو څه فاصله ټاکل شوي دي چې تر هغو هاخوا ته بې احرامه نه شي تلای، دا پنځه ځایونه دي: له مدینې څخه د راتلونکو لپاره ذو الحلیفه، له یمن څخه د راتلونکو لپاره یلملم، له مصر او شام څخه د راتلونکو لپاره جحفه، له نجد څخه د راتلونکو لپاره قرن او د ختیځ له خوا څخه د راتلونکو لپاره ذات عرق دی. له تلبیې څخه مراد دا الفاظ دي: لبیک اللهم لبیک، لبیک لا شریک لک، لبیک ان الحمد و النعمة لک و الملک لا شریک لک. دا الفاظ د احرام په تړلو شروع کیږي او بیت الله ته تر رسېدو پورې دوام کوي. د حج او عمرې لپاره الله صرف همدا ذکر ټاکلی دی.

د طواف لفظ د هغو اوو چکرونو لپاره استعمالیږي چې له هر ډول نجاست پر ته دبیت الله پر شاوخوا ترسره کیږي، په هغو کې هر ګردش له حجر اسود* څخه پیل کیږي او پر هغې ختمیږي، د هر ګردش په پیل کې د حجر اسود استلام ترسره کیږي. دا د حجر اسود د مچولو یا هغې ته تر لاس ور وړلو وروسته د خپل لاس د مچولو لپاره

---

* دا د بیت الله د پخوانې تعمیر یوه ډبره ده چې د وعدې د نوې کولو د نښې په توګه د هغې په یوه ګوښه کې ځای پر ځای شوې ده.



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

یو نوم دی. د ګڼې – ګوڼې په صـورت کي په لاس نېزه او یا دا ډول بل شي اشاره کول هم کافي بلل کېږي.

له سـعیې څخه مراد د صـفا او مروا طواف دی، دا هم اووه ګردشـونه دي چي له صـفا څخه پیلېږي، له صـفا څخه تر مروا یو او له مروا څخه تر صـفا دویم ګردش دی چي وروسـتی ګردش پر مروا ختمېږي. د قربانۍ په څېر د صفا او مروا سعیې هم دنفل په توګه ترسره کېږي، دا د عمرې لازمي بر خه نه ده. عمره له دې پر ته هم پوره کېږي، د هدی لفظ د هغو حیوانـاتو لپـاره کـارېږي چي پـه حرم کي د قربـانۍ لپـاره خاص شـوي وي، له نورو حیواناتو څخه د جلا کولو لپاره یې پر بدن نښې لګوي او په غاړه کي یې غړوندی اچوي.

## حج

د عمرې په ډول د حج لپاره هم لومړی کار دادی چي په دې نیت احرام وتړل شـي، له بهر څخه راتلونکی به یې په خپل میقات کي تړي، په مکه کي همیشنی او یا د لنډ وخت لپاره اوسېدونکی به یې د حرم له حدودو دباندي تړي خو په میقات کي د اوسـیدونکو لپاره هماغه ځای میقات دی چي دوی پکي اوسـي. له هماغه ځایه دي احرام وتړي او د تلبیې وینا دي شـروع کړي، د ذوالحجې پر اتمه دي منی ته روان شـي او هلته دي واړوي، د ذو الحجې د نهمې په سـهار دي عرفات ته روان شـي، هلته په رسـېدو به امام د ماپښـین تر لمانځه وړاندي د حج خطبه ووایي، بیا به د ماپښـین او مازیګرلمونځ یو ځای



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

قصر وکړي، له لمانځه څخه په خلاصېدو چي څومره امکان لري دالله په حضور کي دي تسبيحات، حمد، تهليل او دعا و مناجات وکړي. ترلمر لوېدو وروسته دي مزدلفې ته روان شي، هلته په رسيدو دي د ما بنام او ماخوستن لمونځ يو ځای او قصر وکړي، شپه دي په همدې ميدان کي تېره کړي، تر سهار وروسته دي دلته هم د لږ وخت لپاره د عرفات په څېر تسبيحات، حمد، تکبير، تهليل او دعاومناجات وکړي، بيا دي منی ته روان شي او هلته دي جمره عقبه ته په رسيدو د تلبيې وينا ودروي او دا شيطان دي اووه ډبرې وولي، که د هدی حيوان ورسره وي او يا د نذر و کفارې کومه قرباني ورباندي واجب وي نو قرباني دي وکړي.

بيا دي نارينه سر کم يا وخرېيي او ښځې دي د خپلې کوڅۍ له اخير څخه يو څه وېښتان پرې او د احرام لباس دي وباسي، ور پسې دي بيت الله ته په تلو طواف وکړي. په دې سره به د احرام ټول بنديزونه ختم شي او که تر دې وروسته يې زړه غواړي نو د نفل په توګه دي د صفا او مروا سعيې هم وکړي، وروسته دي منی ته په بيرته راتلو دوې يا درې ورځې تېري کړې او هره ورځ دي لومړی جمرة الاولی بيا جمرة الوسطی او تر دې وروسته جمرة الاخری په اوو شګو وولي. د ابراهيم عليه السلام له زمانې څخه د حج او عمرې مناسک همدا دي، قرآن پکي هيڅ بدلون نه دی راوستی يوازي دومره يې کړي چي په دې اړه يې د ځينو فقهي احکامو وضاحت کړی دی.



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

هغه احکام دادي: لومړی حکم دادی چي الله د حج او عمرې په اړه کوم حرمتونه را منځ ته کړي د هغو تعظیم د ایمان تقاضـا ده چي باید په هر حال کي عملي شي خو که يې بل څوک له پلي کولو انکار کوي نو په بدل کي يې مسلمانان هم حق لري چي هغه ډول ګام واخلي ځکه دا ډول تعظیم د دواړو اړخونو په مراعات سره پلي کېدای شي. یو اړخ يې په شخصي ډول نه شي ساتلای.

دویم حکم دادی چي له دې اجازې سـره – سـره مسـلمانان لومړی اقدام نه شـي کولای دا د الله حرمتونه دي او په ماتولو کي پیل يې یو ډېرېد جرم دی چي په هیڅ حال کي باید ترسره نه شي.

درېیم حکم دادی چي د احرام په حـالـت کي یوازي د وچې د حیواناتو ښکار حرام دی، د سمندري حیواناتو ښکار کول او یا د نورو ښـکار خوړل دواړه روا دي مګر د دې معنا دا نه ده چي خلک دي له دې رخصـت څخه د وړاندي تلو هڅه وکړي، د وچې ښـکار په هر حالت کي منع دی له همدې وجې که څوک قصـدا دا ګناه کوي نو باید کفاره يې ورکړي او دا درې صـورتونه لري. څه ډول حیوان چي ښـکار شـوی وي هماغه ډول یو حیوان دي له کورنیو حیواناتو څخه د قربانۍ لپاره بیت الله ته ولېږل شـي، که دا امکان ونه لري نو مسـکینانو ته دي د هغه حیوان د بیې په اندازه خوراک ورکړي که دا هم نه شي کېدای نو دومره روژې دي ونیسي چي څومره مسکینانو ته خوراک ورکوي.



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پاتي شوه دا خبره چې د حيواناتو بدل څه دی او که د حيوان قرباني سخته وي نو قيمت به يې څه ډول وي؟ په بدل کې به يې څومره مسکينانو ته خوراک ورکول کېږي او يا به څومره روژې نيسي؟ نو د دې پريکړه به له مسلمانانو څخه دوه باوري کسان کوي. د دې لپاره چې د جرم ترسره کوونکي ته د خپل ځان د طرفداري کولو امکان پاتې نه شي.

څلورم حکم دادی چې که د حج او عمرې مسافر په کوم ځای کې بند شي او سفر ته دوام نه شي ورکولای نو داوبښ، غوايي او پسه هره قرباني چې يې په وس پوره وي هغه دې ولېږي او که يې لېږلای نه شي همالته دې قرباني کړي او د سر په کمولو دې احرام خلاص کړي. همدا يې حج او عمره ده، البته په دې باره کې بايد دا خبره واضحه شي چې که قرباني په داسې ځای کې کېږي او يا په منی او مکه کې حلالېږي نو تر هغې وړاندې د سر خرېيل روا نه دي مګر که يو څوک ناجوړه وي يا يې سر کوم تکليف ولري او تر قربانۍ مخته د سر خرېيلو ته مجبور شي قرآن د دې اجازه کړې چې که دا ډول کومه مجبوري پېښه شي نو خلک دې سر وخرېيي خو د روژو، صدقې او قرباني په صورت کې دې فديه ورکړي او له خپل فکر سره سم چې کوم شمير او مقدار سم بولي هغه دې پوره کړي.

پنځم حکم دادی چې که له دباندې څخه راتلونکي کسان په يوه سفر کې حج او عمره دواړه يو ځای کوي نو اجازه لري، طريقه يې داده چې لومړی دې د عمرې په کولو احرام خلاص کړي او بيا دې د ذو



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الحجې پر اتمه په مکه کې دويم ځل احرام وتړي او حج دې وکړي. دا صرف يو رخصت دی چې الله عز وجل د دوه ځله سفر د زحمت له وجې له دباندې شخه راتلونکو حاجيانو ته ورکړی، له همدې وجې به يې دوی فديه ورکوي چې لاندې دوه صورتونه لري: د غوايي، اوښ او پسه کومه قرباني چې ورته اسانه وي هغه دې وکړي او که دا نه شي کولای نو لس روژې دې ونيسي درې د حج په ورځو کې او اووه له حج څخه تر را ستنېدو وروسته. له دې څخه معلومه شوه چې د الله په نزد بهتره همدا ده چې د حج لپاره جلا او د عمرې لپاره جلا سفر وشي، قرآن په صراحت ويلي چې د کومو کسانو کورونه په مسجد حرام کې دننه وي د هغوی لپاره د دې اجازه نه شته.

شپږم حکم دادی چې له منی څخه د ذو الحجې پر دوولسمه هم راتلای شي او که وغواړي نو د ذو الحجې تر ديارلسمې هم پاتېدای شي، الله ويلي: په دواړو صورتونو کې هيڅ ګناه نه شته ځکه اصل اهميت د دې نه دی چې خلک څومره ورځې پاتېږي بلکې د دې دی چې څومره ورځې پاتېږي هغه د الله په ياد او د هغه په ويره کې تېرې کړي.

# قرباني

د دنيا په ټولو دينونو کې قرباني الله ته د نژدې کېدو يوه لويه ذريعه ده او هماغه د زکات حقيقت لري خو دا اصلاً د مال نه بلکې د نفس نذر دی او د هغه حيوان په بدل کې ازادېږي چې موږ يې د هغه پر ځای قرباني کوو.

## د قربانۍ تاريخ



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د دې تاريخ له ادم عليه السلام څخه پيلېږي قرآن ويلي چي د هغه دوو زامنو ( هابيل او قابيل ) خپل نذرونه د الله حضور ته وړاندي کړل نو د يوه نذر قبول شو، د دويم دا قبول نه شو په بابيل کي ويل شوي چي هابيل په دې وخت کي د خپلو پسونو څو لومړني بچيان قربانۍ ته راوړل.

ښکاره ده چي دې طريقې به وروسته هم دوام کړی وي، موږ يې په ټولو دينونو کي اثار وينو البته د ابراهيم عليه السلام تر قربانۍ وروسته چي دې عبادت کوم ارزښت، عظمت او پراختيا تر لاسه کړه تر دې مخته يې يقينا دومره اهميت نه درلود. کله چي هغه ته وويل شول د زوی پر ځای دي حيوان قرباني کړي نو الله وويل: موږ اسماعيل د يوې لويي قربانۍ په عوض کي خلاص کړ، د دې معنا دا وه چي د ابراهيم دا نذر ومنل شو او نور به نسل پر نسل خلک د خپلو قربانيو په وسيله د دې پېښې ياد ساتي. په حج او عمره او د لوی اختر په ورځ کي همدا قرباني ده چي موږ يې د يوه نفل عبادت په توګه له پوره پاملرنې سره ترسره کوو.

## د قربانۍ مقصد

د دې مقصد د الله د شکر ادا کول دي، موږ د قربانۍ حيوانات د خپلو ځانونو د نذر لپاره د يوې علامې په توګه د الله حضور ته وړاندي کوو نو ګواکي د اسلام او تواضع پر هغه هدايت د الله شکر باسو چي ابراهيم عليه السلام يې د خپل يوازيني زوی په قربانولو اظهار کړی



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وو. په دې وخت کې د تکبیر او تهلیل الفاظ د همدې مقصد لپاره ویل کېږي.

که غور وکړو نو دا د پرستش یا عبادت اخیري درجه ده، قبلې ته د ځان او خپل حیوان د مخ په کولو او د بسم الله و الله اکبر په ویلو موږ خپل حیوانات دولاړې یا سجدې په حالت کې له دې احساس سره خپل رب ته نذر کوو چې په حقیقت کې موږ خپل ځان د هغه لپاره نذر کوو.

## د قربانۍ قانون

قانون یې دادی: ټول څاروي قرباني کېدای شي چې باید دا ډول حیوان بې عیبه او د ښه عمر وي، د قربانۍ وخت دلوی اختر د میاشتې یا ذو الحجې پر لسمه له لمانځه څخه تر خلاصېدو وروسته شروع کېږي. د دې ورځې هغه دي چې له مزدلفې څخه تر را ستنېدو وروسته په منی کې د پاتېدو لپاره ټاکل شوې دي. دې ته په اصطلاح کې ایام تشریق ویل کېږي، په دې ورځو کې پر قربانۍ سربیره دا سنت هم را منځ ته شوی چې د هر لمانځه تر جماعت وروسته تکبیرات وویل شي. تر لمانځه وروسته د تکبیر دا حکم مطلق دی، په دې کې شریعت خاص الفاظ نه دي ټاکلي. خلک د قربانۍ غوښه په خپله هم له څه شک پرته خوړلای شي او نورو ته یې هم ورکولای شي.



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(۲)

## د ټولنې قانون

د انســـان خالق هغه ته د يوه د ټولنه خوښـــوونكي حيوان فطرت وركړى دى ځكه چې خپل خالق انسان داسي نه دى جوړ كړى چې په اسمان كې يې په مكمل ډول جوړ كړي او بيا يې د يو ځوان شخصيت په شكل ځمكې ته را ولېږي او وروسته د بوډاتوب او سپين ږيرتوب د مراحلو له تېرولو پرته په همدې ځوانۍ كې له دنيا ولاړ شـــي بلكې د انسان حالت داسي دى چې دى په پر له پسې تيارو كې د يوه كمزوري ماشـوم په شـكل دنيا ته راځي، د مور په غېږ كې سـترګې خلاصـوي، خاپوړې لګوي، د بل په لاس خوراک كوي، د څښنلو او نوري اړتياوې پوره كوي، لومړى پر ځمكـه ښخېږي، پر ګونـډو ځي او بيـا پـه ډېر مشكل سره پر خپلو پښو د دريدو توان پيدا كوي. تر دې وروسته هم ګام پر ګام د بل تكيې ته ضـــرورت لري، تر دې چې د كوچنيتوب او ماشومتوب د څو مراحلو په وهلو د پنځلسو او يا شپاړسو كلونو عمر ته په رســـيدو ځوانېږي او د ځوانۍ دا دوره يې هم تر شـــلو او ديرشـــو كلونو زياته نه وي. تر دې وروسته وينې چې د بوډاتوب نښې را ښكاره كېږي او ډېر وختونه د علم او پوهې لوړو څوكو ته تر رسېدو وروسـته يو ځل بيا د كمزوري ماشوم په شان د نورو رحم او كرم ته مجبورېږي.

د انســان دا حالت حتما غوښــتنه كوي چې د نورو په منځ كې ژوند وكړي، د پيدايښت له شروع څخه د نارينه او ښځې په شكل دا عمومي



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ژوند په خپله په ده کې پروت دی، د پیدا کولو لپاره یې له خپل وجود څخه دباندې تلو ته اړتیا نه لري. کله چې دې دنیا ته راځي نو خپل سامانونه، خیمه او داستوګنې ځای له ځان سره راوړي، په دښته، بیدیا او یا بیابان هر ځای کې خپل مجلس تازه کوي. دانسان تاریخ ښیې چې دانسان په تخلیق کې پټ دې پروګرام ته په پام چې کله ادم علیه السلام داول انسان په ډول دې دنیا ته راغی نو یوازې را ونه لېږل شو بلکې الله د هغه د ملګرتیا لپاره د همده له جنس څخه یوه جوړه ورکړه، بیا له دوی څخه په دې دنیا کې ډېر نارینه او ښځې پیدا شوې تر دې چې کورنی، قبیلې او بالاخره د دولت په شکل ټولنه را منځ ته شوه او په دې کې انسان هر هغه څه تر لاسه کړل چې د ده د پټو استعدادونو دژوندي کولو لپاره ضروري وو.

همدا هغه حقایق دي چې له وجې یې دانبیاء علیهم السلام په دین کې د میړه او مایني د همیشني ژوند طریقه غوره شوې ده، که انسان ته له ما شومتوب څخه تر بوډاتوبه وکتل شي نو معلومېږي چې دانسان دژوند، روانیاتو او عامو اړتیاوو ته په پام همدا طریقه له عقل او فطرت سره برابره ده. له دې څخه چې کومه ټولنه را منځ ته کېږي د هغې په ځینو مهمو معاملو کې دانساني عقل د هدایت لپاره انسان ته دانبیاء علیهم السلام په وسیله یو مفصل قانون ورکړل شوی چې موږ یې تر لاندینیو عنوانونو لاندې بیانولای شو:

## نکاح



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

له یوه او بل شخه د ښځو او نارینه وو د جنسي تسکین حاصلولو روا طریقه صرف نکاح ده، دا په ښکاره له ایجاب او قبول سره د نارینه او ښځې تر منځ د همیشنی ملګرتیا وعده ده چې د خلکو په مخ کې او پر دې مهال د کوم مسئول شخص له لوري تر پند او نصیحت وروسته په پوره احتیاط او سنجیدګې سره تر سره کېږي. په دې کې ښځې هم د نارینه وو په شان د خپلې خوښې واک لري او په الهي حدودو کې دننه د خپلې فیصلې کولو لپاره پوره ازادې دي. د دوی له خوښې پر ته هیڅ شی وربانديي مسلط کېدای نه شي.

## محرمات

د مور، لور، خور، ترور (عمه)، توری (خاله)، خورځې او وریرې سره نکاح ناروا ده الله غواړي چې مور ته د زوی، لور ته د پلار، خور ته د ورور، ترور ته د وراره، توری ته د خورییي، خورځې ته د ماما او وریرې ته دا کا نظر د جنس او شهوت له هر ډول ناولتیاوو پاک وي ځکه په دې خپلوی کې دا ډول علاقه انساني شرافت ختموي او د شرم و حیا له هغه پاک احساس سره بېخي ضد ده چې د انسانانو او حیواناتو تر منځ د فرق وجه ده. د رضاعي خپلوی حکم هم داسې دی، هره هغه خپلوي چې د نسب د تعلق له وجې حرامه وي په رضاعت یا تې ور کولو هم حرامېږي، تر نسب او رضاعت وروسته یو بل تعلق د خسرګنی دی. په دې سره چې کومه خپلوي پیدا کېږي د هغې پاکوالی هم د انساني فطرت لپاره بېخي ښکاره دی ځکه نو د خسر



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

لپاره د نږور او د میره لپاره د خپلې ښځې له مور، لور، خور، توړی، ترور، خورځې او وریرې سره نکاح ناروا ده مګر څرنګه چې دا خپلوي د مابینې او میره له وجې وي او یو ډول کمزوري پکښې وي ځکه نو قرآن کریم دا درې شرایط ورته ټاکلي دي:

یو دا چې یوازې د هغې ښځې لور حرامه ده چې خلوت ورسره وشي.

دویم دا چې د نږور د حرمت لپاره د پلار له ملا څخه د زوی پیدا کېدل ضروري دي.

دریم دا چې د مابینې د خور، ترور، توړی، خورځې او وریرې حرمت تر هغه حالت پورې خاص دی چې د میره او مابینې تر منځ د نکاح تعلق موجود وي.

پر دې خپلوانو سربیره له ناسکه مور او هغې ښځې سره هم نکاح ناروا ده چې د بل په نکاح کې وي.

## حدود او شرایط

نکاح باید په مال یعني ولور سره وي، قرآن ویلي چې دا د نکاح لپاره دالله دیوه ټاکل شوي فرض په توګه یو لازمي شرط دی. نارینه او ښځه چې د نکاح په ذریعه د همیشنۍ ملګرتیا کومه وعده کوي په هغې کې تل د ډوډۍ او نفقې مسئولیتونه د نارینه پر غاړه وي، دا د هماغه مسئولیت علامه (Token) ده. په شریعت کې یې کوم مقدار نه دی ټاکل شوی، د ټولنې رواج او د خلکو فیصلې ته یې پرېښې



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دی. د ښځې ټولنیز حیثیت او د نارینه اقتصادي حالت ته په پام چې دوی څومره ولور وغواړي هغه ټاکلای شي.

د نکاح لپاره پاک لمني هم ضروري ده، یو زاني له پاک لمنې ښځې او یوه زانیه له پاک لمني نارینه سره نکاح نه شي کولای مګر دا چې خبره محکمې ته نه وي رسیدلې او هغوی د توبې و استغفار په ذریعه خپل ځانونه له دې ګناه پاک کړي. همدا معامله د شرک هم ده، څرنګه چې دا نه شي منل کېدای چې په میړه او ماینه کې یو دې د بل پر بستر بیده شي همدارنګه یو مسلمان دا خبره هم نه شي منلای چې د ده په کور کې له خدای سره د بل چا عبادت وشي بلکې دا د هغه په نزد د بل چا پر بستر تر ویدیدو ډېر د کرکې وړ شی دی. البته الله د یهودو او نصاراوو په معامله کې دومره اسانتیا راوستلې چې د دوی له پاک لمنو میرمنو سره یې مسلمانانو ته د نکاح اجازه ورکړې ده، ځکه چې هغوی د شرک په څېر له ناولتیا سره د پوره ککړتیا په موجودیت کې بیا هم اصلاً د توحید منونکي دي.

## حقوق او مسئولیتونه

د کورنۍ اداره هم یو وړوکی حکومت دی، لکه څرنګه چې هر حکومت د خپل جوړښت او دوام لپاره یو مشر غواړي همدارنګه دا حکومت هم د یوه مشر غوښتنه کوي. په دې حکومت کې مشرتوب نارینه ته هم ورکول کېدای شوای او ښځې ته هم، قرآن ویلي دي چې د نارینه د ځینو طبعي استعدادونو له وجې مشرتوب ده ته ورکول شوی



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

او د يوې لازمي نتيجې په ډول له ښځو غوښتنه شوې چې دوی بايد لومړی له خپلو ميړونو سره د اطاعت او امر منلو چلند غوره کړي. په دويم قدم کې بايد د خپلو ميړونو رازونه او د هغوی د عزت و ناموس ساتونکې شي.

که ښځه د نارينه دا حيثيت و نه مني او د کور د نظام خرابولو ته تياره وي نو الله ويلي چې نارينه د خپل کور د ساتنې لپاره درې کاره کولای شي:

لومړی دا چې ښځې ته دې نصيحت وکړي د دې لپاره په قرآن کې د وعظ لفظ راغلی دی، معنا يې داده چې تر يوه حده زجر او ترټنه هم پکې موجودېدای شي.

دويم دا چې له هغې سره دې ازاد خلوت پرېږدي څو وپوهېږي چې که يې خپل چلند بدل نه کړ نو بدې نتيجې درلودای شي.

درېيم دا چې ښځې ته بدني سزا ورکړي، دا سزا صرف دومره کېدای شي لکه کوم معلم چې يې خپلو شاګردانو او يا يې کوم پلار خپلو اولادونو ته ورکوي.

دا درې کارونه په ترتيب او تدريج سره دي يعني تر لومړي وروسته بايد دويم او تر دويم وروسته درېيم کار هغه وخت وکړي چې يو سړی وپوهېږي خبره نه سمبږي او د بل اقدام له اخيستلو پرته بله چاره نه شته. دا د ميړه د تاديبي اختياراتو اخيري حد دی، که په


"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دې سره اصلاح شي نو بايد له ښځې شخه د انتقام لپاره بانې جوړې نه کړي.

که د چا خپله ميرمن خوښه نه وي نو مومن بنده بايد دا کوشش ونه کړي چې د خپل ورکړي مهر بيرته تر لاسه کولو لپاره يې په تکليف کړي. دا ډول کار صرف په هغه صورت کې کېداى شي چې هغه ښکاره بدکاري شروع کړي، که يې دا ډول کوم کار نه وي کړى خپله وفاداري ترسره کړي او د پاک لمنۍ ژوند کوي نو صرف له دې وجې يې تنګول چې هغه يې خوښه نه ده له عدالت، انصاف او شرافت سره ضد کار دى. بې شکه اخلاقي فساد د کرکې وړ دى، خو صرف د شکل د نه خوښېدو او يا د کوم ناسم عادت له امله ور شخه د ښه چلند حقوق اخيستل ناروا دي. له نه خوښېدو سره ـ سره بايد هغه چلند ورسره وکړي چې له عزتمنو ښځو سره مناسب وي، له عقل و فطرت سره موافق وي، پر رحم و ميرانه ولاړ وي او د عدل و انصاف تقاضاوو ته پکې پام شوى وي.

## څو ودونه

انسان چې له کوم طبيعت سره پيدا شوى له هغه سره سم د کورنۍ اداره له خپلو اصلي خوندونو سره د يوه نر او يوې ښځې په نکاح سره را منځ ته کېږي. دا د عامه ژوند ضرورت او د انسان نفسي، سياسي او ټولنيز مصلحتونه دي چې له وجې يې د څو ودونو رواج لږ و ډير په هره ټولنه کې شته او پر همدې بنا الله تعالى هم په خپل هيڅ شريعت



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کي ممنوع نه دي بللي مګر د يتيمانو مصــلحت ته په پام چي قرآن خلګ له دې رواج څخه ګټې اخيستلو ته تشويق کړي نو له دې سره يې دا دوه شرطونه هم لګولي دي:

يو دا چي د يتيمانو د حقوقو په شــان يو مصــلحت لپاره هم بايد د يو چا په نکاح کي د ښځو شمير تر څلورو زيات نه وي.

دويم دا چي د ښځو تر منځ د انصاف شرط يو داسي ضروري شرط دی چي که يې انســان پوره کولای نه شــي نو د دا ډول يوه مهم ديني مصلحت لپاره هم تر يوه زيات ودونه روا نه دي.

مګر د دې معنا دا نه ده چي په ظاهري چلند او د زړه په مينه کي به هيڅ فرق نه وي، دا ډول انصاف د چا په وس نه دی پوره او که يې څوک وغواړي نو هم يې نه شي کولای. انسان د زړه پر ميلان کنټرول نه لري، له همدې وجې دومره کافي ده چي ميړه له يوې ښځې سره داسي ژوند ونه کړي چي هغه بله بېخي هيره کړي. نکـاح د يتيمـانو د حقوقو د سـاتنې لپاره شـوې وي او که د بل مقصـد لپاره نو ولور او عدل د ښـځې حق دی چي بايد په ورين تندي ورکړل شــي. مګر که ويره وي چي د ښــځو تر منځ د برابرو حقوقو د ټينګار په نتيجه کي به ميړه له ښــځې بې پروا شــي او يا به يې د شــا ته غورځولو کوشــش وکړي نو دا پروا نه لري چي دواړه په ګډه يوې موافقې ته ورسيږي.

## د جماع حدود



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د حيض او نفاس په ورځو کي د ښځې او نارينه جنسي تعلق ناروا دی او دا بنديز د وينې تر دريدو پوري دی، تر دې وروسته دوام نه کوي خو سمه طريقه داده چي کله ښځه غسل وکړي بيا دي ورسره يو ځای شي او حتما دي له هغې لارې جماع ورسره وکړي چي الله ورته ټاکلې ده.

## ايلاء

له ښځې سره د ميړه توب علاقه پريښودل له معقول عذر پرته جواز نه لري حتى که چا د دې قسم هم کړی وي نو ماتول يې ضروري دي، د دې لپاره د څلورو مياشتو موده ټاکل شوې ده. ميړه مکلف دی چي په دې موده کي دننه يا له ښځې سره روابط پر ځای کړي او که طلاق ورکوي نو د طلاق پريکړه وکړي.

## ظهار

که کوم څوک په خوله خپله ښځه له مور او يا د هغې د بدن کوم اندام د مور له اندام سره مشابه کوي نو په دې سره نه ښځه مور کيږي او نه هغه ډول حراميدای شي لکه مور ځکه نو دا ډول مشابهت نه د چا نکاح ماتوي او نه يې ښځه د مور په شان حراميږي مګر د دې معنا دا نه ده چي هغه سړی له څه سزا پرته پريښودل شي. د انسان پر عام ژوند دا ډول خبرې ډېر لوی تاثير لري ځکه نو ضروري ده چي هغه ته ادب ور وښودل شي څو په راتلونکي کي دی هم احتياط وکړي او نور هم ور



www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org
"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

څخه عبرت واخلي. الله فیصله کړې چې باید دا ډول سړی خپلې ښځې ته تر لاس ور وړلو مخته لاندینۍ کفاره ورکړي:

یوه مینځه یا مریبی ازاد کړي، که هغه نه وي نو پر له پسې دوې میاشتې روژه ونیسي او که دا هم نه شي کولای نو شپیتو مسکینانو ته خوراک ورکړي.

## طلاق

که میړه او ماینه سره جوړېدای نه شي نو د انبیاء علیهم السلام په دین کې همیشه د جلا کېدو امکان موجود دی چې دې ته په اصطلاح کې طلاق ویل کېږي، دې ځای ته د خبرې تر رسېدو مخته باید هر شخص دا خواهش ولري چې یو ځل کوم تعلق را منځ ته شوی تر ممکنه حده یې د نه ماتولو کوشش وکړي مګر که د اصلاح د ټولو موجودو تدابیرو تر خپلولو وروسته هم حالت سم نه شي او معلومېږي چې دا تعلق به ډېر دوام ونه کړای شي نو تر طلاق مخته الله د اخیري تدبیر په ډول د میړه او ماینې کورنیو، قبیلې، خپلوانو او همدردي غوښتونکو ته هدایت کړی دی چې دوی را ولاړ شي او له خپل اثر و رسوخ څخه په کار اخیستلو د معاملې سمولو کوشش وکړي. شکل یې دا بیان شوی چې د میړه او ماینې له کورنیو دې یو – یو دریم کس و ټاکل شي او هغوی دواړه دې په ګډه د دوی تر منځ روغه – جوړه وکړي. امید شته چې میړه او ماینې کوم جنجال په خپله نه شوای حل


"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کولای هغه به د کورنیو د مشـرانو، نورو خواخوږو او ملګرو په مداخله حل شي.

نارینه د کورنۍ مشر دی، د ډوډۍ، نفقې او نورو مصارفو مسئولیت هم پر ده دی ځکه نو د طلاق حق هم ده ته ورکړل شوی دی . له همدې وجې که ښـځه جلا والی غواړي نو دا طلاق نه شـي ورکولای بلکې له میړه څخه به د طلاق غوښــتنه کوي. په عامو حالاتو کې امید دادی چې هر نیک انســان به د ګډ ژوند نه کولو په صــورت کې دا غوښــتنه ومني خو که داسې نه وي نو ښځه محکمې ته ورتلای شي چې هغه به یا د طلاق په کولو امر ورکړي او یا به نکاح فسخ کړي.

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

میړه په خپله طلاق ورکړي او که د ښــځې په غوښــتنه د هغې د جلال کولو فیصــله وکړي په دواړو صــورتونو کې چې یې قرآن کومه طریقه بیان کړې هغه داده:

۱ ) طلاق به د عدې له مخې ورکول کېږي، معنا دا چې سمدستي د ښــځې د جلا کولو لپاره د طلاق ورکول روا نه دي دا چې کله ورکول کېږي تر یوه معلوم وخت پورې د جلا کېدو په اراده به یې ورکوي. د عدې لفظ په اصــطلاح کې د هماغه وخت لپاره اســتعمالیږي چې په هغه کې ښځه د میړه له خوا تر طلاق او یا د هغه تر وفات وروسته له بل چا ســره نکاح نه شــي کولای. که څه هم دا وخت په اصــل کې د دې لپاره ټاکل شوی چې د ښځې د نس حال په سم ډول معلوم شي ځکه



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

نو ضروري ده چې ښځې ته له حیض څخه تر خلاصېدو او د دوی تر منځ له جنسي اړیکو پر ته طلاق ورکړل شي.

۲) عده باید په ډېر احتیاط سره حساب شي، د طلاق معامله ډېره باریکه ده. په دې سره ښځه، نارینه، د هغوی اولادونه او کورنۍ له ډېرو قانوني مسایلو سره مخ کېږي له همدې وجې ضروري ده چې کله طلاق ورکول کېږي وخت او تاریخ یې یاد وساتل شي او دا هم له یاده ونه ایستل شي چې د طلاق پر وخت د ښځې حالت څه ډول وو؟، عده یې څه وخت شروع شوه؟، تر څه وخته به پاتي وي او څه وخت به ختمېږي؟.

۳) د عدې تر پوره کېدو مېړه د رجوع حق لري، که میړه رجوع ونه کړي نو د عدې په پوره کېدو به یې تر منځ د میړه او ماینې تعلق ختم شي. له همدې وجې چي کله عده پای ته پر رسیدو وي نو باید میړه پریکړه وکړي چي هغه را ګرزوي او که یې رخصتوي. په دواړو صورتونو کي د الله حکم دادی چي معامله دي په ښه ډول تر سره شي.

په دې باره کي چي په خپله قرآن کومې لارښوونې کړې هغه دادي:

اول: که ښځې ته کوم مال، جایداد، ګینې، جامې او نور د هر ځومره قیمت شیان د تحفې په ډول ورکول شوي وي نو بیرته اخیستل یې روا نه دي، دوه‌ې، نفقه او ولور خو د ښځې حق دی د هغو د بیرته اخیستلو هیڅ پوښتنه نه پیدا کېږي. له دې پر ته چي کوم شیان ورکړل شوي وي د هغو په باره کي هم د قرآن حکم دادی چي



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

هيڅکله بيرته نه شي اخيستل کېدای.

البته له دې څخه دوه صــورتونه وتلي دي: يو دا چي ميړه او ماينه په الهي حدودو کي ګډ ژوند نه شــي کولای د ټولنې چارواکي هم په دې حالت وپوهېږي خو ميړه صــرف له دې وجې طلاق ته تيار نه وي چي د ده ورکړي مالونه به هم له ځان سره يو سي، نو ښځه هغه مالونه او يا د هغو يوه برخه ميړه ته بيرته سپارلای او طلاق اخيستلای شي. که کوم وخت دا ډول حالت پيدا شــي نو د ميړه لپاره يې اخيســتل منع نه دي.

دويم دا چي ښځه ښکاره بد کاري وکړي څرنګه چي په دې سره د ميړه او ماينې د تعلق بنياد ختم شوی ځکه نو ميړه ته روا ده چي په دې صورت کي خپل ورکړی مال ورڅخه بيرته واخلي.

دويم: که ښځې ته تر لاس ور وړلو او يا ولور ټاکلو وړاندي طلاق ورکړل شــي نو ميړه د ولور هيڅ مســئوليت نه لري خو که مهر ټاکل شــوی وي او تر لاس ور وړلو وړانـدي طلاق ورکړي نو نيم ولور بـه ورکوي مګر دا چي ښـځه په خپله خوښـه ټول ور وبخښـي او يا نارينه ټول ولور ورکړي.

دريیم: ښځه دي له يو څه سازو سامان سره رخصت شي، الله دا له ده څخه پر ويره کوونکو او د احســان د رويې پر غوره کوونکو يو حق بللی چي مقدار به يې د خلکو له رواج ســره ســم او د نارينه اقتصــادي وس ته په پام ټاکل کېږي، که ښځې ته له لاس ور وړلو او يا مهر ټاکلو



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پر ته طلاق ورکړل شوی وي نو هم د الله وینا داده چي باید دا حق ورکړل شي.

۴ ) که میړه د عدې په موده کي رجوع وکړي نو هغه یې قانوني ښځه ده، د طلاق پر وخت او تر طلاق وروسته هر سړی په یوه نکاح کي دوه ځله د رجوع کولو حق لري. تر دې وروسته دا حق نه شته، نو که په یوه نکاح کي تر دوه ځله رجوع کولو وروسته خبره درېیم ځل جلاوالي ته ورسېږي او میړه طلاق ورکړي نو په نتیجه کي به یې ښځه د تل لپاره ترې جلا کېږي مګر دا چي هغه له بل چا سره نکاح وکړي او هغه بیر ته طلاق ورکړي.

۵ ) نارینه طلاق ورکړي او که بیر ته راجع شي په دواړو صورتونو کي هغه ته په کار ده چي پر خپله دې فیصله دوه اعتباري مسلمانان شاهدان کړي، د دې مقصد دادی چي له دواړو خواوو به یو وروسته نه منکرېږي او که کوم جنجال پیدا شي نو فیصله به یې په اسانۍ سره وشي.

۶ ) په عامو حالاتو کي د طلاق عده درې حیضه او د حمل په صورت کي د بچي زېږول دي، که ښځې ته حیض نه ورځي او یا د حیض عمر ته له رسیدو سره –سره په دې مرض نه اخته کېږي نو عده به درې میاشتې وي، که له ښځې سره جنسي اړیکې نه وي نیول شوې نو څرنګه چي د هغې په باره کي د حمل سوال نه پیدا کېږي له همدې وجې یې عده هم نه شته.



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د عدې پر مهال چې په قرآن کې کوم احکام بیان شوي هغه دادي :

اول: ویل شوي چې په دې موده کې باید نه ښځه خپل کور پرېږدي او نه مېړه دا حق لري چې له کوره یې وشړي، د دې یو ځای اوسیدو په نتیجه کې امید شته چې زړونه به یې بدل شي، دواړه به پر خپل چلند فکر وکړي او خراب شوی کور به یې یو ځل بیا اباد شي. له دې څخه یوازې هغه صورت جلا دی چې مېړه ښځې ته د ښکاره بد کارۍ له وجې طلاق ورکړي. ښکاره ده چې په دې صورت کې نه له مېړه څخه دا غوښتنه روا ده چې دا ډول ښځه په کور کې پرېږدي او نه له دې څخه هغه ګټه تر لاسه کېدای شي چې له وجې یې دا امر ورکول شوی دی.

دویم: ویل شوي چې د عدې پر وخت به ښځې ته له خپل وس سره سم د اوسیدو ځای او نفقه برابروي، په دې وخت کې به کومه داسې طریقه نه خپلوي چې د هغې شخصیت مجروح شي او په څو ورځو کې د پریشانۍ له امله د هغه کور پرېښودو ته مجبوره شي.

درېیم: د عدې په موده کې به ښځه د خپل حمل پټولو کوشش نه کوي، الله په ډېره سختي سره پر دې ټینګار کړی دی ځکه د عدې حکم د همدې لپاره ورکول شوی چې د ښځې د حمل او نه حمل فیصله وشي.

۷) که تر طلاق وروسته هم مېړه غواړي چې ښځه یې اولاد ته تی ورکړي نو باید تر دوو کالو دا مسئولیت پوره کړي، که ښځه دې ته



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

تیاره وي نو نارینه به د دې خدمت بدله ورکوي چې دوی به یې په خپل منځي مشوره او ښه طریقه سره ټاکي. که د ماشومانو پلار مړ شوی وي نو د پورته مسئولیتونو او حقوقو په معامله کې عیني همدامسئولیت د هغه وار ثانو ته راجع دی، دواړه خواوې دا وخت را کمولای هم شي او که د ماشومانو پلار یا د هغه وار ثان د مور پر ځای بله ښځه د تې ورکولو لپاره ونیسي نو هم جواز لري په دې شرط چې له مور سره یې د تې ورکولو کوم قرارداد شوی هغه پوره شي.

۸) تر طلاق وروسته پخوانی میړه د ښځې په کومه فیصله کې د خنډ کېدو حق نه لري، هغه چې کله او په کوم ځای کې وغواړي واده کولای شي که یې فیصله له قانون سره سمه وي نو پر هغې د هیڅ اعتراض حق نه شي درلودای.

## د میړه مرګ

د کونډې عده څلور میاشتې او لس ورځې ده، تر طلاقې شوې دا موده د دې لپاره ډېره شوې چې د هغې په باره کې خو ویل شوي په داسې طهر کې دې طلاق ورکړي چې میړه ور سره جنسي اړیکې نه وي نیولې. څرنګه چې د کونډې لپاره دا ډول قانون ممکن نه دی ځکه نو د احتیاط تقاضا دا وه چې ورځې یې ډېرې شي.

څرنګه چې د طلاقې شوې او کونډې د عدې حکم د یوه مقصد لپاره ورکول شوی وو له همدې وجې چې په طلاق کې کومې استثناوې بیان شوې دي نو د کونډې په عده کې به هم په پام کې نیول


"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کېږي، ځکه نو له کومې کونډې سره چې جنسي اړیکې نه وي نیول شوې هغه عده نه لري او د امیدوارې کونډې عده به د اولاد تر زېږولو وروسته ختمېږي.

د عدې تر تېرولو وروسته ښځه ازاده ده او د خپل ځان په باره کې چې کوم ګام مناسب وبولي پورته کولای یې شي البته د ټولنې د قانون پیروي باید وکړي یعنې باید داسې کار ونه کړي چې له وجې یې د کورنیو عزت، شهرت، مقام او ښو رواجونو ته د تاوان رسیدو اندیښنه وي.

که دا په پام کې ونیسي نو دې او یا یې ولیانو ته هیڅ مسئولیت نه راجع کېږي.

که کوم څوک له کونډې سره نکاح کوي نو د عدې په موده کې اختیار لري چې په زړه کې یې اراده وساتي او یا په اشاره و کنایه کومه خبره ور ته وکړي مګر هغه ته هیڅکله نه ده روا چې د یوې غم ځپلې کورنۍ احساساتو ته له پام پرته ښځې ته د نکاح پیغام ور ولېږي او یا پټه وعده ورسره وکړي.

پر مېړونو لازمه ده چې د خپلو کونډو لپاره د یوه کال د نفقې او په خپل کور کې د اوسیدو وصیت وکړي مګر دا چې که هغه په خپله خوښه د مېړه کور پرېږدي او یا دا ډول بل ګام واخلي.



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

## د نارینه او ښځې ګډ اوسیدل

الله تعالی د نکاح د ادارې ساتلو او په خپل منځي تعلقاتو کې د زړونو د پاک ساتلو لپاره د نارینه او ښځې د ګډ اوسیدو لپاره لاندیني اداب ټاکلي دي:

۱) که د یوه بل کور ته د تلو ضرورت وي نو له پوښتنې او اجازې پرته ننوتل روا نه دي. په داسې صورت کې ضروري ده چې یو سړی اول د کور خاوندانو ته خپل ځان ور وپېژني، د دې لپاره مناسبه او ښه طریقه داده چې له دروازې سره په دریدو سلام وکړي. په دې به د کور استوګن وپوهېږي چې راغلی سړی څوک دی؟، څه غواړي؟ او کور ته یې راتګ مناسب دی او که نه؟ که یې تر دې وروسته د سلام ځواب ورکړ او اجازه یې تر لاسه کړه نو کور ته دې ور ننوزي. که د اجازې لپاره په کور کې څوک نه وي او یا وي خو د هغه له خوا وویل شي چې دا وخت لیدل امکان نه لري نو په زړه کې دي د کومې خوابدی له احساس پرته بیرته ولاړ شي. له دې څخه هدف د خلکو تر منځ د روابطو او تعلقاتو ختمول او یا پر ټولنیزو ازادیو بندیز لګول نه دي، له همدې وجې که یو څوک په خپله راځي او یا د هغوی مجبور او معذور عزیزان او خپلوان چې د دوی په کورونو کې ګوزاره کوي هغوی کولای شي چې د یوه بل کور ته تګ - راتګ وکړي، سره ووینې، ښځې او نارینه جلا - جلا او یا یو ځای خوراک و څښاک وکړي، نه یې په خپلو کورونو کې کوم مشکل شته، نه یې د پلار و نیکه، مندو،



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ورونړو، خوندو، اکاګانو، ترورېانو، ماماګانو، تورېانو، تر لاس لاندي کسانو او دوستانو په کورونو کي البته دومره خبره ضروري ده چي کور ته د ننوتلو پر مهال دي خلګو ته سلام کوي.

۲) دا حکم په هغه ځای کي ضـروري نه دی چي هلته د خلګو ښـځې او ماشـومان نه اوسـېږي، يعني په هوټلونو، ميلمسـتونونو، دوکانونو، دفترونو، د نارينه وو د ناسـتې په ځايونو او نورو کي. همدا ډول کور ته تلونکي – راتلونکي نوکران او نا بالغ اولادونه هم هر وخت د دې اجازې اخيسـتلو ته اړتيا نه لري، د هغوی لپاره همدا بس ده چي په درو وختونو کي د اجازې په اخيستلو ور ننوزي: د سهار تر لمانځه وړاندي چي کله خلګ په خپلو بسـترو کي پراته وي، د ماپښـين پر مهال چي کله دوی د غرمې د خوب لپاره جامې باسـي او تر ماخوسـتن وروسـته چي کله دويدېدو لپاره خپلو بسـترو ته ځي. له دې پرته په نورو وختونو کي نابالغ ماشـومان او د کور خادمان د ښـځو او نارينه وو د يوازيتوب ځايونو او د هغوی خونو ته له اجازې پر ته ورتلای شـي. البته تر بلوغ وروسـته د ماشـومانو لپاره دا رخصـت نه شته، د بلوغ عمر ته تر رسېدو وروسته د دوی لپاره هم ضروري ده چي له عام قانون سره سم د اجازې په اخيستلو کورونو ته داخل شي.

۳) که په دې ځايونو کي ښـځې موجودې وي نو د الله حکم دادی چي نارينه او ښـځې دواړه دي خپل نظرونه سـاتي، که په نظرونو کي حيا وي او نارينه و ښـځه ديوه او بل په ښـکلا او جمال سـترګې خوږې



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

نه کړي، خط و خال یې ونه ښاري او یوه بل ته د شوق له کتلو ځان وساتي نو یقینا د دې حکم مقصد پوره کېږي ځکه مقصد یې نه کتل او یا تل سترګې ټیټې ساتل نه دي بلکې په ډکو سترګو کتل او سترګې تل د لیدو لپاره ازادې نه پرېښودل دي.

۴) په داسې ځایونو کې دې خپل فرجونه وساتي، مطلب یې دادی چې په دوی کې دې نه د یوه بل لپاره میلان وي او نه دې یې د هغوی په مخ کې خلاصوي بلکې که نارینه او ښځې یو ځای او سپړي نو د پټېدو ځایونه دې په لا نور احتیاط سره پټ وساتي. ښکاره ده په دې کې دا شی ډېر دخل لري چې جامې یې برابرې وي، ښځې او نارینه دواړه دا سې جامې واغوندي چې له ښکلا سره د جنسي اعضاوو پوره پټوونکې هم وي. د لیدو – کتو پر مهال دې ته پام وکړي چې د ولاړېدو او کښېنستلو پر وخت څوک لوڅ نه شي.

۵) ښځې په خاص ډول دې ته ضرورت لري چې د ښکلا او زینت کوم شی له خپلو نژدې خپلوانو او متعلقینو پرته د بل چا په مخ کې ښکاره نه کړي، البته له دې څخه د ښکلا هغه شیان وتلي دي چې عموما ښکاره وي لکه لاسونه، پښې او د مخ سینګار، زیورات او نور. له دې پرته باید ښځې د ښکلا هر ځای پټ وساتي، ان د نارینه وو په شتون کې دې خپلې پښې په زوره پر ځمکه نه وهي چې پټ زینت یې ښکاره نه شي.



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۶) څرنګه چې د ښځې سینه هم له جنسي اندامونو څخه ده او په غاړه کي یې ګینې هم وي له همدې وجې یې باید په داسي ځایونو کي په پړوني پټ کړي، د سینې او ګریوان د پټولو دا حکم د هغو بوډیو ښځو لپاره نه دی چې د نکاح هیله نه لري. په دې شرط چې د زینت ښکاروونکې نه وي، مګر د دوی لپاره هم ښه خبره داده چې احتیاط وکړي او د نارینه وو په موجودیت کي خپل پړونی وانه چوي.

## مور او پلار

نکاح چي کومه خپلوي پیدا کوي په هغو کي مهمه خپلوي د مور و پلار ده، له هغوی سره د ښه چلند تعلیم په ټولو اسماني کتابونو کي ورکړل شوی دی. قرآن چي یې کوم حدود ټاکلي هغه دادي:

۱) انسان باید له خپل رب وروسته تر ټول هر چا د مور او پلار ډېر شکر ایستونکی وي، دا شکر صرف په ژبه نه ادا کیږي د دې لازمي تقاضا داده چي انسان له دوی سره ډېر په احترام مخ شي، د دوی پر خلاف یې په زړه کي هیڅ بې زاري پیدا نه شي، د دوی په مخ کي د بې ادبۍ هیڅ کلمه له خولې ونه باسي بلکي د نرمۍ، مینې، شرافت او عزت طریقه غوره کړي. د هغوی خبره ومني او د بوډاتوب په کمزوریو کي د هغوی زړه خپل کړي او لاس یې ونیسي.

۲) مور و پلار له دې مقام سره – سره دا حق نه لري چي پر خپل اولاد له الله سره د شرک نیولو پشار راوړي، اولاد باید په دې معامله کي د هغوی له اطاعت څخه ښکاره انکار وکړي او په هر حال کي باید د



www.javedahmadghamidi.com www.al-mawrid.org

"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

هغو خلکو د طريقې پيروي وکړي چې خدای ته متوجې دي. که يې مور و پلار له خدای څخه سرغړونې ته ور وبولي نو هم منل کېدای نه شي، د الله نور احکام او هدايات هم بايد تر دې لاندې وبلل شي او د هيڅ لپاره د مور و پلار په وينا د هغو مخالفت نه دی روا.

۳) د شرک په څېر پر لويه گناه له ټينگار سره – سره بايد د دنيا په معاملاتو کې له مورو پلار سره د قانون په حدودو کې دننه ښه چلند وشي، تر وسه –وسه د هغوی اړتياوو پوره کولو هڅه وکړي او د دوی لپاره د هدايت دعا ته دوام ورکړل شي. د دين او شريعت معامله جلا ده، خو اولاد بايد په داسې شيانو کې هيڅکله کوتاهي ونه کړي.

## يتيمان

که ماشومان بې پلاره شي نو د هغوی په باره کې قرآن څو معلومې لارښوونې کړې چې خلاصه يې داده:

۱) د يتيمانو مشران دي د دوی مال هغوی ته ور وسپاري او په خپله دي يې د خوړلو کوشش نه کوي، په ظلم او بې انصافۍ سره د يتيمانو د مال خوړل گواکي خپله خېټه له اوره ډکول دي. له همدې وجې بايد يو څوک نه د دې کوشش وکړي چې خپل ناسم مال د هغوی په ښه مال بدل کړي او نه دې د اداره کولو په بانه له خپل مال سره د هغوی د مال په گډولو خوړلو ته لار برابروي. که کوم وخت دا ډول گډوالی را منځ ته شي نو بايد د خوړلو لپاره نه بلکې د هغوی د خير او معاملاتو د اصلاح لپاره وي.



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۲ ) د یتیمانو د مال ساتنه او د هغوی د حقوقو پالنه یو لوی مسئولیت دی، که خلک یوازې دا مسئولیت نه شي پوره کولای او داسې فکر کوي چې له خپل مال سره د یتیم د مال په یو ځای کولو به ځان ته اساني پیدا کړای شي نو دوی ته په کار ده چې د دوی له مندو ښځه کومې یې ور ته روا وي د هغو دوې – دوې، درې – درې او څلور – څلور په نکاح کړي مګر دا اجازه صرف په هغه صورت کې ده چې د ښځو تر منځ عدالت ممکن وي. که اندیښنه ولري چې په دې کې به بریالی نه شي نو بیا د یتیمانو د خیر په څېر د یوه نیک مقصد لپاره هم تر یوې د زیاتې نکاح اجازه نه شته. پر انصاف د درېدو لپاره همدا ډېره ښه طریقه ده، له دې سره دا هم ضروري ده چې ښځو ته په هغه طریقه خپل ولور ور کړل شي لکه عامو ښځو ته چې ور کول کېږي. دا پلمه باید ونه شي چې دا نکاح د دوی د اولاد د خیر لپاره ده ځکه نو نور هیڅ مسئولیت نه شته، مګر که کومه ښځه په خپله خوښه د ولور کومه حصه معاف کړي او یا یو بل رعایت وکړي نو پروا نه لري، که خلک وغواړي له دې ښځه ګټه اخیستلای شي.

۳ ) یتیمانو ته چې د هغوی د مال ورکولو کوم هدایت شوی په دې باید هغه وخت عمل وشي چې د خپل مال د ساتلو عمر ته ورسېږي، تر دې مخته ضروري ده چې د سرپرستانو په حفاظت او ساتنه کې وي او یتیمان وګوري چې په دوی کې د معاملاتو د کولو او خپلو مسئولیتونو د پوره کولو استعداد پیدا شوی دی او که نه؟ خو په دې



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وخت کي دي د دوی ضرورتونه په پراخ ډول ور پوره کړي. له دې ویري دي د هغوی مال ژر-ژر نه خوري چي یتیمان به را لوی شي او په خبرو کي دي د دوی د زړه ساتنې ته پام کوي.

۴) که سرپرست غني وي نو باید د خپل دې خدمت په بدل کي هیڅ وانخلي، مگر که غریب وي نو له قانون سره سم د یتیم له مال څخه د خپل خدمت حق اخیستلای شي.

۵) کله چي یتیم ته مال ور سپاري نو باید یو څو معتبر او باوري کسان شاهدان کړي چي د هیڅ ډول بد گومانۍ، اختلاف او جنجال لپاره ځای پاتي نه شي. باید په یاد ولرئ چي یوه ورځ به همدا حساب الله ته ورکوي، هغه سمیع او علیم دی، هیڅ شی ترې پټېدلای نه شي.

۶) که څه هم د مړي په میراث کي د وارثانو حصې معلومې دي خو که د میراث د تقسیم پر وخت نژدې خپلوان، یتیمان او مسکینان راشي نو دې ته له پام پرته دي چي په قانون کي یې حق شته او که نه؟ دوی ته دي یو شی ورکړي او باید له ښه وینا سره یې رخصت کړي. په دغسي ځایونو کي باید هر سړی دا خبره یاد وساتي چي د ده اولادونه هم یتیمان کېدلای شي او دوی به هم خپل اولادونه همدغسي د نورو د رحمت نظر ته پرېږدي، له دې دنیا څخه به ولاړ شي.


"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(۳)

# د سیاست قانون

الله تعالی چي انسان له کوم فطرت سره پیدا کړی د هغه یوه لازمي نتیجه دا هم ده چي ګڼ ژوند غواړي او د خپلي ارادې و اختیار له بد استعمال څخه د دې ګڼ ژوند د ساتنې لپاره ژر یا وروسته په خپل منځ کي د یوې ګډې اداري جوړولو ته مجبوریږي. په انساني تاریخ کي سیاست او حکومت د انسان له همدې خواهش او مجبوری څخه را پیدا شوي او انسان چي تر څو انسان وي نو که دی وغواړي هم له دې څخه ځان نه شي خلاصولای ځکه نو د عقل تقاضا داده چي په دې دنیا کي دي له حکومت پر ته د یوې ټولنې او ګڼ ژوند د خوب لیدلو پر ځای د ځان لپاره د ژوند کولو یوه داسي ترون را منځ ته کولو کوشش وکړي چي د ګډې اداري په اصلاح کولو د دوی لپاره د یو ښه حکومت بنسټ پیدا کړای شي.

په دې کي شک نه شته چي د انسان فطرت په عمومي ډول هغوی ته دا لاره ور ښودلې او پر دې لاره یې د کوشش لپاره تیار کړي دي، مګر تر دې مهاله چي یې کومې نتیجې ور کړې او هر سړی یې په دې دنیا کي په خپلو سترګو لیدای شي یوازي هغه تر بالکل اخیري حده د دې حقیقت ثابتولو لپاره کفایت کوي چي د ژوند د نورو معاملاتو په شان انساني عقل په دې معامله کي هم له اسماني هدایت پر ته ځیني بنیادي فیصلې له پوره قاطعیت سره نه شي کولای. الله پر



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

همدې بنیاد مسلمانانو ته د سیاست یو قانون ورکړی دی چې لاندې پنځه مادې لري:

## ۱) بنیادي اصول

الله او رسول چې په کومو معاملاتو کې دابد لپاره کوم حکم کړی په هغو کې د مسلمانانو چارواکې د دولت مشران وي او که د پارلمان غړي نور له خپله لوري د فیصلې حق نه لري ځکه نو مسلمانان په خپل دولت کې داسې قانون نه شي جوړولای چې د الله او رسول د احکامو خلاف وي او یا پکې د دوی هدایت ته پام نه وي شوی. البته په همدې حد کې دننه هغوی په دې مکلف دي چې چارواکي یې هر امر ورته وکړي په پوره توجو یې واوري او ویې مني.

## ۲) اصلي مسئولیت

د دې قانون پر بنیاد چې کومه ګډه اداره جوړیږي د هغې اصلي مسئولیت دادی چې د ولس امانتونه د لیاقت پر بنیاد خلکو ته وسپاري او کوشش وکړي چې دژوند په هره حصه کې عدل و انصاف په مکمل ډول قایم شي.

## ۳) دیني مسئولیتونه

لمونځ قایم شي، زکات ورکړي، په ښو امر وکړي او د بدو مخه ونیسي. همدا د ګډې ادارې دیني مسئولیتونه دي، د هغو د پوره کولو لپاره چې په قرآن او سنت کې کوم هدایات شوي د هغو له مخې:



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

أ ) د دولت له مسلمانو وګړو څخه غوښتنه وشي چي د خپل ایمان او اسلام د شاهدۍ لپاره لمونځ وکړي.

ب ) د جمعې د لمانځه خطبه او د هغه امامت به د هیواد د پایتخت په مرکزي جامع جومات کي د دولت مشر، په ولایتونو کي والیان او په مختلفو اداري ښاخونو کي د هغوی چارواکي ورکوي.

ج ) پر هر مسلمان چي زکات واجبېږي هغه به د خپل مال، حیواناتو او حاصلاتو ټاکلې حصه حتما له خپلې سرمایې څخه بېلوي، حکومت ته به یې سپاري، حکومت به یې پر نورو مصارفو سربېره د خپلو محتاجو ښاریانو پر ضرورتونو لګوي او د دوی تر فریاد مخته د هغوی دروازو ته په ور رسیدو به یې د پوره کولو کوشش کوي.

د ) د دولت له خوا به په ښو چارو د امر او له بدو څخه د مخنیوي لپاره رسمي کسان ټاکل کېږي چي د ځان لپاره په ټاکلو حدودو کي دننه به تل د دې کار د ترسره کولو لپاره په فعالیت اخته وي.

## ۴ ) د تابعیت حقوق

که د دولت مسلمان ښاریان لمونځ وکړي او زکات ورکړي نو هغه ټول حقوق به لري چي باید د یوه مسلمان په توګه یې په دولت کي ولري، دوی به په خپل منځ کي سره ورونه وي، د قانون له مخې به سره برابر وي، د دین په ضروري تقاضاوو کي به له لمانځه او زکات پرته هیڅ شی د قانون په زور پر دوی نه نافذېږي او نه به دولت د دوی د مال، ځان، عزت، عقل او رایې پر خلاف ورباندي کوم تېری کوي.



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

## ۵ ) د حکومت شکل

د دولـت د مشــرانو او چـارواکو انتخـاب او د حکومـت و امـارت جوړښت به د خلکو په رايه او مشوره وي. د مشرتوب له تر لاسه کولو وروســته به هم هغوی دا اختيار نه لري چي په اجتماعي معاملو کي د مسلمانانو د اجماع يا اکثريت رايه رد کړي.

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(۴)

# مالي قانون

الله تعالی چې د پاکوالي لپاره د خپل اخیري پیغمبر په واسطه انسانانو ته کوم قانون ورکړی هغه پر دې اصولو بنا دی چې الله تعالی دا دنیا د امتحان لپاره جوړه کړې ده، له همدې وجې یې د هغې نظام داسې جوړ کړی چې دلته ټول خلک یو بل ته احتیاج دي. په دې دنیا کې هر څومره لوړ شخصیتونه هم د خپلو ضرورتونو د پوره کولو لپاره نورو ته ضرورت لري او هر ډول کښته انسانانو ته هم د دې اړتیاوو د پوره کولو لپاره رجوع کېږي. دلته هر سړی یو خپل تاثیر لري او هیڅوک له نورو څخه بې احتیاجه کېدای نه شي. الله تعالی د هر چا د ذهانت، لیاقت، ذوق، میلان او ذرایع و وسایلو تر منځ یو فرق پیدا کړی دی. د همدې فرق په نتیجه کې چې کومه ټولنه را منځ ته کېږي په هغې کې که له یوې خوا هغه پوهان او حکیمان پیدا کېږي چې له علم څخه یې دنیا رڼا تر لاسه کوي، هغه لیکوالان پیدا کېږي چې قلمونه یې د لفظ او معنا تعلق ته ابدي ژوند ورکوي، هغه تحقیق کوونکي پیدا کېږي چې نادرو تحقیقاتو ته یې زمانه شاباسی وایي، هغه مشران پیدا کېږي چې تدبیر او سیاست یې د ګډ ژوند مشکلات حل کوي، هغه اصلاح کوونکي پیدا کېږي چې د کوشش او هڅو له وجې یې انسانیت خپل شعور تر لاسه کوي او هغه واکمن پیدا کېږي چې عزم او اراده یې د تاریخ لوری بدلوي نو بل لور ته هغه مزدوران،



www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org
"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بزګران، خادمان، نوکران او جاروکښ کسـان هم زيږي چي د خوارۍ معجزې ښيي، سره زر را باسي، په نغري کي د خولې خوړولو وسايل پيدا کوي، کور د سـپينو زرو په څېر ځلوي، لارې د تګ لپاره چمتو وي، ودانۍ دا سمان خبرونه راوړي او ناولتيا سمدستي خپل بستر ور نغاړي.

الله تعالی د مرتبو له دې فرق سـره د دنيا په پيدا کولو دې ته ګوري چي دا اعلی او ادنی په خپل منځي احترام او کومک سـره ښکه ټولنه او ښـه تمدن را منځ ته کوي او که د يوه بل پر خلاف د خپلو شـرارتونو او جهالتونو په وسـيله په دې دنيا کي د سـر تر پايه فسـاد په پيدا کولو اخته کېږي چي په دې ډول هم په دنيا کي رسـوا کېږي او هم په اخرت کي د ده د عذاب مستحق ګرزي.

د انسان همدا امتحان دی چي په هغه کي د کاميابۍ لپاره الله تعالی د خپلو پيغمبرانو په ذريعه دوی ته لارښـوونه کړې او په مالي فعاليت کي يې د پـاکوالي او سـپېڅلتيـا لپاره دوی تـه خپـل لانـدينی قـانون ورکړی دی:

## ۱) د ملکيت حرمت

کله چي مسـلمان زکات ورکړي نو په روا طريقو تر لاسه کړی مال يې د الله او رسـول له خوا له ټاکل شـوي حق پر ته ور څخه نه شـي اخيستل کېدای، حتی د دوی دولت پر زکات سربيره د خپلو مسلمانو ښاريانو له خوښې پر ته هيڅ ډول ماليه هم پرې نه شي لګولای.



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

## ۲) ملي شتمنی

هغه ټول مالونه او جایدادونه چي د یوه فرد ملکیت نه وي یا نه شي کېدای هغه باید د دولت ملکیت وي چي د ولس دا دولت غنیانو ته ونه رسېږي او هغه خلک هم ور څخه ګټه واخلي چي د خپلو ضـرورتونو لپاره نورو ته محتـاج وي، همـدا راز پـه دې سـره لـه عـامـه ژونـد سـره ځیني نور ټرلي مسئولیتونه هم پوره کېدای شي.

## ۳) په ناروا طریقه د مال خوړل

پـه نـاروا طریقـه د نورو د مـال خوړل منع دي، سـود او قمـار د دې سـلسـلې تر ټولو بد جرمونه دي. له دې پر ته باید د نورو ټولو مالي معاملاتو د جواز او نه جواز فیصله هم د دې قوانینو په رڼا کي وشي.

## ۴) لیکنه او شاهدي

په راکړه – ورکړه، پور، وصـیت او دا ډول نورو مالي کارونو کي لیکنه او شـاهدي ډېره ضـروري ده، دې ته پام نه کول ځیني وختونه د لویو اخلاقي فسادونو سبب ګرزي. له دې سره ټرلي احکام دادي:

که د قرض معامله تر یوه معلوم وخت پوري وي نو ضـروري ده چي اسناد یې ولیکل شي، د دواړو طرفونو په موجودیت کي دي یې یو لیکونکی په انصـاف سـره ولیکي. د اسـنادو د لیکلو مسـئولیت پر قـرض اخیستونکي دی، هغه به په دې اسنادو کي اقرار کوي چي زه د فلاني د زوی فلاني دومره قرضدار یم.



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

که هغه سړی کم عقل یا کمزوری وي، یا د اسنادو او نورو د لیکلو استعداد نه لري نو د هغه ولي او یا وکیل دې یې په صداقت او انصاف سره اسناد ولیکي. په دې اسنادو کې دې د دوو مسلمانو نارینه وو شاهدي ثبت شي چې عام تعلقات ولري، له خلکو سره ناسته – ولاړه کوي، د ښو اخلاقو او ښه عمل څښتنان وي، معتبر او ایمان درلودونکي وي.

که د یادو صفاتو دوه نارینه نه پیدا کېږي نو یو نارینه او دوې ښځې انتخابېدای شي، د دوو ښځو شرط د دې لپاره دی چې که په کور کې او سېدونکې دا ښځه د محکمې په فضا کې وار خطا شي نو له ګډوډۍ او خرابېدو څخه د شاهدۍ د ساتنې لپاره به یوه بله ښځه ورسره مرسته وکړي.

کوم کسان چې په اسنادو کې شاهدان وي نو باید د شاهدۍ پر وخت له شاهدۍ ورکولو انکار ونه کړي، د لاس په لاس معاملې لپاره لیکنې او کتابت ته ضرورت نه شته البته که کومه مهمه معامله تر سره شوې وي نو باید شاهدان حاضر وي چې که جنجال را منځ ته شي نو حل به یې اسانه وي.

د جنجال پیدا کېدو په صورت کې باید هیڅ طرف کاتب او یا شاهد ته د زیان رسولو کوشش ونه کړي، داسې کول جواز نه لري که یو څوک په سفر کې وي او لیکونکی وجود ونه لري نو د قرض معامله د ګرو په ورکولو هم ترسره کېدای شي. د ګروۍ اجازه تر هغه وخته ده



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

چي قرض ورکوونکی مطمین شــوی نه وي، که دا ډول حالت پیدا شي نو باید پر قرض د شاهدانو په نیولو حتما ګرو شوی شی بیرته ور وسپاري.

که یو څوک مړ کېږي او د خپل مال په باره کي وصــیت کوي نو باید له خپلو مســلمانانو وروڼو څخه دوه معتبر کســان پر دې وصــیت هم شاهدان کړي، که څوک په سفر کي له مرګ سره مخ شي او هلته د شــاهدۍ لپاره مســلمانان نه وي نو د مجبورۍ په حالت کي نا مســلمان هم شاهد کولای شي.

له مسلمانانو څخه چي کوم دوه کسان د شاهدۍ لپاره انتخاب شي که د هغوی په باره کي دا اندیښنه وي چي د یو چا په طرفداري به خپله شاهدي بدله کړي نو د دې د مخنیوي لپاره دا کار کېدای شي چي تر یو لمانځه وروسته یې په مسجد کي را وګرزوي او له هغوی څخه د الله په نوم قســم واخلي چي دوی بــه د خپلې دنیوي ګټې او یــا یو چــا د طرفدارۍ لپاره که څه هم د دوی خپل وي او یا نه په شــاهدي کي هیڅ بدلون نه راولي او که یې بدلون راووست نو ګناهګار به وي.

باید شــاهدانو ته معلومه وي چي دا شــاهدي د خدای شــاهدي ده، له همدې وجې که یې پکي لږ خیانت وکړ نو نه یوازي د بندګانو بلکي د خدای خاینان به هم وي.

که له دې سره – سره معلومه شي چي شاهدانو د وصیت کوونکي د وصــیت پر خلاف د یو چا طرف کړی او یا یې د کوم چا حق خوړلی



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

نو د چا حق چې تر پښو لاندې شوی له هغوی څخه دې دوه کسان را ولاړ شي، قسم دې وکړي چې موږ د شاهدۍ تر دې حقدارو شاهدانو ډېر رښتني یو. موږ په دې معامله کې له حق څخه هیڅ تجاوز نه دی کړی او په پوره مسئولیت سره وایو چې که مو داسې کړي وي نو د خدای په حضور کې به ظالمان وبلل شو.

پر شاهدانو د دې زیاتې څارنې ګټه داده چې کېدای شي په دې سره به هغوی سمه شاهدي ادا کړي، ځکه له دوی سره به ویره وي چې که یې کوم فساد وکړ نو د دوی قسمونه به د نورو په قسمونو باطل شي او د شاهدۍ له افضلیت سره – سره به یې شاهدي رد شي.

## ۵ ) د میراث تقسیم

د هر مسلمان شتمني باید تر مرګ وروسته په لاندینۍ طریقه د هغه پر وارثانو تقسیم شي:

که مړی قرضدار وي نو تر ټولو اول به یې له میراث څخه قرض ادا کېږي، که یې بیا کوم وصیت کړی وي هغه به پوره کېږي، بیا به میراث ویشل کېږي.

د وارث په حق کې وصیت نه شي کېدای مګر که د هغه حالات یا کوم خدمت او ضرورت د خاص حالت تقاضا وکړي.

د مور و پلار، ښځې او میړه تر حصې ورکولو وروسته د مړي د میراث وارثان د هغه اولادونه دي، که مړی کوم زوی ونه لري او په اولاد کې یې دوې یا تر دې زیاتې لونې وي نو د پاتې میراث دوې برخې به



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

هغوی ته ورکول کېږي. که یوه نجلۍ وي نو نیمایي د هغې حق دی. که د مړي په اولاد کي صرف هلکان وي نو ټول مال به پر دوی ویشل کېږي، که په اولادونو کي نجونې او هلکان دواړه وي نو د یوه هلک حصه به له دوو سره برابره وي او په دې صورت کي به هم ټول مال پر دوی تقسیمېږي. د اولاد په نه موجودیت کي د مړي وروڼه او خوندې د اولاد پر ځای درېږي، که مور و پلار او ښځه و میړه وي نو د دوی د حصو تر ورکولو وروسته به هغوی د مړي وارثان وي. د ښځو او نارینه وو لپاره د هغوی حصې او پر دوی د میراث ویشلو طریقه هماغه ده چي پورته د اولاد لپاره بیان شوه.

که مړی اولاد ولري یا یې اولاد نه وي او خوندې او وروڼه لري نو په مور و پلار کي به هر یوه ته د میراث شپږمه برخه ورکول کېږي، که یې خوندې او وروڼه نه وي او صرف مور و پلار د مړی میراث وړی نو د میراث یوه درېیمه یې د مور او پاتي دوې درېیمې یې د پلار حق دی.

که مړی نارینه وي او اولاد ولري نو میرمنې ته به یې د میراث اتمه برخه ورکول کېږي، که اولاد و نه لري نو د میراث د یوې څلورمې حق لري، که مړی ښځه وي او اولاد نه لري نو نیم میراث یې د میړه دی او که اولاد ولري نو میړه ته به یې څلورمه برخه ورکول کېږي.

د دې وارثانو په نه موجودیت کي که مړی وغواړي نو یو څوک د میراث وارث ګرزولای شي، خو کوم څوک چي یې وارث ګرزولی که هغه د خپلوانو له ډلې یو ورور یا یوه خور ولري نو د څلورمې برخې حق



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

حقدار دي او که یې خوندې او ورو نه تر یوه زیات وي نو هغوی ته د یوې درېیمې تر ورکولو وروسته به پاتې ۵/۶ یا دوې درېیمې هغه ته ورکول کېږي.

دا تقسیم چې پر کوم بنیاد شوی دی هغه ګټور قرابت دی او په حصو کې د فرق وجه هم د هغو د تر لاسه کوونکو له لوري د مړي لپاره د دوی د ګټې زیادت او کمبوت دی. څرنګه چې د نجونو ګټه د هغوی تر واده وروسته د دوی مېړه ته نقل کېږي همدا ډول ښځه د مېړه لپاره ملګر تیا برابروي خو مېړه له ملګر تیا سره – سره د هغې د ډوډۍ او مصرف مسئول هم وي. له همدې وجې د زامنو برخه د لوڼو او د مېړه برخه د ښځې تر برخې دوه چنده ډېره ټاکل شوې ده.



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(۵)

# د دعوت قانون

د دين يوه مهمه غوښتنه داده چي څوک په دې دنيا کي حق ومني نو د هغه تر منلو وروسته يې پر له پسې نورو ته هم د منلو نصيحت وکړي. د دين د همدې غوښتنې لپاره عموما د دعوت او تبليغ اصطلاح کارېږي، په قرآن کي چي د دې کوم قانون بيان شوی په هغه کي مومنانو ته د دوی د مختلفو حيثيتونو له وجې په جلا – جلا ډول مسئوليتونه سپارل شوي دي چي موږ يې تر لاندينيو عنوانونو لاندي بيانولای شو:

## د پيغمبر دعوت

دنيا ته چي د الله هر پيغمبر راغلی هغه د الله پر لور د دعوت او انذار و بشارت لپاره راغلی دی، په دوی کي د نبيانو انذار او بشارت د خاص وضاحت غوښتنه نه کوي مګر الله تعالی چي په نبيانو کي کوم کسان د رسالت مقام ته رسوي البته د هغوی په باره کي قرآن ويلي دي چي دوی ته امر شوی وو چي دا انذار پر خپلو قومونو د شاهدۍ تر حده ورسوي. د قرآن په اصطلاح يې معنا داده چي خلکو ته حق داسي واضح او ښکاره شي چي تر هغه وروسته هيڅوک ور څخه د مخالفت حق ونه لري. د دې شکل داسي وي چي الله دا رسولان د خپلې فيصلې د اظهار لپاره انتخابوي او بيا په همدې دنيا کي تر قيامت مخته د دوی



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

په وســيله يو کوچنی قيامت راولي، دوی ته ويل کيږي چي که له خدای سره پر خپله وعده ټينګ پاتي شول نو جزا به يې ورکړي او که يې سرغړونه وکړه نو په همدې دنيا کي به يې سزا ورکړل شي. د دې نتيجه دا وي چي د دوی وجود د خلګو لپاره يوه الهي نښــه ګرزي، ګواکي خدای له دوی ســره پر ځمکه ګرزي را ګرزي او د عدالت په کولو څار کوي. له دې ســره هغوی ته امر کيږي چي دوی په خپلو سترګو کوم حق ليدلی د هغه تبليغ وکړي او د الله تعالی هدايت له څه زيادت او کمبوت پر ته په پوره باور ســره خلګو ته ورسوي. همدا شهادت دی، د رسولانو په دعوت کي چي کله دا شاهدي له انذار، عامه ويرونې، حجت پوره کولو، هجرت او بې زارۍ له مراحلو څخه په تيرېدو پوره کيږي نو په دنيا او اخرت دواړو کي د الله تعالی د پريکړي بنياد ګرزي. الله دې رســولانو ته غلبه ورکوي او د هغوی د دعوت پر منکرينو په همدې دنيا کي خپل عذاب نازلوي.

## د ابراهيم عليه السلام د اولادې دعوت

دا دعوت هماغه شاهدي ده چي پورته يې يادونه وشوه قرآن ويلي چي الله تعالی د ابراهيم عليه الســلام اولاده هم د دې شــاهدۍ لپاره همداســي غوره کړې ده او د دې د تقاضــاوو پوره کولو لپاره يې هغوی ته د کوشش کولو امر کړی دی . په څه ډول چي له انسانانو څخه ځيني لوړ شخصيتونه د نبوت او رسالت لپاره انتخابوي.



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دابراهیم علیه السلام داولادې همدامسئولیت دی چې که د دې له مخې هغوی پر حق ولاړ وي او له څه زیادت او کمبوت پر ته یې په پوره باور سره د نړۍ ټولو قومونو ته ورسوي نو د هغه د نه منلو په صورت کې به الله تعالی دوی ته پر دې قومونو غلبه ورکړي او که له دې څخه مخ واړوي نو د هغوی په ذریعه به د ذلت او خوارۍ په عذاب اخته شي.

## د علماوو دعوت

تر نبي کریم صلی الله علیه وسلم وروسته د تبلیغ مسئولیت د دې علماوو ته سپارل شوی دی، الله تعالی ویلي دي چې د مسلمانانو له هرې ډلې دې یو څه خلک ولاړ شي، دین دې زده کړي او د خپل قوم لپاره دې د تبلیغ کوونکو په ډول کوشش وکړي چې هغوی د اخرت له عذابه وساتي.

له قرآن څخه ښکاري چې د دعوت په دې شکل کې باید حتما دې څو خبرو ته پام وشي:

اول دا چې کوم کسان د دې کار لپاره ملا تړي باید پر هغه پوره ایمان ولري، دوی چې خلکو ته هره خبره وړاندې کوي باید زړه او دماغ یې ورباندې داسې مطمین وي چې هغوی په خپله هم احساس کړي چې دا د دوی د زړه او روح اواز دی او تر خوله یې راوتلی دی. خپل ټول شخصیت خپل رب ته وسپاري او دې میدان ته راشي، خلک چې کوم شي ته را بولي د هغه په باره کې تر ټولو اول په خپله دا



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اعلان وکړي چې په پوره اخلاص او پوره باور سره یې وربانديي ایمان راوړی دی.

دویم دا چې په هیڅ ډول یې د قول او عمل تر منځ ټکر نه وي، دوی چې د کوم څه لپاره را پورته شوي وي تر هر څه اول یې په خپله ومني او خلک چې کوم دعوت ته را بولي نو د دوی عمل یې هم شاهدي ورکړي.

درېیم دا چې د حق په معامله کې له هیڅ ډول جوړ جاړي کار وانخلي، دوی ته چې د دین هر څومره کوچنی حقیقت معلوم شي هغه له زړه ومني، په ژبه یې شاهدي ورکړي او د ملامتی ویونکو له ملامتیا پرته یې بې له څه زیادت او کمبوت څخه د دنیا مخ ته کښېږدي.

څلورم دا چې قرآن د خپل تبلیغ ذریعه وګرزوي، قرآن رسول الله ته د همدې امر کړی دی او دی په همدې وجه د ټولې دنیا لپاره نذیر دی. علماء په حقیقت کې خلکو ته د ده همدا انذار رسوي.

## حکومتي دعوت

که مسلمانان د ځمکې په کومه برخه کې سیاسي خپلواکي ولري نو د هغوی مسئولیت دادی چې خپلو ځینو کسانو ته دا دنده وسپاري چې هغوی خلک د خیر پر لور را وبولي، له بدو یې را وګرزوي او د ښو نصیحت ورته وکړي. د حکومت تر جوړولو وروسته دا مسئولیت د مسلمانانو چارواکو ته راجع کېږي، پر هغو لازمه ده چې له حکومت



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

سره د ترړلو ټولو طبعي مسئولیتونو پر ادا کولو سربیره حتما خپل دا مسئولیت هم پوره کړي.

## فردي دعوت

په خپل شاوخوا او د عمل په دایره کي د هر سړي دعوت د نیکو کارونو نصیحت او له بدو را ګرزول دي، د دعوت په دې شکل کي دعوت کوونکی او را دعوتېدونکی جلا – جلا نه دي بلکي هر سړی چي څه ډول هر وخت یو دعوت کوونکی دی همدا ډول را بلل کېدونکی هم دی. دا مسئولیت باید پلار د زوی او زوی د پلار، ښځه د میړه او میړه د ښځې، ورور د خور او خور د ورور، ملګری د ملګري او ګاونډی د ګاونډي. لنډه دا چي هر سړی له ځان سره د ترړلي شخص لپاره پوره کړي، که دوی په کوم ځای کي وویني چي ځینو کسانو غلطه طریقه خپله کړې نو باید له خپل علم، استعداد او صلاحیت سره سم هغه ته د سمې لارې د خپلولو نصیحت وکړي. کېدای شي چي موږ سهار یو څوک کومې نېکۍ ته تشویق کړو او هماغه سړی ماښام زموږ لپاره دا خدمت ترسره کړي، نن موږ یو څوک له حق سره اشنا کړو او سبا یې هغه موږ ته سپارښتنه وکړي. لنډه دا چي هر وخت داسي کوم فرصت تر لاسه شي نو هر مسلمان باید د خپل عمل په دایره کي حتما دا کار وکړي.



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

## د دعوت طريقه

د دعوت دا طريقه له همدې شکل سره تړلې ده، قرآن هغه د ټولو اصولو دا اصل په ډول بيان کړې او لاندې درې ټکي لري:

اول دا چې بايد دعوت هميشه په ښه طريقه، حکمت، ښه استدلال او وعظ سره وي. مطلب دا چې دعوت کوونکی هره خبره بيانوي هغه د دليل، برهان، علم او عقل په رڼا کې وکړي او طريقه يې د حمله کوونکي او خوشکه کوونکي په څېر نه وي بلکې له خير خواهۍ او مينې و شفقت سره د توجو را اړوونکي په څېر وي. حتی که د بحث او مباحثې وار راشي نو د دې لپاره هم ښه طريقه خپله کړي، که يې په ځواب کې مقابل طرف په غوسه شي نو د هغه خښتې ته د ډبرې د ځواب پر ځای د حق داعي هميشه ښايسته او مناسبه طريقه خپله کړي.

دويم دا چې د داعي مسئوليت صرف تر دعوت پورې محدود دی يعنې دا چې خبره ورسوي، حق له هره اړخه واضح شي او په ترغيب و تشويق کې له خپلې خوا هيڅ کوتاهي و نه کړي. که هغه خپل دا مسئوليت په ښه طريقه ترسره کړ نو غاړې يې خلاصې شوې، د خلکو د هدايت او ګمراهۍ معامله الله تعالی په خپل لاس کې اخيستې ده، دی په هغه چا هم پوهېږي چې د ده له لارې اوښتی دی او هغه هم ور معلوم دي چې هدايت يې تر لاسه کړی دی. له هر چا سره به هغه معامله کوي چې حقدار يې وي، دعوت کوونکی بايد نه محافظ



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وي او نه بايد د خپلو مخاطبينو لپاره د جنت او دوزخ د فيصلو صادروونکی. دا ټولي مسئلې له الله سره تعلق لري، د حق د داعي مسئوليت صرف رسول دي او بايد له خپل دې مسئوليت څخه هيڅکله تېرى ونه کړي.

درېيم دا چي که د دعوت مخاطبين ظلم، تېري او ضرر رسولو ته ملا وتړي نو دعوت کوونکی بايد په اخلاقي حدودو کي په پاتېدو دومره بدله واخلي څومره چي تکليف ور رسول شوى دى. مګر د الله خوښه داده چي دى صبر وکړي، د صبر معنا داده چي د حق داعي هر تکليف وزغمي مګر د انتقام لپاره نه کوم اقدام وکړي او نه له سختيو او تکليفونو څخه په بيريدو په خپل دريځ کي بدلون او تغير ته چمتو شي. په داسي حالاتو کي له صبر کوونکو سره د ډېر لوى نعمت وعده شوې ده، د دوى لپاره به يې په دنيا کي هم نتيجه په ډېر ښه شکل ښکاره شي او که خداى وغوښتل نو په قيامت کي به يې هم ښه بدله ورکړي.



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(۶)

# د جهاد قانون

امن او ازادي د انساني تمدن شديد ضرورتونه دي، د فرد له بغاوت څخه د ساتنې لپاره يې تاديب او سزا تماکل شوې مګر که ولسونه بغاوت وکړي نو هر څوک پوهيږي چي پر خلاف يې د وسلې له پورته کولو پرته بله چاره نه شته. کله چي نصيحت او خبرې اغېز ولري نو هيڅوک به د وسلې پورته کول روا ونه بولي خو کله چي د يو ولس سرکښي او بغاوت دې حد ته ورسيږي چي په نصيحت او خبرو يې سمول امکان نه لري نو انسان حق لري چي پر خلاف يې وسله ور واخلي او تر هغه وخته ورسره وي چي په دنيا کي د امن او ازادۍ فضا نه وي واکمنه شوې. د قرآن خبره ده چي که د وسلې پورته کولو اجازه نه واى ورکول شوې نو د ولسونو بغاوت به تر دې حده رسېدلى واى چي د تمدن بربادي څه چي د عبادت ځايونه به وران شوي وو او هغه ځايونه به له خاورو سره خاوري واى چي اوس پکي شپه او ورځ د الله نوم ياديږي او د هغه عبادت کيږي.

په اسلامي شريعت کي جهاد* د همدې مصلحت لپاره ترسره

---

*جهاد په يوه کار کي د خپل ټول طاقت لګولو په معنا دى، په قرآن کي چي په څه ډول دا لفظ د الله په لار کي د عامو کوششونو لپاره استعمال شوى همدا راز د الله په لار کي د جګړې لپاره هم راغلى دى. دلته مو ترې دا دويمه معنا مراد ده.



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کېږي، جهاد نه د نفس د خواهش لپاره دی، نه د مال و دولت، نه د خاورې او پر ځمکه د حکومت نیولو، نه د شهرت، نوم، حمایت، غیرت، تعصب او دښمنۍ د جذبې سړولو لپاره. د انسان خپل غرضونه او ځان غوښتنه له دې جهاد او جنګ سره هیڅ تعلق نه لري، دا د الله جنګ دی چې د ده بندګان یې د ده په امر او د ده له هدایت سره سم د ده په لار کي ترسره کوي. په دې جنګ کي د دوی حیثیت صرف د وسایلو او اندامونو په شان دی، په دې کي هغوی خپل هیڅ مقصد نه لري بلکي د خدای مقاصد پوره کوي. له همدې وجې خپل دا هدف په هیڅ حالت کي نه شي پرېښودای، قانون یې دادی:

## ۱) د جهاد حکم

مسلمانانو ته په مجموعي ډول د جهاد او قتال امر شوی دی، په قرآن کي چې یې هر څومره ایاتونه راغلي مسلمانان یې په جلا – جلا ډول مخاطب نه دي، د حدودو او تعزیراتو په شان هغوی ته دې ایاتونو د اجتماع په ډول خطاب کړی دی ځکه نو په دې معامله کي د دوی اجتماعي نظم یا رسمي دولت دا قدام کولو حق لري. د هغوی هیڅ وګړی او یا ډله هیڅکله د دې حق نه لري چې د دوی له خوا د دا ډول اقدام کولو فیصله وشي.

## ۲) د جهاد مقصد



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

په قرآن کي دا حکم اصــلا د فتنې د ختمولو لپاره راغلی دی، د فتنې معنا داده چي يو څوک په ظلم او جبر سره له خپل دين څخه ديو چا د اړولو کوشــش کوي له همدې شــي څخه په انګريزي کي په (Persecution) تعبير کېږي. د ځان، مال، عقل او رايې پر خلاف د ظلم نور ټول شکلونه تر همدې لاندي دي، دا جهاد د ظلم او تېري د هر ډول پر خلاف ترسره کېدای شي.

## ۳) د جهاد فضيلت

پر مسلمانانو جهاد تر هغه وخته نه فرضېږي چي د دښمن په مقابل کي د دوی جنګي طاقت يوه خاص حد ته نه وي رســېدلی ځکه نو ضروري ده چي د جهاد او جنګ د دې مسئوليت د پوره کولو لپاره دوی نه يوازي د خپل اخلاقي وجود د قوي کولو کوشش وکړي بلکي خپل جنګي طاقت هم حتما هغې درجې ته ورسـوي چي قرآن د رســول الله په زمانه کي مسلمانانو ته د هغه وخت له حالت سره سم امر کړی وو او د دوی و دښمنانو تر منځ يې د يوه او دوو شميره ټاکلې وه.

## ۴) په جهاد کي شرکت

په جهاد کي عملا حصــه نه اخيســتل صــرف په هغه صــورت کي جرم دی چي يو مســلمان له عام اعلان ســره – ســره په کور کي ناســت وي، يقينا داسي کار په دې وخت کي د نفاق په څېر يو لوی جرم ګرزي که داسـي حالت نه وي نو جهاد يو فضـيلت دی چي بايد هر سړی يې د



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

تر لاسه کولو جذبه ولري خو درجه یې صرف د یوه فضیلت ده او له هغو فرایضو نه دی چې که پوره نه شي نو انسان مجرم ګرزي.

## ۵ ) له جهاد څخه تېښته

د جهاد او جنګ لپاره میدان ته تر ورتلو وروسته بې زړه توب او د تېښتي په ډول شا ګرزول حرام دي چې باید هیڅ مومن دا کار ونه کړي، دا د الله پر مرسته د نه باور، دنیا ته پر اخرت ترجیح ورکول او مرګ و ژوند له خپل تدبیر سره د منحصر بللو جرم دی چې له ایمان سره یې هیڅ امکان نه شي منل کېدای.

## ۶ ) اخلاقي حدود

جهاد له اخلاقي حدودو پرته نه شي ترسره کېدای، اخلاقیات په هر حال کي تر هر شي اول دي او الله تعالی د جنګ او جګړې پر مهال هم هیچا ته د هغو د ماتولو اجازه نه ده ورکړې. د دې حکم په ضمن کي چې قرآن تر ټولو کوم مهم هدایت بیان کړی دی هغه په وعده وفا کول دي، الله تعالی غدر او د وعدې ماتول تر ټولو بد ګناهونه بللي دي. له همدې وجې که کوم معاهد قوم له مسلمانانو سره ظلم هم کوي نو د معاهدې په مخالفت کولو له هغوی سره مرسته نه شي کېدای. همدا ډول که کوم کسان د جنګ پر وخت له یو وجې غواړي بې طرفه پاتي شي نو د هغوی پر خلاف هم د هیڅ ګام اخیستلو اجازه نه شته. جهاد ته د تلو پر وخت باید د تکبر او ریا طریقه خپله نه شي، تکبر او غرور



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

له هیڅ مومن بنده سره مناسب نه دی. باید د الله پر بندګانو د یوازیتوب او ګډوډوند په ټولو صورتونو کې د تواضع او خاکسارۍ حالت غوره‌ګڼلی وي.

## ۷) الهي مرسته

مسلمان دا جګړه د الله په توکل ترسره کوي خو قرآن ویلي دي چې په دې جنګ کې د الله د مرستې تر لاسه کولو لپاره تر ټولو ضروري شی صبر او ټینګښت دی. د مسلمانانو په یوه ډله کې تر هغه وخته د الهي نصرت لیاقت نه پیدا کېږي چې په ځان کې دا صفت پیدا نه کړي.

## ۸) جنګي بندیان

مسلمانان د جنګ بندیان هم خوشې کولای شي او هم ور څخه فدیه اخیستلای شي، مګر قرآن د هغوی د وژلو او یا مرییتوب امکان د تل لپاره ختم کړی دی.

## ۹) د غنیمت مالونه

د غنیمت مالونه په حقیقت کې د ټولنیزو یا اجتماعي کارونو لپاره دي، د الله له خوا په دې کې مجاهدینو ته کوم ابدي حق نه دی ورکول شوی چې د مسلمانانو حکومت به یې په هر حال کې په ورکولو مکلف وي، هغه چې خپل حالت او د تمدن ضرورت ته په پام کومه طریقه وغواړي په دې برخه کې یې عملي کولای شي.



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(۷)

# حدود او تعزیرات

دارادې او اختیار نعمت که له یوې خوا په دې دنیا کي د انسان لپاره تر ټولو لوی عزت دی له بلې خوا یې یوه لازمي نتیجه دا هم ده چي د بد استعمال له وجې یې ډېر وختونه په ځمکه کي فساد پیدا کېږي. په انساني تاریخ کي دا فساد تر ټولو اول د ادم علیه السلام د زوی قابل په لاس را منځ ته شو ځکه نو له همدې سره دا ضرورت پیدا شو چي باید د انسان له شر څخه په خپله د انسان د ساتنې لپاره یو تدبیر خپل شي الله چي د انسان فطرت ته کوم حقایق ور ښودلي وو د هغو په رڼا کي دا خبره بېخي ښکاره وه چي د دې یوازینۍ لاره تر جرم مخته د ماحول سموالی، ښوونه، روزنه، تبلیغ، نصیحت او تر جرم وروسته د سزا او جزا قانون دی. مګر دا سزا باید په کوم جرم کي څومره او په څه طریقه وي؟ څرنګه چي د دې د تشخیص لپاره انساني عقل کوم بنیاد نه لري له همدې وجې چي الله د خپلو نبیانو په واسطه انسانانو ته کوم شریعت ورکړی په هغه کي د ژوند له نورو مسایلو سره د ځان، مال، عزت او ټولنیز نظم په اړه د ټولو لویو جرمونو سزاوې په خپله ده ټاکلې دي. هغه جرایم دادي:

۱) جګړه او په ځمکه کي فساد

۲) مرګ ژوبله

۳) زنا



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۴) قذف

۵) غلا

په شریعت کي د همدې جرمونو سزاوې ټاکل شوې دي، تردې د کوچنیو شکلونو او له دې پرته د نورو ټولو جرمونو معامله الله تعالی د مسلمانانو چارواکو ته خوشې کړې ده. دوی چي په خپل منځي مشوره د دې معاملو لپاره کوم قانون وغواړي جوړولای یې شي البته دومره خبره په دې کي هم معلومه ده چي د قرآن له مخې د مرګ سزا له قتل او په ځمکه کي د فساد له جرم پرته په هیڅ جرم کي نه شي ورکول کېدای او دا خبره هم ټاکل شوې ده چي د دې جرایمو د سزا حکم مسلمانانو ته په انفرادي توګه نه بلکي د مسلمانانو ټولي معاشرې ته ورکول شوی دی ځکه نو د دوی له دولت او حکومت سره تعلق لري. دلته به د دې سزاګانو وضاحت بیان کړو:

## جګړه او په ځمکه کي فساد

که د الله رسول په دنیا کي موجود وي او خلک د هغه په حکومت کي د ده د کوم حکم یا فیصلې پر خلاف بغاوت وکړي نو دا له الله او رسول سره جنګ دی چي په ځمکه کي فساد هم بلل کېږي. دا د هغه صورت لپاره ویل کېدونکي الفاظ دي چي کوم شخص یا ډله له قانون څخه په بغاوت کولو د خلکو د ځان، مال، ابرو او عقل و نظر پر خلاف جګړه پیل کړي له همدې وجې چي کله قتل په تروریزم، زنا په جبر او غلا په ډاکه یا لوټمار واوړي، خلک بدکاري خپل کسب وګرزوي،



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

په ښکاره بدماشي پيل کړي، د خپلې سرکښۍ، بدماشۍ او جنسي بې لارۍ له وجې د عزتمنو خلکو د ابرو لپاره خطر وګرزي، د دولت پر خلاف بغاوت شروع کړي او يا د انسان تښتونو، تخريب، ويراچونې او دا ډول نورو لويو جرمونو په واسطه د حکومت لپاره د امن او ثبات مشکلات پيدا کړي نو هغوی په ځمکه کي د فساد مجرمين دي او د ځپلو او ټکولو لپاره يې دا څلور سزاوې ټاکل شوې دي:

۱) په عبرتناکه طريقه دي ووژل شي.

۲) په عبرتناکه طريقه دي په دار کړل شي.

۳) لاسونه او پښې دي يې بې ترتيبه پرې شي.

۴) له خپلې سيمې او وطن څخه دي وشړل شي.

د دې سزاوو په باره کي دا څو شيان د حدودو او شرايطو په ډول بيان شوي دي:

يو دا چي قرآن حکومت ته واک ورکړی چي د جرم شکل، د مجرم حالاتو او د جرم موجودو اغيزو ته په پام چي له دې سزاوو کومه يې مناسبه وبولي دغه ډول مجرمينو ته يې ورکولای شي. په عبرتناکه طريقه د قتل او په دار کولو له سزاوو سره يکي له سيمې د شړلو سزا د دې لپاره روا شوې چي که په سزا کي له ډېري سختۍ سره د حالاتو تقاضا وي نو له مجرم سره د نرمي کولو امکان هم موجود پاتي شي.

دويم دا چي که جرم په مشترک ډول ترسره شوی وي نو سزا به يې هم په انفرادي ډول نه بلکي د يوه ګروپ په شکل ورکول کېږي. له همدې وجې که د مجرمينو يوې ډلې په ځمکه کي د فساد په توګه د



www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

قتل، انسان تښتوني، زنا، ويجاړې، وير اچوني او دا ډول نور جرايم ترسره کړي وي نو دې تحقيق ته ضرورت نه شته چي په مشخص ډول کومو کسانو جرم کړی او کومو نه دی کړی؟ بلکي د هغې ډلې هر غړی به په دې مسئوليت کي شريک بلل کېږي او د همدې حيثيت له مخې به ورسره حتما معامله کېږي.

درېيم دا چي بايد دا ډول مجرمينو ته د سزا ورکولو پر مهال د هيچا په زړه کي له دوی سره د همدردۍ احساس پيدا نه شي. کوم رب چي د دوی خالق دی تر دا ډول جرايمو وروسته د هغه فيصله داده چي دوی دي په دې دنيا کي بالکل رسوا شي، د دې سزاوو مقصد همدا دی چي بايد په هر حال کي ورته پام وشي.

څلورم دا چي که دا ډول مجرمين د حکومت تر کوم اقدام مخته په خپله راشي او ځان قانون ته وسپاري نو بيا به د عامو مجرمينو په څېر معامله ورسره کېږي، په دې صورت کي به دوی د جګړې يا په ځمکه کي د فساد کولو مجرمين نه بلل کېږي.

## مرګ ژوبله

دا قصاص يو فرض دی چي د الله تعالى له خوا د مسلمانانو پر حکومت يا اجتماعي اداره واجب شوی، د معاشرې ژوند په همدې کي دی او دا د مسلمانانو لپاره د الله نازل کړی قانون دی چي يوازي ظالمان به يې مخالفت کوي ځکه نو د حکومت مسئوليت دادی چي که يې په سيمه کي کوم څوک ووژل شي نو د وژونکو درک يې معلوم



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کړي، ويې نيسي او له قانون سره سم قصاص ور څخه واخلي.

د قصاص په معامله کي بايد پوره مساوات پلی شي، له همدې وجې که کوم مريي قتل کړی وي نو په بدل کي به يې هماغه مريی او که ازاد قتل کړی وي نو په بدل کي به يې هماغه ازاد کس وژل کېږي. په دې معامله کي بايد د چا ټولنيز او اجتماعي مرتبه هيڅکله د ترجيح سبب نه شي.

په خپله دژوبل شوي او يا وژل شوي خپلوان که د نفس په بدل کي د نفس، د اندام په بدل کي د اندام او د ټپ په بدل کي د ټپ مطالبه ونه کړي او له مجرم سره نرمي کولو ته تيار شي نو محکمه د جرم ډول او د مجرم حالاتو ته په پام تر دې کمه سزا هم ورکولای شي. دا د الله تعالی له لوري له خلکو سره يو رعايت او پر هغوی يوه مهرباني ده. که يې له جرم څخه اغيزمن شوي کسان ومني نو د الله په حضور کي به يې دا درګزشت د ګناهونو کفاره شي.

په دې صورت کي به دژوبل او يا وژل شوي خپلوانو ته د مجرم له خوا ديت ورکول کېږي، الله ويلي دي چي هغه بايد د ټولنې له قانون سره سم په ډېر ښه ډول ورکړل شي.

که قتل په غلطۍ شوی وي او وژل شوی د اسلامي دولت مسلمان وګړی وي او يا د اسلامي دولت وګړی نه وي مګر له کوم معاهد قوم سره تعلق ولري نو پر قاتل لازمه ده چي که هغه ونه بخښل شو نو د ټولنې له قانون سره سم دي ديت ورکړي. د دې جرم د کفارې په بدل



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کي دي د خپل رب حضور ته توبه وباسي او له دې سره دې يو مسلمان مريیی هم ازاد کړي خو که وژل شوی د دښمن قوم يو مسلمان وي نو پر قاتل د ديت هيڅ مسئوليت نه شته، په دې صورت کي همدا بس ده چي د خپلې ګناه د بخښنې لپاره يو مسلمان مريیی ازاد کړي. که په دې دواړو صورتونو کي مريیی نه وي نو په بدل کي به يې دوې مياشتې پر له پسې روژه نيسي.

## زنا

زنا کوونکی نارينه وي او که ښځه د جرم ثابتېدو په صورت کي به د سلو درو سزا ورکول کېږي او دا سزا به د مسلمانانو د يوې ډلې په موجوديت کي وي چي د ده لپاره شرم او د نورو لپاره نصيحت شي. قرآن ويلي دي چي د مومنانو حکومت او محکمه بايد په دې معامله کي هيڅ نرمي ونه کړي، تر دې سزا وروسته بايد کوم پاک لمنی نارينه او يا ښځه له دې زاني او يا زانيې سره نکاح ونه کړي الله دا کار حرام کړی دی.

دا د دې جرم اخيري سزا ده او يوازي هغو مجرمينو ته به ورکول کېږي چي جرم يې په خپل وروستي شکل ترسره کړی وي او د خپلو حالاتو له وجې د هيڅ ډول رعايت حق ونه لري ځکه نو له دې څخه هغه کسان يقينا مستثنا دي چي د سزا توان نه لري، يا مجبور وي، له جرم څخه د ځان ساتنې ضروري چاپېريال نه وي، حالات يې مناسب نه وي او ځان نه شي خوندي کولای.



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# قذف

د دې دوه شکلونه دي: یو دا چې یو څوک په کومه عزتمنه او پاک لمنې ښځه یا نارینه د زنا تور ولګوي، دویم دا چې دا ډول معامله د میړه او مایني تر منځ پیښه شي. په لومړي صورت کي به هغه سړی حتما څلور عیني شاهدان راولي، که یې را نه وستل نو هغه به د قذف مجرم بلل کېږي او سزا یې داده چې دی به سل درې وهل کېږي او بیا به یې شاهدي په هیڅ معامله کي د قبول وړ نه وي. د قرآن وینا ده چې د دې جرم ترسره کوونکي به د الله په حضور کي فاسقان وبلل شي مګر که دوی له خپله جرمه توبه وباسي او په راتلونکي کي خپل ځان اصلاح کړي.

که په دویم صورت کي شاهدان نه وي نو د مسئلې فیصله به په قسم سره کېږي، شکل به یې داسي وي چې میړه به څلور ځله د الله په نوم د قسم په کولو وایي چې دی کوم تور لګوي په هغه کي صادق دی او پنځم وار به ووایي چې که دی په دې تور کي دروغجن وي نو پر ده دي د خدای لعنت وي. که یې په ځواب کي ښځه د هغه د قسم دفاع ونه کړي نو دې ته به د زنا هغه سزا ورکول کېږي چې د دې لپاره په شریعت کي ټاکل شوې، خو که دا تور ونه مني نو صرف په هغه صورت کي به له زنا څخه خلاصېږي چې څلور واره په الله قسم وکړي او ووایي چې دا شخص دروغجن دی او پنځم ځل ووایي که به دی رښتیا وایي نو پر ما دي د خدای غضب وي. دا معامله به په هغه



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وخت کي هم وي چي ماينه پر ميړه تور ولګوي.

## غلا

د دې سـزا لاس پرې کول دي، غل نارينه وي او که ښـځه د جرم ثابتېدو په صورت کي به يې د سزا په توګه راسته لاس له مړوند څخه پرې کېږي، د زنا په ډول دا هم د دې جرم اخيري سـزا ده او صـرف په هغه صـورت کي به ورکول کېږي چي مجرم د خپل جرم د نوعيت او خپلو حالاتو له مخې د هيڅ رعايت مستحق نه وي.

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(۸)

# خوراک او څښاک

دین له هره پلوه د انسـاني نفس پاکي غواړي ځکه یې نو تل پر دې ټینګار کړی چې د باطن له پاکوالي سـره باید د خوراک او څښـاک په شیانو کې هر وخت د پاکو او ناپاکو توپیر ته پام وشي. په دې معامله کې د انسـان فطرت عموما هغه ته سـمه لارښـوونه کوي او له څه شـک پرته فیصـله کوي چې څه شـی پاک او څه شـی ناپاک دی؟ هغه تل پوهېږي چې زمری، ګیدړه، فیل، کارغه، باز، شـاهین، مار، لړم او په خپله انسـان د خوراک شـی نه دی. هغه ته معلومه ده چې اس او خر د دسـترخوان د خوند لپاره نه دي د سپرلۍ لپاره پیدا شـوي دي. دوی د حیواناتو د بولو او مرداریو په نجاست هم ښه خبر دي، د نشیي شیانو د نجاسـت په درک کې هم د دوی عقل په عمومي ډول سـمې نتیجې ته رسېږي ځکه نو د خدای شریعت په دې معامله کې انسان اصلا د هغه د فطرت لارښوونې ته خوشې کړی دی.

کله – کله د انسـان دا فطرت مسـخ کېږي مګر په دنیا کې د انسـاني عاداتو مطالعه ښیي چې د دوی یو لوی شمیر عموما په دې معامله کې غلطي نه کوي ځکه نو شـریعت دا ډول شـیان خپله موضـوع نه ده ګرزولې. په دې برخه کې د شریعت موضوع صرف هغه حیوانات او له دوی سره تړلي شـیان دي چې د حلالوالي او حراموالي د فیصـلې لپاره یې یوازې د عقل او فطرت لارښوونه انسانانو ته ممکنه نه وه. خنځیر د



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

څارويو په ډول يو حيوان دی مګر د ځناورو په څېر غوښــه هم خوري نو ايا د خوراک حيوان وبلل شــي او که نه؟ که هغه حيوانات چې موږ يې په حلالولو خورو له حلالولو * پرته ومري نو بايد له هغو ســره څه وشــي؟ ايا د دې حيواناتو وينه د دوی د بولو او مرداريو په څېر نجســه ده او که به حلاله و پاکه بلل کېږي؟ که حيوانات د الله له نوم پرته د بل چا په نوم حلال شي نو ايا بيا به هم حلال وي؟ څرنګه چې د انسانانو لپاره د دې پوښــتنو ښــکاره او قطعي ځواب ســخت وو ځکه نو الله تعالی د خپلو نبيانو په وســيله ورته وويل چې خنځير، مړ ګه او د خدای له نوم پرته د بل چا په نوم حلال شــوی حيوان هم د خوراک لپاره پاک نه دی او انســانان بايد ځان ترې وســاتي. په قرآن کي چې د دې حکم کوم توضيحات راغلي هغه دادي:

١) پــه طبعي مرګ د مړه شــوي او پــه ناڅاپي مرګ د مړه شــوي حيوان تر منځ هيڅ توپير نه شــته دواړه په يوه ډول مردار دي. د کوم ځناور له خوا څيرې شــوی حيوان هم مردار دی مګر نه په هغه صــورت کي چې تر مړه کېدو وړاندي ذبح شي.

* دا د انبياء عليهم السلام را منځ ته کړی سنت دی او د اصطلاح په ډول چې د کومې معنا لپاره استعمالېږي هغه داده چې په يوه تيز شي حيوان زخمي شي او وينه يې په داسي ډول وبهېږي چې د وينو بهېدو له وجې ومري. د حيوان د وژلو په همدې شکل سره د هغه غوښه د وينې له مردارۍ څخه په پوره ډول پاکېږي.



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۲ ) که پالل شوی حیوان ښکار وڅیري او ښکار تر حلالولو مخته ومري نو د هغه له خوا څیرل یې ذبح ده ځکه نو له حلالېدو پرته خوړل کېدای شي مګر د دې لپاره ضروري ده چي د خپل مالک لپاره یې ونیسي. که هغه حیوان یو څه خوراک ترې کړی وي نو ښکار یې روا نه دی.

۳ ) هغه حیوان هم حرام دی چي په کوم دربار کي حلال شوی وي، پر کومه ذبیحه چي د غیر الله نوم نه وي یاد شوی خو د الله نوم یې هم پرې نه وي یاد کړی هغه هم تر دې لاندي دی. دا معامله د هغې ذبیحې او ښکار هم ده چي د الله نوم پرې واخیستل شي مګر نوم اخیستونکی الله تعالی نه مني او یا یې مني مګر د خدایانو په ډله کي یې د یوه لوی رب په شکل مني او شرک یې اصلا خپل دین ګرزولی وي.

۴ ) له دې حرامو شیانو څخه یوازي د مجبورۍ حالت استثنا دی او هغه هم په داسي ډول چي دا نه د انسان غوښتنه وي او نه تر ضرورت تېری کوي.

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# رواجونه او اداب

دانســان د نفس پاکي چي د اوســيدو له کومو طريقو او د تمدن له کومو نښــو معلومېږي هغو ته موږ په اصــطلاح کي رواجونه او اداب وايو. د انســاني ټولنې هيڅ وخت له دې رواجونو او ادابو خالي نه دی پاتي شــوی، موږ يې په هره قبيله، هر قوم او هر تهذيب کي په يوه ډول مروج او د يوه عمومي دســتور په شــکل جاري وينو. قومونه او ملتونه د يوه بل په مقابل کي تر ډېره په همدې پېژندل کېږي، انبياء عليهم الســلام چي کوم دين راوړی هغه هم خپل منونکي په ځينو رواجونو او ادابو مکلفوي. د دين مقصــد د نفس پاکي ده ځکه نو د دين دا رواجونه او اداب هم دې مقصــد ته په پام ټاکل شــوي دي، لاندي همدا رواجونه او اداب بيانوو:

۱) د الله له نوم سره په راسته لاس خوراک او څښاک کول.

په دې کي لومړی شــی د الله د نعمتونو منل، اقرار او په هغو کي د برکت د دعا لپاره دی او دويم تل د دې حقيقت د ياد ســاتلو لپاره دی چي د قيامت په ورځ به د جنت نعمتونه کومو کسانو ته ورکول کېږي هغوی به خپلې عملنامې په راسته لاس نيسي.

۲) له يوه بل سره د مخامخ کېدو پر وخت السلام عليکم او د هغه ځواب.

۳) د پرنجي پر وخت الحمدلله او په ځواب کي يې يرحمک الله.



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۴ ) د بریتونو کوچني کول.
۵ ) تر نامه لاندي ویښتان اخیستل.
۶ ) د بغلونو د ویښتانو پاکول.
۷ ) د لویو نوکانو پرې کول.
۸ ) د هلکانو سنتي کول.
۹ ) د پزې، خولې او غاښونو پاکول.
۱۰ ) استنجا.
۱۱ ) تر حیض او نفاس وروسته غسل کول.
۱۲ ) د جنابت غسل.
۱۳ ) د مړي غسل، کفن او ښخول.
۱۴ ) د کوچني او لوی اختر میلې کول.


"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(۱۰)

# قسم او د هغه کفاره

په دین کي قسم ډېر اهمیت لري، د وعدې پوره کول د اسلام له اصلي اخلاقو څخه دي چي قسم دا وعده په اخیري درجه کي ټینګوي. مسلمان چي کله پر خپله کومه اراده، نیت او یا وعده د الله قسم کوي نو ګواکي خپل رب او د جهانیانو پاچا پر خپله دې خبره شاهد ګرزوي. د قسم له دې اهمیت سره – سره ډېر وختونه داسي پېښېږي چي انسان خپل قسم نه شي پوره کولای او یا هغه فکر کوي چي په دې سره به د الله یا د ده خپل او یا نورو کوم حق تر پښو لاندي شي. په دې صورت کي قسم ماتېدای شي بلکي په ځینو صورتونو کي د قسم ماتول د دین او اخلاقو له مخې ضروري وي. د دې لپاره په شریعت کي د کفارې طریقه ټاکل شوې چي حکم یې دادی:

۱) ځیني وختونه قسم بېخي چټي، بې معنا او بې مفهومه وي. په دې کي شک نه شته چي مومن بنده باید له دې څخه هم ځان وساتي مګر دا پر خپلو بندګانو د الله تعالی بې حسابه پېرزوینه ده چي پر دا ډول قسمونو به په دنیا او اخرت کي کومه سزا ورنه کړي.

۲) د دې بر خلاف که قسم له پخې ارادې سره او د زړه له اخلاصه شوی وي په وسیله یې کومه وعده او تړون شوی وي، پر حقوقو او مسئولیتونو اثر ولري او یا د خدای پر کوم تحلیل او تحریم اغېز درلودای شي نو پر دې به حتما الله ورسره حساب وکړي. له همدې



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وجې باید انسان د قسم په معامله کې هیڅکله بې پروا او غافل نه شي بلکې په کار ده چې په پوره مسئولیت سره یې ساتنه وکړي.

۳) که د دا ډول قسم ماتولو ته د ضرورت له وجې اړتیا شي نو ضروري ده چې کفاره یې ورکړل شي، طریقه یې داده چې قسم کوونکی لسو مسکینانو ته د هغه معیار خوراک ورکړي چې په عمومي ډول یې خپلې کورنۍ ته ورکوي یا دوی ته جامې ورکړي او یا یو مریی ازاد کړي. که په دې شیانو کې هیڅ ونه لري نو درې ورځې به روژه نیسي.

دژباړې پای

۲۰۱۵ / ډسمبر / ۱۴

هرات – افغانستان

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org



"All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

المورد

د علم او څېړنې اداره